﴿جميع حقوق الطّبع محفوظة﴾

**الكتاب**: اعانة الاسير لفهم كتاب الله الكبير

**المؤلّف**: علّامه مفتى مجتبى عامر صاحب حفظه الله تعالى

**الكاتب** : المتعلّم الأحقر ابوذر بن مولانا دلبرشاه ـ عفاالله عنهما ـ

**الطّبعة**: الأولٰى ، ١٤٤٢ هـ ـ ٢٠٢١ م

**ناشر**

مكتبة الجواهر سليم خان صوابى

ولقد يسّرنا القران للذّكر فهل من مدّكر

تعلّموا القران وعلّموه فإنّي امرءٌ مقبوضٌ (الحديث)

# اعانة الاسير

## لفهم

# كتاب الله الكبير

يعنى

**دقران كريم د ترجمې**

**قاعده**

د عوامو ، سكوليانو ، كالجيانو ، هلكانو جينكو دپاره په آسانه طريقه د قران مجيد د ترجمې زده كولو لنډه قاعده .

**ليكونكې**

حضرت العلّامة مولانا مفتى مجتبى عامر بن عبد المتين عفا الله عنهما وعن جميع المسلمين والمسلمات

**خورونكى**

مكتبة الجواهر مدرسه جواهر القران ، سليم خان صوابى ، خيبر پختونخواه پاكستان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# الرّحمن علّم القران

# خلق الانسان علّمه البيان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# یا علیّ تعلّم القران وعلّمه

# فانّ کان متّ علی هذا متّ شهیدًا

## ډیر په مینه ډالئ کوم

خپل عظیم مربّی ،

عظیم محدّث ، فناء فی الله

چې به چا هم غلطه ترجمه اوکړه

نو ډیر به غصه شو چې دوئ ولې لږه خواری

نه کوی ځما مراد سلطان المحدّثین د قاری مسیح الله

او قاری احسان الله حقیقی او ځمونږ د ټولو روحانی پلار

شیخ الحدیث مولانا **محمّد یار بادشاه** صاحب روح ته ډیر په خلوص او محبت ډالئ کوم .او هغه محنتیانو خواری کښنو عالمانو ته چی هغوئ د سکولیانو کالجیانو سره د قران د ترجمې خواری

کوی.او هغه سکولیانو او کالجیانو هلکانو اوجینکو

ته چې هغوئ سره د انګریزی تعلیم نه د قران

لمن نه پریږدی او د خپل ایمان اوبه

خور پرې کوی . ته په مینه

ډالئ کوم . الله تعالیٰ دِ

قبول کړی اٰمین .

# ﴿فهرست﴾

ډیره په مینه ډالۍ کوم --------------------.Error! Bookmark not defined

د اول چاپ سر لیک ------------------------------------------------23

د قران کریم سره زیاتې ---------------------------------------------30

د پردو نه څه ګیله---------------------------------------------------33

د قران کریم معنی زده کول د قران په رنړا کښې---------------------------36

د قران د پوهې باره کښې احادیث مبارکه-----------------------------------42

د لویو لویو عالمانو اقوال----------------------------------------------45

(۱) امام شاه ولی الله دهلوی رحمة الله علیه فرمائی-------------------------45

(۲) شاه عبد القادر محدث دهلوی رحمة الله علیه فرمائی ---------------------46

(۳) نواب صدیق حسن خان فرمائی ------------------------------------------47

(۴) ماهر القادری ذکر کوی -----------------------------------------------47

(۵) حکیم الامت شاه اشرف علی تهانوی ذکر کوی----------------------------48

په ترجمه کښې احتیاط-------------------------------------------------48

په پختون قوم د ربّ احسان د پنج پیر شیخ القران---------------------------48

اول/۱ سبق-----------------------------------------------------------49

د قران تعریف --------------------------------------------------------49

د قران معنی----------------------------------------------------------50

د قران مجید د زده کولو نیت-------------------------------------------50

غلط نیت ------------------------------------------------------------50

د قران مجید د زده کړی اداب-----------------------------------------50

دویم/۲ سبق ---------------------------------------------------------51

ځنې باطنی اداب د قران کریم-----------------------------------------51

اول/۱ سبق---------------------------------------------------------53
دویم/۲ سبق ---------------------------------------------------------54
مفرد ---------------------------------------------------------54
مُرَکَّب---------------------------------------------------------54
فائده---------------------------------------------------------55
دریم/۳ سبق ---------------------------------------------------------55
اِسم ---------------------------------------------------------56
د اسم نخې---------------------------------------------------------56
فعل ---------------------------------------------------------56
د فعل د پېژندګلو نخې ---------------------------------------------------------57
حرف ---------------------------------------------------------58
څلورم/۴ سبق---------------------------------------------------------58
پنځم سبق---------------------------------------------------------60
اسمِ ضمیر---------------------------------------------------------60
ضمیر---------------------------------------------------------60
ضمیر شان ---------------------------------------------------------62
شپږم سبق ---------------------------------------------------------62
د ټکو معنی---------------------------------------------------------64
اووم سبق---------------------------------------------------------64
ضمیر د مخاطب او متکلم ---------------------------------------------------------64
فائده اهمه---------------------------------------------------------65
اتم سبق ---------------------------------------------------------65
دا ضمیرونه په اسم او حرف پسې---------------------------------------------------------65

د ګرانو ټکو معنی------------------------------------------------------66

نهم سبق------------------------------------------------------66

د اِنَّ او اَنّ وغيره روستو ضميرونه ------------------------------------------66

لسم/۱۰ سبق------------------------------------------------------67

د اِيَّا نه روستو ضميرونه------------------------------------------67

يولسم/۱۱ سبق------------------------------------------------------68

اسمِ ظاهر ------------------------------------------------------68

اسمِ مصدر ------------------------------------------------------68

دولسم/۱۲ سبق ------------------------------------------------------71

اسمِ مشتق ------------------------------------------------------71

ديارلسم سبق------------------------------------------------------74

اسمِ مفعول------------------------------------------------------74

څوارلسم سبق------------------------------------------------------75

صفتِ مشبهه------------------------------------------------------75

پنځلسم سبق------------------------------------------------------77

اسمِ تفضيل ------------------------------------------------------77

شپاړلسم سبق ------------------------------------------------------79

اسمِ مبالغه------------------------------------------------------79

اوولسم سبق ------------------------------------------------------80

اسمِ ظرف------------------------------------------------------80

اتلسم سبق ------------------------------------------------------81

اسمِ جامد ------------------------------------------------------81

نورلسم سبق------------------------------------------------------83

الّذی ، الّذین ، الّتی وغیره ---------- 83
شلم سبق---------- 85
هذا ، ذالک ، اولئک وغیره---------- 85
یوویشتم سبق ---------- 87
مَنْ او مَا---------- 87
دوه ویشتم سبق---------- 90
د من دون الله معنی---------- 90
دیریشتم سبق---------- 92
فعل---------- 92
د زمانې قسمونه---------- 93
نفی او اثبات---------- 93
معروف او مجهول---------- 94
لازم او متعدّی---------- 94
څلیریشتم سبق ---------- 95
فعل ماضی ---------- 95
پنځویشتم سبق ---------- 96
د ماضی معلوم د غائب صیغو بیان---------- 96
شپږیشتم سبق---------- 100
د ماضی معلوم د حاضر او متکلم بیان---------- 100
د متکلم صیغې---------- 101
اوویشتم سبق---------- 102
د ماضی منفی بیان---------- 102
اته ویشتم سبق ---------- 104

د ماضی مجهول بیان---------------------------------------------- 104
یوکم دیرشم سبق---------------------------------------------- 106
د ماضی نور قسمونه---------------------------------------------- 106
(۱) ماضی قریب ---------------------------------------------- 106
(۲) ماضی بعید---------------------------------------------- 106
(۳) ماضی استمراری---------------------------------------------- 107
(۴) ماضی احتمالی ---------------------------------------------- 107
(۵) ماضی تمنّائی---------------------------------------------- 107
دیرشم سبق---------------------------------------------- 108
د حال او استقبال (مضارع) بیان ---------------------------------------------- 108
علامات د مضارع ---------------------------------------------- 108
یو دیرشم سبق ---------------------------------------------- 112
د مضارع منفی بیان---------------------------------------------- 112
دوه دیرشم سبق ---------------------------------------------- 114
د مضارع مجهول بیان ---------------------------------------------- 114
درې دیرشم سبق---------------------------------------------- 115
لام د تاکید او نون---------------------------------------------- 115
څلور دیرشم سبق ---------------------------------------------- 117
لَنْ نافیه تاکیدیّه---------------------------------------------- 117
پنځه دیرشم سبق---------------------------------------------- 118
لَمْ نافیه جحدیّه ---------------------------------------------- 118
شپږ دیرشم سبق ---------------------------------------------- 120
د فعل د مفعول وغیره بیان---------------------------------------------- 120

مفعول فيه ---------------------------------------------------------- 121
مفعول له ---------------------------------------------------------- 122
مفعول مطلق---------------------------------------------------------- 122
مفعول معه ---------------------------------------------------------- 123
اووه ديرشم سبق ---------------------------------------------------------- 124
كَانَ په مضارع (ماضی استمراری) ---------------------------------------------------------- 124
اته ديرشم سبق---------------------------------------------------------- 125
د فعل امر بيان---------------------------------------------------------- 125
امرِ حاضر معلوم ---------------------------------------------------------- 125
امر حاضر مجهول---------------------------------------------------------- 127
نهه ديرشم سبق ---------------------------------------------------------- 128
د امر غائب او متكلم بيان---------------------------------------------------------- 128
څلويښتم سبق ---------------------------------------------------------- 130
د فعل نهی بيان ---------------------------------------------------------- 130
يو څلويښتم سبق ---------------------------------------------------------- 133
د فعل تعجّب بيان ---------------------------------------------------------- 133
دوه څلويښتم سبق ---------------------------------------------------------- 134
د نِعْمَ او د بِئْسَ بيان ---------------------------------------------------------- 134
خاتمه د بحث د فعل د ځنو فعلونو په معنی کښې---------------------------------------------------------- 135
درې څلويښتم سبق ---------------------------------------------------------- 135
لِنَعْلَمَ ، لِيَعْلَمَ اللهُ د معنې وضاحت ---------------------------------------------------------- 135
څلور څلويښتم سبق---------------------------------------------------------- 137
د مضارع نه استقبال جوړونکی څيزونه ---------------------------------------------------------- 137

پنځه څلويښتم سبق ---------------------------------------------------- 139
د مضارع نه د حال جوړونکی څیزونه ------------------------------------ 139
شپږ څلويښتم سبق---------------------------------------------------- 140
مضارع نه ماضی جوړونکی څیزونه-------------------------------------- 140
اووه څلويښتم سبق --------------------------------------------------- 142
ماضی په معنی د مضارع ----------------------------------------------- 142
اته څلويښتم سبق---------------------------------------------------- 144
د مَا كَانَ استعمال په قران کښې ---------------------------------------- 144
نهه څلويښتم سبق --------------------------------------------------- 147
د اَلَمْ تَرَ د معنې بيان------------------------------------------------ 147
پنځوستم سبق------------------------------------------------------- 150
اَرَأيْتَ ، أَرَأَيئتُكُمْ------------------------------------------------------ 150
يو پنځوستم سبق ---------------------------------------------------- 151
فعل او د هغه رشته--------------------------------------------------- 151
دوه پنځوستم سبق --------------------------------------------------- 153
كَذَبَ او كَذَّبَ ، اَنْزَلَ او نَزَّلَ ، اِسْتَنْصَرَ -------------------------------- 153
كَذَبَ ------------------------------------------------------------ 154
نَصرَ اِسْتَنْصرَ------------------------------------------------------ 154
قَتَلَ قِتَال------------------------------------------------------------ 155
نَصرَ او تَنَاصرَ ------------------------------------------------------ 155
كَسَبَ او اِكْتِسَاب --------------------------------------------------- 155
درې پنځوستم سبق--------------------------------------------------- 156
قاعده د عبادت------------------------------------------------------ 156

څلور پنځوستم سبق -------------------------------------------------- 158
د کَانَ ، یَکُوْنُ بیان -------------------------------------------------- 158
پنځه پنځوستم سبق -------------------------------------------------- 159
د عَسی او کَادَ بیان-------------------------------------------------- 159
شپږ پنځوستم -------------------------------------------------- 160
واقعه پخوانئ په صیغه د امر -------------------------------------------------- 160
اووه پنځوستم سبق -------------------------------------------------- 162
د لَا اُقْسِمُ بیان-------------------------------------------------- 162
اته پنځوستم سبق-------------------------------------------------- 163
د حرف بیان-------------------------------------------------- 163
نهه پنځوستم سبق -------------------------------------------------- 164
باء ، علی ، اِلی ، فِی ، مِنْ ، عَنْ ، لَام-------------------------------------------------- 164
باء-------------------------------------------------- 164
عَلی-------------------------------------------------- 165
اِلی-------------------------------------------------- 166
فِی-------------------------------------------------- 167
مِنْ-------------------------------------------------- 167
عَنْ-------------------------------------------------- 168
لام-------------------------------------------------- 169
شپیتم سبق-------------------------------------------------- 170
اِنّ ، اَنّ ، لَعَلَّ ، لَیْتَ ، لکِنَّ ، کَأَنَّ-------------------------------------------------- 170
اِنَّ اَنَّ -------------------------------------------------- 170
لَعَلَّ -------------------------------------------------- 171

لَيْتَ ---- 172
لكِنَّ ---- 172
كَأنَّ ---- 173
اِنَّمَا ---- 173
يو شپیتم سبق ---- 174
کَاف ، كَذَالِكَ ---- 174
كَذَالِكَ ---- 174
دوه شپیتم سبق ---- 175
همزه ، هَلْ ---- 175
هَلْ ---- 177
درې شپیتم سبق ---- 178
اِنْ ، لَوْ ، اَمَّا ، لَمَّا ---- 178
اِنْ ---- 178
لَوْ ---- 179
اَمَّا ---- 181
لَمَّا ---- 181
اِذَا ---- 182
څلور شپیتم سبق ---- 183
هَا ، اَلَا ، لَوْلَا ---- 183
هَا ---- 183
اَلَا ---- 183
لَوْلَا ---- 183
پنځه شپیتم سبق ---- 185

واو او تاءِ قسم ، كَلّا ------------------------------------------------ 185
واو او تاء د قسم ------------------------------------------------ 185
كَلَّا ------------------------------------------------ 186
شپږ شپیتم سبق ------------------------------------------------ 187
واو فاء ثُمّ ، حَتّى ، بَلْ ، اَوْ ، اَمْ ، اِمَّا ------------------------------------------------ 187
واو ------------------------------------------------ 187
فاء ------------------------------------------------ 188
ثُمَّ ------------------------------------------------ 189
حَتّى ------------------------------------------------ 191
بَلْ ------------------------------------------------ 191
بَلى ------------------------------------------------ 191
اَوْ ------------------------------------------------ 192
اَمْ ------------------------------------------------ 192
اِمَّا ------------------------------------------------ 193
اووه شپیتم سبق ------------------------------------------------ 194
غَيْرُ ، اِلَّا ------------------------------------------------ 194
غَيْرُ ------------------------------------------------ 194
اِلَّا ------------------------------------------------ 195
اته شپیتم سبق ------------------------------------------------ 196
قَد ، سين ، سوف ، تنوين ------------------------------------------------ 196
قَدْ ------------------------------------------------ 196
سين وسوف ------------------------------------------------ 196
تنوين ------------------------------------------------ 197

نهه شپیتم سبق ------------------------------------------- 197
مرکّب------------------------------------------------- 197
د مرکّب قسمونه ----------------------------------------- 197
(۱) مرکّبِ مفید------------------------------------------ 198
(۲) مرکّبِ ناقص------------------------------------------ 198
اویایم سبق--------------------------------------------- 199
معرفه او نکره------------------------------------------- 199
د معرفې قسمونه---------------------------------------- 199
یو اویایم سبق------------------------------------------ 201
د مرکب ناقص قسمونه ---------------------------------- 201
مرکب اضافی------------------------------------------- 201
دوه اویایم سبق----------------------------------------- 203
مرکب توصیفی ----------------------------------------- 203
درې اویایم سبق---------------------------------------- 205
مرکب تعدادی ، مرکب بدلی ----------------------------- 205
څلور اویایم سبق---------------------------------------- 206
مرکب تاکید او مرکب د جار مجرور نه -------------------- 206
پنځه اویایم سبق---------------------------------------- 207
د جملې بیان ------------------------------------------- 207
جمله خبریه--------------------------------------------- 207
د جملې خبریې قسمونه --------------------------------- 208
اسمیه ------------------------------------------------- 208
شپږ اویایم سبق ---------------------------------------- 210

جمله فعليه---------------------------------------------------- 210
اووه اويايم سبق---------------------------------------------------- 212
د جملې انشائيى بيان---------------------------------------------------- 212
اته اويايم سبق---------------------------------------------------- 215
قانون د حصر ---------------------------------------------------- 215
د حصر كولو طريقى---------------------------------------------------- 215
يو قانون د حصر---------------------------------------------------- 217
د حصر قسمونه---------------------------------------------------- 217
نهه اويايم سبق---------------------------------------------------- 219
تاكيد او تاسيس---------------------------------------------------- 219
اتيايم سبق ---------------------------------------------------- 220
التفات---------------------------------------------------- 220
يو اتيايم سبق---------------------------------------------------- 222
اسلوب الحكيم---------------------------------------------------- 222
دوه اتيايم سبق ---------------------------------------------------- 223
حقيقت ، مجاز ، كنايه---------------------------------------------------- 223
درې اتيايم سبق ---------------------------------------------------- 224
زيادت او حذف په قران كښې---------------------------------------------------- 224
څلور اتيايم سبق---------------------------------------------------- 225
د فعلونو صلې ---------------------------------------------------- 225
پنځه اتيايم سبق ---------------------------------------------------- 226
مُرادِف او مُشترَک ---------------------------------------------------- 226
شپږ اتيايم سبق---------------------------------------------------- 227

د وقفونو بيان ---------------------------------------------------------- 227

اووه اتيايم سبق ----------------------------------------------------------- 228

أُذْكُرُوْ اللهَ او سُبْحَانَ اللهِ ------------------------------------------------------ 228

سبحان الله ---------------------------------------------------------------- 229

اته اتيايم سبق ------------------------------------------------------------ 229

**﴿د مینی نه ډکـ ټکی د محترم قیدی ورور مفتی هارون الرّشید۔فکّ اللّٰه اسره۔ کالوخان صوابی﴾**

الحمد لله الّذی انزل علی عبده الکتاب ولم یجعل لّه عوجًا ، وصلّی اللّٰه علی نبیّنا محمدِ ﷺ المجتبی وعلی اله المرتضی .

گر تو میخواہی مسلماں زیستن

نیست ممکن جُز بقرآن زیستن

**بعد الحمد والصّلوة** :- اللّٰه ربّ العالمین د انسانانو د هدایت دپاره دنیا کښې قران رالیږلې دې . هغه خلق چې هغۀ به اللّٰه په بت خانو کښې لټولو د نمر نه ئې اله جوړ کړې وو چا د ستورو نه ، هغۀ ته قران خپل حقیقی اله وښودلو انسان چې هدایت حاصلول غواړی نو صرف قران د ده رهنمائی کولې شی لکه قران پخپله خپل بیان کوی : انّ هذا القران یهدی للّتی هی اقوم ، مسلمان چې حقیقی مسلمان جوړیدل غواړی نو د قران نه بغیر دا ناممکن ده هسی رواجی مسلمان به وې لیکن د روح او حقیقت د اسلام نه به ناخبر وی نو هر وخت په داسی مسلمان خطره د ارتداد او نورو فتنو کښې د مبتلا کیدو ده . (اللّٰه دِ مونږ محفوظ کړی . امین) صحابه رضی اللّٰه عنهم په قران جوړ شوی مسلمانان وو . نو د هر هسم فتنو نه محفوظ وو . که نن هم مسلمانان خپل ایمان جوړول غواړی نو قران هغه مسلمانان تیارولې شی چی کفار به تری د میاشتو په فاصله په رعب او یره کښې وو . د ایمان کمال ته د رسیدو یوه ذریعه په قران ځان پوهه کول دی . هم په دی سلسله کښې زما استاذ محترم اسیر

الاسلام علامه مفتي مجتبی عامر حفظه الله وانجاه د قران د زده کولو دپاره داسی طریقه باندی د عربي ژبې قواعد راجمع کړی دی چې په داسی آسانه او عام فهم طريقه به كيدې شی چې بل چا نه وی راجمع کړی . حضرت مفتي صاحب ما ته حکم وکړو چې ليکل درلیږم دا وګوره او که څه مفيد تجاويز او مشوره ستا په ذهن کښې وی نو هغه تجاويز وليکه او راوليږه . او مفتي صاحب اووئيل چې بس يو څو صفحی مطالعه کړه او بيا ئې راوليږه . خو چې ما کتل شروع کړل نو الحمد لله دومره ښائسته او دلکش وو چې په بالاستيعاب مطالعه کولو ئی مجبوره کړم او اکثر صفحی مې بار بار مطالعه کړی . حضرت مفتي صاحب ماته وفرمائيل چې دا مې عوامو دپاره ليکلی دی چی د قران ترجمه پرې ورته آسانه شی . په دی وجه حضرت مفتی صاحب بالکل عوامی انداز کښې د ليکلو کوشش کړې دې چی چا ته د نه پوهيدلو عذر پاتی نشی او هر کس تری فائده واخلی . الحمد لله انداز د کتاب ډير زيات آسان دې . او مفيد خو دومره دې چې د عوامو نه علاوه طلباء او علماء به تری زياته فائده حاصله کړی . ځکه چی اکثر زمونږ طلباء هم په رواجی ترجمه اکتفاء کوی . او قواعدو ته ډيره توجه نه ورکوی . عوامو ملګرو ته درخواست دې چی د دی کتاب نه فائده واخلی او د قران د صحيح ترجمی زده کولو پوره کوشش وکړی . ان شاء الله د دې کتاب په شائع کيدلو به د ترجمی د زده کړی په ماحول کښې موسمِ بهار راشی خو په دې شرط چې د ايزده کولو کوشش وکړی ورنه :

در بہارا کے شود سر سبز سنگ

خاک شوتا گل بروید رنگ رنگ

ماته حضرت مفتی صاحب د تجاویزو لیکلو امر کړې وو خو چې ما کتاب مطالعه کړو نو زه به دا اووایم چی :

ما لِ هذا الکتاب لا یغادر صغیرةً ولا کبیرةً الّا احصـها .

زما د وئیلو پکښې څه هم نه دی پاتی . خو د مفتی صاحب د امر پوره کولو دپاره مې خپل مختصر تأثر ولیکلو او په آخر کښې به دعائیه کلمات مختصر ولیکم .

اې الله ربّ العالمین ! نیمه شپه ده ټول ملګری اوده دی یو ته هغه ذات ئی چی لا تأخذه سنةٌ ولا نومٌ دِ صفت دې . الله مونږ د زندان د تورو تیارو نه خلاص کړه . الله مونږ د قبر د تیارو نه بچ کړه . الله مونږ د میدان محشر د سختی نه محفوظ کړه . الله د مفتی صاحب دا محنت په خپل دربار کښې داسی قبول کړه لکه څنګه چی تا د خپلو مقرّبینو او مقبولینو بندګانو د قران دپاره کړی محنتونه قبول کړی دی ، الله دا کتاب د مفتی صاحب د والدینو ، اساتذه ، اقاربو ، متعلقینو ، محبّینو ، محبوبینو او معتقدینو دپاره په قبر او قیامت کښې ذریعه د نجات وګرځوه .

الله ! مدرسه جواهر القران سلیم خان دینی مرکز وګرځوه ، استاذانو او طالبانو ته ئی اخلاص د تقوی نصیب کړه ، الله محنتونه او سترې ئې په خپل دربار کښې مقبول وګرځوه ، الله د مدرسه جواهر القران

ټول ضرورتونه د خپلو خزانو نه پوره کړه . الله د ټولو دینی مدارسو ، مراکزو حفاظت وکړه ، الله چې څوک هم ستا د دین او کتاب خدمت کوی که په هره شعبه کښې دې اخلاص ئی نصیب کړه او خدمتونه ئې قبول کړه ، الله زما والدین ، رونړه خویندی ، بی بی ، او بچی ، رشته داران د خپل دین خادمان وګرځوه ، الله ما د والدینو په ژوندانه د قید نه د هغوی د خدمت دپاره آزاد کړه . الله کتونکو د دی کتاب هم ټول حاجتونه پوره کړه . الله مونږ په خپل کتاب پوهه کړه . امین یا ربّ العالمین ، اللّٰهُمَّ انّا نسئلک من خیر ما سئلک منه نبیّک محمد صلّی الله علیه وسلّم . امین .

معذرت : په سبق ۲۳ کښې مِ قاعده ۱ ، ٦ ته مثال ولیکلو صرف په دې نیت چې زما هم په کتاب کښې حصه وشی . خو بیا هم د بې ادبئ معافی غواړم .

لیکونکې

عاجز بندیوان ابو حفص بن فضل غفور کالوخان صوابی

بوقت ۳۰ : ۱۱ / ۲۰۲۰ ، ۱۲ ، ۱۹

## د اول چاپ سر ليک

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يا ربّ لک الحمد کالّذی تقول خيرًا مّما نقول انت المحمود بکلّ لسانٍ فی کلّ زمانٍ وفی کلّ مکانٍ ، وصلّ وسلّم علی سيّدنا وحبيبک محمّد کما امرتنا ان نصلّی عليه وهو المبعوث بشيرًا ونذيرًا للانسان والجانّ ، وعلی اله واصحابه ومن تبعهم باحسان امابعد ...

الله ! اې مالکه ، خالقه ، مهربانه بادشاه ستا د نعمتونو هومره شکرونه او حمدونه چې د بنده عاجز قلم دِ د خپل کتاب د خدمت دپاره اوچت کړو ، د زړونو بادشاه پداسې طرف د بنده عاجز زړه واړولو چې خواه خاطر کښې هم نه راتله او داسې طريقې سره ئې اوچلولو چې داسې هډو د بنده عاجز په زړه کښې هم نوه او داسې طريقی سره ليک مخې ته راغلو چې د بنده عاجز داسې نه اراده وه او نه ئې په خيال وخاطر کښې راتله .

د خپلو محبوبو استاذانو د درسونو او د صحبتونو وعظونو اثر وو چې د بنده عاجز ذهن پدې طرف جوړ شوې دې چې په اوس وخت د دين په خدمتونو کښې يو اهم خدمت هغه په کشرانو سکوليانو کالجيانو هلکانو او جينکو باندې د دين خواری کول دی چې د دوئ ذهنونه هغه د دين شی او د گمراهئ او بې دينئ هواګانې ورلره سوچونه او فکرونه خراب نکړی ځکه هم دا کشران د راروان وخت مشران دی که په دوئ خواری اوشی نو ډير زر به راروان وخت هغه د دين په فضا باندې روښانه شی .

د دې دپاره تعليمی نصاب د قران کريم نه بهتر بل نشی کيدلې چې د قران کريم په ذريعه کوم خلق جوړ شی او د هغه فکر برابر شی نو بيا هغه څوک هم د ځائ نه ړقولې نشی د قران ترجمه او د هغې مطالب او مقاصد زده کول دا بنيادی تيګه او مضبوط ليک دې .

د دې په لړ کښې بنده عاجز د کشرانو هلکانو او جينکو دپاره مختصر اصول د قران کريم د پوهې او د سورتونو مختصرې خلاصې اوليکلې نو الله تعالی ذهن دې طرفته واړلو چې د کشرانو او سکوليانو کالجيانو دپاره مختصرې طريقې سره داسې قواعد اوليکلې شی چې هغوئ د خپلی لفظی ترجمې اصلاح اوکړې شی او هغوئ ته د قران په زده کړې مدد ورکړی څنو مخلص ملګرو سره مشوره هم اوشوه نو د الله تعالی په توفيق دا څه لړې پاڼړې تورې کړې شوې چې د قران طالبانو له به ان شاء الله تعالی ډير مفيد وی الله تعالی دِ کړی .

ګرانو رونړو ! لږ سوچ اوکړئې د انګلش ، اردو ، رياضئ او نور سائنسی کتابونه خلق څومره غټ غټ کتابونه وائی يادوی فارمولې او قانونونه يادوی ځانونه کړوی او د الله کتاب ئی سم شاته غورځولې دې د هغې دپاره که ورته څه وائی نو وائی دا ګران دې او په عربئ کښې دې رونړو اردو او انګلش خو هم زمونږ پردئ ژبې دی او بيا هم د خوارئ نه روستو خلق په هغې څنګه پوهيږی رونړو ولې د الله د کتاب دپاره مونږ دومره نشو کولې چی دا وړه رساله ياده کړو فضيلتونه او ثوابونه په خپل ځائی خو رونړو لږ احساس او غيرت پکار دې چی د نورو څيزونو دپاره څومره خوارئ کيږی او د

الله د كتاب دپاره معمولی ځان نشی کړولې ، که لږ ځان اوکړولې شی نو ډیر به څه لاس باندې راشی .

د دې رسالې باره کښې بنده عاجز هغه محترمو رونړو ته چې کوم سکولیانو هلکانو او جینکو ته درسونه کوی چې هغوئ دې دا رساله په مازیګر او ماښام کښې سکولیانو او کالجیانو ته درسی کړی او هغوئ سره پرې خواری اوکړی او مشقونو کښې ورسره خواری اوکړی امید دې چی ان شاء الله د ترجمې په خوند به پوهه شی او د عربئ په زده کولو کښې به هم فائده ورکړی الله دِ اوکړی .

څه به هغه رونړو ته چې کوم دا لولی خائی او زده کوی ئی نو هغوئ دې بنده عاجز او د هغه استاذان مور پلار رونړه خویندی او بچی مدرسه جواهر القران او د هغی خادمان او طلباء په دعاء کښې نه هیروی ، او عاجزانو جیلیانو د رهائی سوال کوی .

د الله دربار کښې دعاء ده چی زړه راله هغه واړولو او قلم ئی راله رااوچت کړلو په جیل کښې راله اسباب راکړل بیا ئی په خپل فضل سره تقریبًا په میاشت کښې سر ته اورسولو نو چی دا ټول کارونه هغه اوکړل نو اوس ورته زاری کوم او فریاد چی قبول ئی کړه او فائده پرې اورسوه او د خپلې رضا ذریعه ئې کړه الله دِ اوکړی .

امین یا ربّ العالمین .

کتبه مجتبی عامر بن عبد المتین عفا الله عنهما وعن جمیع المؤمنین

۷ جمادی الاولی ۱٤٤۲ھ۲۲ دسمبر ۲۰۲۰ء

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الحمد لله الّذی علّم القران وخلق الانسان ، والصّلوة والسّلام على عبده ورسوله المبعوث لتعليم الفرقان ، وعلى اله واصحابه الّذين هُم دُعَاةُ التّنزيل والايمان ، وعلى مَن تبعهم الى يوم الدّين بالاحسان .

**امّا بعد** :

فَاِنَّ اَحسن الحديث كتاب الله وخير الهدى هدى محمدٍ صلّى الله عليه وسلّم وشرّ الامور محدثاتها ، وكل محدثة بدعة وفى رواية وكل بدعة ضلالة وكلّ ضلالة فى النّار . او كما قال عليه الصّلوة والسّلام .

الله تعالى د خپل ځان د خودلو دپاره كائنات پيدا كړو ، چې د هغې هر ذره د الله تعالى د وجود ، قدرت ، علم او يو والى ګواهى وركوى ، د دې كائنات افسر ، مخدوم ، بادشاه ، ظاهرى چلؤونكې ئې هغه انسان پيدا كړو ، چې د دې كائنات حسن ، ځلا او ښكلا هغه هم پده ده ، د دې كائنات آبادى هغه نه جناتو كولې شوه او نه فرشتو كولې شوه هغه د دې كائنات د خاورو نه پيدا د خاورين انسان په قسمت وه .

د دې خاورين انسان كاميابى ، عزت ، اوچتوالې او شرافت د دې خاورو په آبادولو او د دې كائنات په خائسته كولو نه وو دا كائنات خو د ده نوكر او خادم وو د خادم په خدمت افسر خه نه ښكارى د ده عزت او شرافت هغه د دې كائنات د پيداكؤونكى په رضا كولو او د هغه سره په تعلق جوړولو كښې دې .

كله چې الله تعالی انسان ته د خپل ځان پيژندګلو کوله ، او هغه ته ئې خپل صفتونه ښودل او غوښتل او انسان ته ئې د رانزدې کولو حکم کولو نو د هغې دپاره ئې د خپل کلام او د وحی انتخاب اوکړو . چې د دې په ذريعه انسان الله اوپيژنی او د هغه د رضا کولو طريقه زده کړی او د هغه ده در خاص بنده جوړ شی ، هغه وحی او د الله تعالی کلام مونږ ته د قران کريم په شکل ملاؤ شو . د دې نزدې کيدل الله تعالی ته نزدې کيدل دی ، دې سره مينه کول د الله تعالی سره مينه کول دی پدې قربانيدل په الله تعالی قربانيدل دی ، د دې سره دشمنی د الله سره دشمنی ده د دې نه لرې کيدل د الله تعالی نه لرې کيدل دی . ځکه به قيامت په ورځ د قران کريم دا آواز وی .

اَلَا من وصلنی وصله الله ومن قطعنی قطعه الله (رواه فی شرح السّنّة ، مشکوة) .

خبردار ! څوک چې ما سره يو ځائې شوې دې نو الله تعالی دِ ورسره ملاؤ شی او چا چې ځه غوڅ کړم نو الله دِ ترې نه کټ شی .

قران کريم د الله تعالی لار ده پدې تلو سره بنده الله تعالی ته رسی ، قران کريم د الله تعالی رسئ ده ، د دې په نيولو سره بنده خپل مقصد حاصلوی . قران کريم د الله تعالی کلام دې د دې په وئيلو او مشغولتيا الله تعالی ملاويږی بلا تشبيه هغه په خپل کلام کښې داسې پټ دې لکه په ګلاب کښې چې بوئ پټ وی .

در سخن مخفی منم چوں بوئ گل در برگ گل

ہر کہ دیدن میل دارد در سخن بیند مرا

په خپلو خبرو کښې داسې پټ يم لکه د ګل په پاڼړو کښې خوشبوئ . څوک چې ځما د ليدلو شوق لرى نو ما دِ ځما په خبرو کښې اوګورى .

کله چې نبى عليه السّلام د دنيا د تيارو علاج کولو نو د هغې دپاره رنړا هغه قران ده که غيرو ته دعوت ورکول وو نو په ذريعه د قران کريم وو او که د خپلو د ايمان اوبه کول او ترقى وه نو هغه هم په قران وه . که په دار ارقم کښې پټ درس کوى نو د قران کوى ، که د ځان نه مخکښې مدينې ته استاذ ليګى نو د قران کريم ليګى چې د هغې په ذريعه د نبى عليه السّلام د تلو نه مخکښې د انصارو په هر کور کښې د نبى عليه السّلام او د اسلام آواز وو . دا د قران کريم د دعوت اثر او انقلاب وو مړه زړونه ژوندى شو ، تيارې رنړا شوې ګندګئ په پاکئ بدلې شوې ، ظلمونه په انصاف بدل شو ، دشمنئ په دوستئ ، بغضونه په محبت بدل شو د يو بل وينو ته تګى ناست په يو بل قربانيدونکى شو کنتم اعداءً ته د انّما المؤمنون اخوةٌ لقب ملاؤ شو ، دا څه څيز وو چې دومره عجيبه انقلاب ئې راوستو ، دا حکومت وو ؟ بالکل نه حکومت خو د کسرى او قيصر سره هم وو خو دنيا له د ظلم ، زبردستئ نه علاوه څه ورکړل ؟

دا دنيوى تعليم ، سائنس ، ټيکنالوجى وه ؟ بالکل نه دا خو د يونان سره وه نو خلقو له ئې بې حيائى ، بې پردګئ نه علاوه څه ورکړل ؟

دا هوښيارتيا او فلسفى خبرې وې ؟ نه دا خو د مزدک او مانى سره وه نو دنيا له ئې اشتراکيت او اباحيت او غلط نظامونه ورکړل .

دا صنعت ، حرفت ، تجارت او هنز وو ؟ دا خو د هندوستانیانو سره وو نو خلقو له ئې د ګټو او لړکو قسما قسم خدایان ورکړل چې د خلقو نه ئې الله هیر کړو ، دا زور ، توره او سیاست وو ؟ نه بلکه دا خو د قبیلو سردارانو سره وو نو په زرګونو کلونه جګړې روانې وې او هر څوک ئې د یو بل دشمنان کړی وو .

هغه انقلابي آواز او انقلابي غږ د تیارو او رڼا پیدا کونکی ذات کلام وو چې د هغه یو څړیکه د طور غر ته اوشوه نو جعله دګًّا شو او د هغې کلام جلالی شان دا دې چې که غر ته د هغې څړیکه اوشی نو لرأیته خاشعًا متصدِّعًا به شی ، انسان په زړه خړه راشی د خواهشاتو ، ګناهونو تیارو د وجې نه د زړه هغه لیدلو کښې فرق راشی نو د قران حقیقت نشی معلومولې .

سنتے سنتے نغمہائے محفل بدعات کو

کان بہرے ہوگئے دل بدمزہ ہونے کو ہے

آؤ سنوائے تمہیں وہ نغمہ مشروع بھی

پارہ جسکی لحن سے طور ھدی ہونے کو ہے

حیف گر تاثیر اسکے تیرے دل پر کچھ نہیں

کوہ جس سے خاشعًا ومتصدّعًا ہونے کو ہے

كله چې زړه زړه وی او د هغې سترګی کار کوی نو دا بصائر چی په هغه اولګی نو هغه د عالم بالا سره تعلق جوړ شی او هغه د اشرافو اخیارو نه اوګرځی اَللّٰهُمَّ اجعَلنا منهم .

د قران کریم په ذریعه باندې پدې جهان کښې انقلاب راغې خو هغه څنګه د قران کریم د ختمونو په ذریعه انقلاب راغې یا د خائسته چهاپ او لیک په ذریعه یا د خکلولو او قسم کولو په ذریعه باندې . انقلاب چې راغلې وو نو هغه د لوستلو او عملی کولو په ذریعه باندې راغلې وو چی قران کریم اولوستلې شی او په هغې ځان پوهه کړې شی او عمل ته اونیولې شی نو دې سره ئی انقلاب لازم کړې دې .

## د قران کریم سره زیاتې

مولانا محمد اسلم شیخو پورې رحمه الله تعالی یوه جمله لیکلې وه چی کله یو عقلمند سړې هغه جمله اوګوری نو حق حیران شی او د هغه په بدن ویخته اودریږی او ګوته په خله شی چی دا عالم دا خبره څنګه کوی . هغه فرمائیلی دی :

چې په دنیا کښې د ټولو نه بهترین او عزتمند کتاب هغه قران کریم دې او په دنیا کښې په کتابونو کښې د ټولو نه مظلوم کتاب هغه هم قران کریم دې . ځکه چې هیڅ یو کتاب په دنیا کښې داسې نشته دې چې د هغې په صرف ټکو اکتفاء کولې شی سوا د قران کریم نه . هر کتاب چې خلق وائی نو د هغې مطلب او معنی زده کوی سوا د

قران کریم نه چې د دې صرف ټکې وئیلې شی او معنی ئې نشی زده کولې . (ماخوذ از ندائے منبر و محراب)

د غیرو قومونو یهودیانو او انګزیانو دا سازش وو چې د مسلمان نه د قران کریم پوهه واغستلې شی . په غټ کانفرس کښې د فرانس صدر وئیلی وو چې مونږ د مسلمانانو سره د اسلحې جنګ بائیللې دې او د هغې وجه دا ده چې دوه قسمه فوجیان وی یو هغه وی چې هغه جنګ ته پدی نیت راځی او میدان ته د دې دپاره دانګی چې څه به مرم ښنګه مرګ ته خیر راغلې وائی او د لمبو نه غیرږ ډکوی او بل فوجی دې چې میدان ته پدې نیت راځی چې څه به بچ کیږم ښنګه ؟ نو تاسو اووایئ چې کوم به ګټی نو دا هغه کس ګټلې دې کوم چې د مرګ په طلب میدان ته رادانګی . نو د دې حل دا دې چې د مسلمانانو فکر بدل کړئ چې د دوئ فکر صرف د دنیا شی دوئ قرانی او د آخرت طلب ګار مومنان پاتی نشی . نو د ده نه تپوس اوشو چې دا به ښنګه کیږی نو هغه اووئیل چې تر څو پورې د مسلمان په لاس کښې قران کریم وی نو د ده فکر نشی بدلیدلې نو د ده نه قران واخلئ او د قران د اغستلو طریقه دا ده چې د ده لاس نه د عربئ علمونه واخلئ چې په قران او عربئ پوهه نشی نو د ده فکر بدلول به آسان شی .

نو یو طرفته غیرو او دشمنانو جال خور کړو چې د مسلمان نه د قران کریم پوهه واغستلې شی ځکه چې د دې قران په ذریعه د ده فکر ژوندې او ځوان وی د ده په رګونو کښې د اسلام خبر به وی او دې په اسلام او الله او د هغه په رسول شیدا او قربان وی . نو هغوئ

مسلمان له په لاس کښې انګریزی علمونه دنیوی تعلیمونه ورکړل چې په هغې دومره ځانونه کړوی چې د انسان عقل ورته حیرانیږی صرف او صرف د دنیا دپاره بلکه علاوه لا دا چې اکثر ئې فکر مرتدّ شی د اسلام نه ، پردې څه چې د اسلام دشمنی او د اسلام د عقائدو او د احکامو خلاف بیا دا مسلمان پخپله کوی ځان ته تعلیم یافته وائی او خلاف د قران کریم او د اسلام کوی . په اسلام پورې خندنې کوی او د اسلام په احکامو پورې مذاق او مسخرې کوی . ځکه خو اقبال وائی :

آیا ہے مگر اس سے عقیدوں میں تزلزل

دنیا تو ملی طائر دین کر گیا پرواز

پانی نہ ملا زمزم ملت سے جو اسکو

پیدا ہیں نئی پود میں الحاد کے انداز

د دنیا په طلب کښې دین برباد شی او په نظریو کښې الحاد پیدا شی هغه یو سالک وائی :

نرقّع دنیانا بتمزیق دیننا

فلا دیننا یبقی ولا ما نرقّع

مونږه دنیا د دین په تس نس کولو خائسته کوو . نو دین هم پاتی نشو او کوم چې مو خائسته کوله (دنیا) نو هغی له هم بقاء نشته دې .

## د پردو نه څه ګيله

پردی خو خير پردی وو د دشمن نه به څه د خير طمع اوکړې شی هغه هسې هم ځان سره زهر ګرځوی خو قران کريم سره خپلو هم زياتې اوکړو چې چا لا علم ورکړې شوې وو او هغوئ د عالمانو په نوم يادېدل نو هغوئ د قران کريم سره د دوستئ په رنګ د دشمنئ سلوک اوکړو. پخپله ئې هم د قران درس او ترجمه نه کوله د نحوې ، صرف ، منطق او فلسفې کتابونه به ئې لوستل او قران کريم د درس دپاره به ورسره وخت نه وو.

لوح دل از فضله شيطان بشو

اے مدرس درس قران ہم بگو

خپل زړه د شيطان د ګندګئ نه اوينځه ، اې مولوی صاحبه د قران درس هم اوکړه.

چند خوانی حکمت يونيان

حکمت ايمانيان راہم بخوان

د يونيانو فلسفی دِ څومره اولوستلې لږه د ايمان فلسفه هم اولوله.

دی ته ئې علم اووی او پدی خوشحاله وو چې دا علم دې : فرحوا بما عندهم مّن العلم.

نو خپله به ئې هم قران کريم نه لوستلو او عوامو ته به ئې هم وئيل چې چا څوارلس علمه نه وی کړی نو هغه د قران کريم ترجمه نشی

كولې په قسما قسم طريقو سره به ئې مسلمانان د قران نه بندول او كه كوم يو بختور عاجز عالم به خوارى كوله چې عوام قران زده كړى نو په هغه به قسما قسم فتوې لګول شروع كړل او د هغه نه به ئې طريقو طريقو سره عوام بندول ، حافظ ابن قيم وائى :

انّ الّذين امرتَهم ان يّعدلوا

نبذوا كتابک واستحلّو المحرم

كومو خلقو ته چې تا د انصاف كولو حكم كړې وو نو هغوئ ستا كتاب ارتاؤ كړو او حرامو ته ئې حلال اووئيل .

د خپلو مفاداتو ، اړو تړو ، نوم رياست ، لقب او عزت ساتلو دپاره عوام ناخبره ساتل غواړى چې عوام څمونږه خره دى مونږ به پرې سواره جنت ته ځو نه ، ځكه كه عوام د دين نه خبر شى نو بيا چې مونږ كوم غلط ټيكسونه په دوئ باندې كيخودلې دى نو بيا هغه خرابيږى . نو د خپلو فائدو دپاره عوام خرابوى او د دين نه ئې بندوى.

دويم قسم بې علمه پيران او شيخان چې هغوئ يو عوام د قران نه بندوى او ورته وائ چې په ترجمو سره سړې خرابيږى وائ چې بې علمه شيخى كړه نو دا كفر ئې بس دې ، نو د عوام خرابيدل څه دى خو چې دوئ له نذرانې او شكرانې نه اوړى نو اصل كښې خرابيدل د دوئ وو او بل ئې قران كريم صرف خلقو ته د تلاوت كتاب ښكاره كړو . د تلاوت ثوابونه خلقو ته وائى او د قران كريم مقصد نه خلق نه خبروى دا صحيح خبره ده چې د قران كريم څومره فضيلت بيان

شی نو دومره کم دي خو هله چی د قران کريم کوم حق دې او هغه ادا شی نو الله تعالی ډیر د فضل والا دې او ډیر څه ورکونکي دې خو چې په کوم څه باندې الله تعالی فضیلت وئیلي دې هغه کار څه نا څه اوکړې شی نو الله تعالی ډیر فضیلت ورکونکي دې .

نن مسلمانان یو د غیرو ارمان کوی چې انګریزی علمونو له توجه ډیره ورکوی او قران کریم ئې ده سره پرېخودلو او بل ئې صرف تلاوت ته کار وئیلي دې او د قران کریم په مقصد باندې ځان نه پوهه کوی دا نده چې د قران کریم په تلاوت کښې ثواب نشته دې ثواب ځان له خبره ده او مقصد ځان له خبره ده د قران کریم د نازلیدلو د مقصد نه ځان خبرول پکار دی .

بل طرفته ځني نام نهاد ملیانو او بې علمه عوامو خلقو کښې دا مشهوره کړه چې د قران کریم ترجمه څه ضروری نده د ترجمو او تعبیرونو نه څه هم نه جوړیږی . دا څومره لوئ ظلم دې په دنیا کښې کوم یو کتاب دې چې خلق صرف د هغې ټکی وائی او زده کوی او د هغې معنې نه زده کوی لږ سوچ اوکړئ ، نه په سکول کښې داسې کتاب شته چې خلق د هغې صرف املاء وائی او معنی ئې نه زده کوی . او نه په اسلامی مدرسو کښې داسې یو کتاب شته چې خلق ئې صرف عبارت وائی او معنی ئې نه زده کوی . دا زیاتې او ظلم صرف د الله تعالی د کتاب سره کیږی او دا ځکه چې دا ئی صرف د تلاوت کتاب ګرځولې دې چې پدې کښې دومره ثواب دې نور اخوا عقیدې ، عمل ، قانون او د علم کتاب نه ګڼړی . لږ د قران کریم په آیتونو کښې سوچ پکار دې او د نبی علیه السّلام په

حدیثونو کښې چې آیا د قران کریم پوهه او ترجمه کول ضروری دی او که نه ؟

د ایمان نه روستو په مومنانو باندې د قران کریم څه حقونه دی ؟ دا خو مستقله مسئله ده د بنده عاجز یو رساله تذکیر الاخوان پدې کښې ان شاء الله چهاپ ته تیاره ده . خو دلته د کتاب د موضوع مطابق یو حق چې د قران زده کړه سره د پوهې نه دا په مسلمانانو ضروری ده او دا د قران کریم حق دې د دې مطابق څه لږه خبره کولې شی چې مونږ سره د دې کار اهمیت پیدا شی .

### د قران کریم معنی زده کول د قران په رنړا کښې

د قران کریم کښې آیتونه دی چې د هغې نه دا معلومیږی چې د قران کریم معنی زده کول او ځان پرې پوهه کول ضروری دی .

(۱) د قران کریم د راتلو مقصد تدبّر دې .

الله تعالی په خپل کتاب کښې د قران کریم د راتلو مقصد هغه تدبّر وائی :

کتبٌ انزلنه الیک مبرکۃ لّیدّبّروا آیاته ولیتذکّر اولو الالباب .

د لوئ شان والا کتاب نازل کړې مِ دې د خیر خودونکې د دې دپاره چې دوئ سوچ اوکړی په آیتونو د دې کښې او د دې دپاره چې نصیحت قبول کړی د عقل خاوندان .

د تدبّر مطلب عالمان دا ذکر کوی چې په آیت کښې سوچ کول او فکر کول چې دا آیت ځما نه څه غواړی او د څه نه مِ منع کوی . او که د عذاب په آیت باندې تیریږی نو د عذاب د الله تعالی نه پناه اوغواړی او که د رحمت په آیت تیریږی نو د الله تعالی نه رحمت اوغواړی . او بیا د هغې آیت مطابق عمل اوکړی .

څوک چې په قران کښې تدبّر او سوچ نه کوی نو هغوئ الله تعالی زورلی دی او رټلی دی .

افلا یتدبّرون القران ولو کان من عند غیر الله لوجدوا فیه اختلافًا کثیرًا .

آیا دوئ سوچ نه کوی په قران کښې او که دا قران د الله نه علاوه د بل چا د طرفنه وې نو موندلې به دوئ پدې کښې اختلاف ډیر .

افلا یتدبّرون القران ام علی قلوبٍ اقفالها (سورة محمد)

آیا دوئ سوچ نه کوی په قران کریم کښې یا په زړونو د دوئ جرندې دې .

په قرآن کریم کښې سوچ او تدبّر او په قرآن کریم ځان پوهه کول دا د ټولو علمونو کنجی ده .

علامه عبد الرّحمن بن ناصر السّعدی د سورة النّساء ایت په تفسیر کښې د تدبّر مطلب او اهمیت داسې بنائی :

يأمر تعالى بتدبّر كتابه وهو التّأمّل فى معانيه وتحديق الفكر فيه وفى مبادئه وعواقبه ولوازم ذالک ، فانّ تدبّر كتاب الله مفتاحٌ لّلعلوم والمعارف وبه يستنتج كلّ خيرٍ وتستخرج منه جميع العلوم وبه يزداد الايمان فى القلب وترسخ شجرته فانّه يعرّف بالرّبّ المعبود وماله من صفات الكمال وما ينزه عنه من سمات النّقص ويعرّف الطّريق الموصلة اليه وصفة اهلها وما لهم عند القدوم عليه ويعرّف العدوّ الّذى هو العدوّ على الحقيقة والطّريق الموصلة الى العذاب وصفة اهلها وما لهم عند وجود اسباب العقاب ،

وكلّما ازاداد العبد تأمّلًا فيه ازداد علمًا وعملًا وبصيرةً لذالک امر الله بذالک وحثّ عليه واخبر انّه هو المقصود بانزال القران ...

ومن فوائد التّدبّر لكتاب الله انه بذالک يصل العبد الى درجة اليقين والعلم بانّه كلام الله تعالى ... (تيسير الكريم الرحمن المعروف به تفسير سعدى صـ ١٩١ ج١)

الله د خپل كتاب كښې د تدبّر حكم كوى ، تدبّر دا دې چې د قران كريم په معنى كښې سوچ كول او په هغې كښې فكر تيزول عمل پرې ښكاره او نتيجه ئې څه ده او څه به اوشى .

د الله تعالى د كتاب تدبّر د ټولو علمونو او معرفتونو كنجى ده . د دې نه هر خير پيدا كيږى او ټول علمونه ترې راؤځى . ايمان پرې سوا شى د ايمان ونه په زړه كښې كلكيږى . دا قران او دا تدبّر سړى ته د خپل معبود معرفت كوى او د الله تعالى كمالى صفات ورته ښائى . او چې كوم عيبونه د الله سره لائق نه وى د هغې نه پاكى ښائى . او الله

ته د رسیدلو لار ښائی او کوم خلق چې د دی لار والا دی د هغوئ صفتونه خائی . او چې څوک پدې روان شی نو ده به څه ملاویږی ، او دشمن خائی چې حقیقی دشمن څوک دې . او عذاب والا لار هم خائی او چې په څه څه عذابونه ملاویږی .

څومره چې په قران کښې سوچ زیاتیږی نو دومره په علم او عمل کښې ترقی راځی . د دې وجې نه قران کښې الله تعالی د تدبّر حکم کړې دې او دا ئی وئیلی دی چې د قران کریم د نازلیدلو مقصد هغه هم دا دې .

او یوه فائده د تدبّر دا هم ده چې څومره قران کښې تدبّر او سوچ کوی نو دومره به ئې یقین زیاتیږی چې دا د الله تعالی کتاب دې .... (سعدی)

د علی رضی الله عنه قول دې :

لا خیرَ فی عبادةٍ لَا علمَ فیها ، ولا خیرَ فی علمٍ لّا فقهَ فیها ، ولا خیرَ فی قراءةٍ لّا تدبّرَ فیها . (کتاب العلم لابی خیثمة صـ ۲۹)

هیڅ خیر نشته په هغه عبادت کښې چې په هغې کښې علم نه وی او هیڅ خیر په هغه علم کښې نشته دې چې په هغې فقه (ژورتیا) نه وی . او هیڅ خیر په هغه تلاوت کښې نشته چې په هغې کښې تدبّر نه وی .

حافظ ابن قیم وائی :

تدبّر القران ان رُمت الهدی

فالعلم تحت تدبّر القران

قران کښې سوچ اوکړه که هدایت غواړې ، ځکه علم د قران د فکر د لاندې دې .

(۲) د قران په آیتونو کښې فکر نه کول دا د قران هجران دې یعنی د قران پریخودل دی .

وقال الرّسول یا ربّ انّ قومی اتّخذوا هذا القران مهجورًا (الفرقان ۳۰)

او به وائی پیغمبر چې اې ربه مِ یقینی خبره ده چې ځما دِ قوم جوړ کړې وو قران پریخودلې شوې .

د قران کریم پریخودل څه دی ؟ حافظ ابن کثیر هغه داسې ذکر کوی:

ترک تدبّره وتفهّمه من هجرانه وترک العمل به ، وامتثال اوامره واجتناب زواجره من هجرانه والعدول عنها الی غیره من شعرٍ او قولٍ او لهوٍ او کلامٍ او طریقةٍ مأخوذةٍ من غیره من هجرانه .. (ابن کثیر)

د قران کریم تدبّر او پوهه پریخودل دا پریخودل د قران دی عمل پرې پریخودل اوامر ئی نه منل او د هغې د حرامو نواهی نه ځان نه بچ کول دا قران پریخودل دی . د قران مقابله کښې شعرونه د بل چا قول ،

سندرې او فضول خبرې او رسمونه راغستل دا د قران پریخودل دی ...

(۳) تدبّر کول په قران کښې د قران حق دې :

یتلونه حقّ تلاوته (البقرة)

د قران کریم او آسمانی کتاب حق لوستل څه دی ؟

من التّدبّر والعمل به وتتبّع اوامره واجتناب نواهیه (تسهیل ، مدارک ، ابن کثیر)

سوچ کول او پدې عمل کول او په اوامرو چلیدل او نواهی نه ځان بچ کول .

(٤) د قران کریم د دې نعمت باره کښې به تپوس کیږی .

د قران کریم او د هغې حقونو باره کښې به تپوس کیږی نو اوس هغه کوم حق دې چې د هغې باره کښې به تپوس کیږی :

وانّه لذکرٌ لّک ولقومک وسوف تسئلون (زخرف ٤٤)

او یقینًا دا قران نصیحت ستا او ستا د قوم دې او زر ده چې ستاسو نه به تپوس اوکړې شی .

یعنی د ده قران په باره کښې به د قیامت په ورځ تپوس کیږی چې تاسو د دې حق ادا کړې وو او که نه ، او تاسو د دې نعمت قدر او

شکريه ادا کړې ده او که نه ؟ اوس مخکښې حق ذکر شو چې تدبّر دې نو د دې په باره کښې به د قيامت په ورځ تپوس کيږی .

(٥) قران کريم پوهې له راغلې دې .

انّا انزلنه قرانًا عربيًّا لّعلّکم تعقلون (يوسف)

يقينی ده چې نازل کړې مِ دې قران کريم په ژبه د عربۍ کښې د دی دپاره چې تاسو هوښيار شئ ، نو په خبره د پوهيدلو دپاره قران کريم راغلې دې .

اوس پدې آيتونو کښې نن مسلمان له سوچ پکار دې چې د قران کريم د نازليدلو مقصد ئی څومره ادا کړو ؟ آيا چرته د نبی عليه السّلام د رپورټ د لاندې خو د قيامت په ورځ ندې راغلې ؟ آيا د قران کريم قرضدارې خو ندې پاتې شوې ؟ چې د قيامت په ورځ ترې تپوس اوشی او بيا لا جواب وی .

رونړو چې د قران کريم ترجمه او په مقصد پوهه نه وی نو تدبّر به څه اوکړی او عمل به څه اوکړی . او څه به ئی د ايمان ترقی اوشی او د الله محبت به ئی زيات شی لږ مسلمان له د سوچ مرحله ده .

## د قران د پوهې باره کښې احاديث مبارکه

د قران د آيتونو نه لکه چې معلومه ده چې ځان په قران کريم پوهه کول غواړی نو دغه شان د جناب رسول الله صلّی الله عليه وسلّم حديثونه هم ډير دی چې هغه دا خبره په ښکاره کوی چې په قران کريم ځان پوهه کول ضروری دی .

(۱) د قران استاذ او شاګرد په مسلمانانو کښې غوره دی .

خيرکم مّن تعلّم القران وعلّمه .

په تاسو کښې غوره هغه دې چې قران کريم زده کړی او بل ته ئې اوښائی .

دلته د قران زده کړې ته عِلم وئيلې دې علم صرف لوستلو ته نه وائی بلکه پوهې ته وائی يعنی په قران کريم ځان پوهه کوی او بل ته ئې خائی نو دا د نبی عليه السّلام امت کښې غوره دې د نبی عليه السّلام امت غوره وو نو دا کس په غورو کښې غوره شو .

(۲) د قران سوچ او فکر سبب د کاميابئ دې .

عن عبيدة المليکی وکانت له صحبةٌ قال قال رسول الله صلّی الله عليه وسلّم يا اهل القران لا تتوسّدوا القران واتلوه حقّ تلاوته من اناء الليل والنّهار وأفشوه وتغنّوه وتتدبّروا ما فيه لعلّکم تفلحون ولا تعجلوا ثوابه فان له ثوابًا . (بيهقی)

عبيدة المليکی رضی الله عنه فرمائی چې نبی عليه السّلام فرمائی اې قران والو ډېره مه لګوئ قران ته (يعنی غفلت ترې مه کوئ) چې څنګه د دې حق دې نو په هغه طريقه ئې د شپې او ورځې تلاوت کړئ او خور ئې کړئ او په خوږ آواز ئې اولولئ او د دې په احکامو کښې سوچ اوکړئ کيدې شی چې کامياب شئ او د دې بدله دنيا کښې مه غواړئ ځکه چې يقينًا د دې ډير غټ ثواب دې .

(۳) قران مجيد د ټولو فتنو علاج دې .

على رضى الله عنه حارث الاعور ته اووى تا د نبي عليه السّلام نه ندى اوريدلى چې وئيل ئى : الا انّها ستكون فتنةٌ قلت ما المخرج منها يا رسول الله قال كتاب الله فيه نبأ ما قبلكم ، وخبر ما بعدكم وحكم ما بينكم هو الفصل ليس بالهزل ... الحديث

خبردار ! چې فتنې به راشى ما ورته اووې چې د دې نه به خلاصيدل په څه وى . نو نبي عليه السّلام اوفرمائېل چې د الله تعالى په كتاب باندې پدې كښې د مخوانو حالات دى او د راروانو پيشګوئى ده . او ستاسو تر مينځه فيصله كونكې دې دا غوڅه او حقه خبره ده څه ګپ ندې .

نو لږ سوچ پكار دې چې د قران كريم دا مخكښې مقصد بغير د پوهې نه حاصليدلې شى ؟ چې په قران پوهه نه وى نو څنګه ځوک ځان د فتنو نه بچ كړى . د ګمراه فرقو علاج هغه په قران كښې دې . نو علم او پوهه د قران كريم ضرورى ده .

(٤) دينى علم د هر مسلمان ذمه دارى ده .

جناب رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فرمائېلى دى : طلب العلم فريضةٌ على كلّ مسلمٍ ...

د علم طلب كول په هر مسلمان باندې فرض دى .

نو شرعى علم د قران مجيد زده كول دى . نور څه دى ؟ نو د قران كريم زده كول هم د هر مسلمان ذمه دارى ده . چې د دې نه خپله عقيده او عمل سم كړى .

(٥) صحابه کرامو به د نبی علیه السّلام نه قران زده کولو .

ایاس بن معاویه رضی الله عنه فرمائی : کنّا نتعلّم مِن رّسول الله صلّی الله علیه وسلّم عشرًا عشرًا فلا نتجاوز الی عشرٍ اخر حتّی نتعلّم ما فیها من العلم والعمل ...... (زاد المسیر)

مونږ د نبی علیه السّلام نه لس لس آیتونه زده کول نو نورو لسو ته به نه اوړیدلو یعنی نوې سبق به مو نه اغستلو تر څو چې به مو د زړو لسو آیتونو علم او عمل زده کړې نه وو .

د دې ډیر شواهد دی چې سره د دې نه صحابه کرام عربیان وو او قران هم عربي وو او سره د دې نه به هغوئ د نبی علیه السّلام نه په قران کریم ځان پوهه کولو . نو چې مونږ عجمیان یو نو ولې مونږ څنګه معاف شو چې مونږ قران کریم ترجمه نه زده کوو بلکه دا ځمونږ هم ذمه داری ده .

## د لویو لویو عالما نو اقوال

د هندوستان لوئ لوئ عالمان هغوئ دا ذکر کوی چې د قران کریم ترجمه په عجمو زده کول ضروری دی حق د قران دې .

### (١) امام شاه ولی الله دهلوی رحمة الله علیه فرمائی

د هندوستان لوئ عالم چا چې په فارسئ کښې اوله ترجمه د قران کریم کړې ده امام شاه ولیّ الله محدث دهلوی رحمة الله علیه

هغه د خپلې ترجمې په دیباچه کښې ذکر کوی . هغه په فارسئ کښې ده خو دلته د هغې ترجمه نقل کولې شی .

چې دا ځما لفظی ترجمه به هغه چاله ډیره فائده ورکړی چې چا د قران ناظره لوستلې وی او څه نا څه فارسی ئې وئیلې وی او خاص کر هغه ماشومانو هلکانو د کسب ګرو خلقو له او سپاهیانو له چې هغوئ عربې علمونه نشی زده کولې . دا کتاب ورته په اول عمر کښې ورزده کول پکار دی . ځکه چې اول څیز چې د دوئ په سینو کښې کینی چې هغه د الله تعالی کتاب وی . او د الله د کتاب معنې وی نو د دوئ فطرت به بچ پاتې شی . او د ملحدینو خبرې به دوئ له ګمراه نه کړی او سائنسی فلسفی منطقی خبرو سره به ګمراه نشی ، چې دا ورته یاد وی معنې د قران ترجمه ئې زده وی نو که څه غلطیا کښې وی نو توبه به اوباسی او د قران د تلاوت په خوږوالی به پوهه شی . او دا ترجمه به ټولو مسلمانانو ته فائده ورکړی . (فتح الرّحمن)

د دې نه معلومه شوه اګر چې که د چا صرف او نحو نه وی زده نو هغه ته د قران کریم ترجمه ورزده کول ضروری دی او دې کښې څه حرج نشته دې .

## (۲) شاه عبد القادر محدث دهلوی رحمة الله علیه فرمائی

د شاه ولی الله صاحب فرزند ارجمند شاه عبد القادر صاحب د موضح القران په دیباچه کښې فرمائی : سنناچاہئے کہ مسلمانوں کولازم ہے کہ اپنے رب کو پہچانیں اور اسکی صفات جانیں اور اسکے حکم معلوم کریں اور خدائی مرضی

ونامرضی کی تحقیق کریں کہ بغیر اسکے بندگی نہیں اور جو بندگی نہ بجالاوے وہ بندہ نہیں، اللہ تعالی کی پہچان آوے بتانے سے آدمی محض نادان پیدا ہوتا ہے، سب چیز سیکھتا ہے سکھانے سے اور بتانے سکھانے والی ہر چند تقریر کریں پر اسکے برابر نہیں جو اللہ تعالی نے آپ بتایا. اللہ کا کلام میں جو ہدایت ہے وہ دوسرے میں نہیں پر کلام پاک اسکا عربی ہے اور ہندوستانی کو ادراک اسکا محال اس واسطے بندہ عاجز عبد القادر کو خیال آیا کہ اب ہندی زبان میں قران شریف کو ترجمہ کرے.(دیباجہ موضح القران)

## (۳) نواب صدیق حسن خان فرمائی

سب امت پر یہ بات لازم ہے کہ جسطرح اول بچوں کو الفاظ قران پڑھاتے ہیں اس طرح اس بات کا بھی اہتمام رکھیں کہ جو بچہ حرف شناس ہو کر اردو زبان پڑھنے سمجھنے لگے اسکو اول موضح القران کا سبق دیں تاکہ وہ قران شریف کے لفظی معنی سمجھ لے.(ترجمۃ القران)

### بیا پہ صـ ۱۹ فرمائی :

بڑے شرم کی بات ہے کہ سارا قران تو حفظ ہو نوک زبان پر ہو طوطے کی طرح رات دن اسکو رٹے، مگر معنی اسکی معلوم نہ ہو.

## (٤) ماهر القادری ذکر کوی

جیسے طوطے مینا کو کچھ بول سکھائے جاتے ہیں

ایسا بھی سکھایا جاتا ہوں ایسا بھی پڑھایا جاتا ہوں

## (۵) حکیم الامت شاه اشرف علی تهانوی ذکر کوی

تعلیم قران مجید کا سب کیلئے صغار ہو یا کبار عوام ہو یا خواص مطلوب ومامور بہ ہونا ظاہر ہے، اور اس میں تعلیم ترجمہ بھی داخل ہے اسلئے کہ عجم کا ترجمہ سے وہی تعلق ہے کا اصل سے، اور عوام عرب کو کہیں اسکی تعلیم سے مستثنیٰ نہیں کیا گیا اسلئے عوام عجم کو بھی تعلیم ترجمہ سے مستثنیٰ نہ کیا جائیگا.

د مخکښې آيتونو ، حديثونو او د عالمانو د وينا ځانو نه معلومه شوه چې د قران کريم زده کړه ضروری ده دا صرف د نمونې دپار اوليکلې شو نور د عالمانو اقوال او حديثونه ډير زيات دی دلته دمقدمی په طور دا اوليکلې شو.

## په ترجمه کښې احتياط

البته دا خبره ضروری ده چې د ترجمه د يو ماهر استاذ په نګرانئ کښې اوشی او د هغه ترجمه ټکی په ټکی ياده کړې شی د ځان نه بې احتياطه ترجمه اونکړې شی ځکه چې ترجمه کونکې د الله تعالی ترجمان دې نو هسې نه چې غلطه ترجمانی اوکړی . حتّیٰ الوسع کوشش پکار دې چې غلطه ترجمه اونشی که چرته سره د احتياط غلطی اوشی نو ان شاء الله چې معاف به وی .

## په پختون قوم د ربّ احسان د پنج پير شيخ القران

په هندوستان کښې عالمانو محنتونه کول د قران خوانئ د ديوبند مدرسه د هغې مرکز وو الله تعالی د هغه نه يو سمندر د مولانا حسين علی په شکل د پاکستان د پنجاب حصې له منتخب کړو د

هغې د اخلاص اثر د پنج پیر شیخ القران مولانا محمد طاهر رحمه الله تعالی په شکل کښې الله تعالی پښتنو له ورکړو چې هغه قران ته کار اووې ، او وې وئیل چې دا څما ارمان دې چې د پښتون بچې بچې قران خوان شی . وئېل به ئې چې دا نه وایم چې علماء نشته او په قران نه پوهیږی خو چا قران ته کار نه وو وئیلې ما قران ته کار اووې او دا ئې وئیل او د دنیا نه ئې سفر اوکړو چې څما مرګ دا ندې چې تاسو په ما خاورې واړوئ بلکه څما مرګ دا دې چې تاسو د قران درسونه پریږدئ . د هغه اخلاص آواز الله تعالی قبول کړو چی الحمد لله نن نارینه او زنانه قران خوان شو درسونه د قران شروع دی محنتونه او خوارئ کیږی الله دِ په خپل دربار کښې قبول او منظور کړی .

بنده عاجز هم د خپلو استاذانو نقل کوی او د هغوئ نه یاد کړې سبق طلباء رونړو ته اوروی د قران فهمئ په لړ کښې بنده د سکولیانو هلکانو دپاره یو څو رسالې اولیکلې نو ذهن ته راغله چې د سکول والا هلکانو دپاره پداسې طریقه څه قاعدې اولیکلې شی چی هغوئ ته پرې څه نا څه قران کریم کښې محکښې تلل آسان شی او څه بصیرت ورته حاصل شی پدغه سلسله دا د جیل په ماحول کښې ملګرو ته ډالئ کولې شی ، د دوئ نه د قبلیدو امید دې .

### اول/١ سبق

**د قران تعریف**:- قران کریم د الله تعالی کتاب دې نبی علیه السّلام باندې الله تعالی د عربئ په ژبه کښې د مخلوق د اصلاح دپاره رالیږلې دې .

**د قران معنی :-** د قران خپله معنی ده : لوستل او لوستلې شوې ، قران هم د لوستلو کتاب دې د لوستلو دپاره دنیا ته راغلې دې.

**د قران مجید د زده کولو نیت :-** د قران مجید د زده کولو نیت دا دې چې څه د الله تعالی کتاب زده کوم چې ځان سم کړم او د مخلوق د الله اصلاح اوکړم صرف او صرف د الله تعالی د رضا دپاره .

**غلط نیت :-** شهرت حاصلول ، د دنیا ډګری حاصلول ، په عالمانو ځان اوچتول د عوامو سره مقابلې کول ، د دنیا مال دولت حاصلول ، دا غلط نیت دې پدې سره عمل تباه شو هیڅ څه د اخرت فائده نشته دې .

## د قران مجید د زده کړی اداب

د قران زده کونکې د فرشتو خوښ دې . د صحابو وارث دې نو ښکلی ښکلی خویونه ورله عملی کول پکار دی :

(۱) ځان پاکول ، اودس کول جامې پاکول ځائی پاکول ضروری دی.

(۲) خله پاکول مسواک استعمالول .

(۳) خوشبوئ لګول .

(٤) قران مجید په اوچت ځائ کیخودل .

(٥) په خکلی او غمژن آواز تلاوت کول .

(٦) په تلاوت کښې فکر سوچ او تدبّر کول.

(٧) په دمه دمه تلاوت کول.

(٨) د تلاوت په وخت غوږ کيخودل او نور کارونه پريخودل.

(٩) قران مجيد ته د عبادت په نيت باندې کتل.

(١٠) د الله تعالى نه د پوهې او زده کړې دعاء کول.

## مشق

(١) د قران مجيد تعريف څه دې؟

(٢) د قران مجيد د زده کړې صحيح نيت څه دې؟

(٣) د قران مجيد د زده کړې اداب څه دې؟

## دويم/٢ سبق

## ځنې باطنى اداب د قران کريم

(١) قران کريم د الله تعالى کلام دې نو ډير په عظمت او په جلال لوستل د الله تعالى د عظمت تصوّر کول.

(٢) ډير په محنت لوستل چې څه خپل محبوب ته د هغه کلام اوروم او ما ته ځما محبوب غوږ کيخودلې دې په محبت ئې اؤرى.

(٣) خکلى اخلاق استعمالول.

(٤) بد اخلاق خصوصًا تکبر ، بغض ، حسد ، ريا نه ځان ساتل .

(٥) هر آيت ځان ته راړول نو که بدخوئی ذکر وی نو هغه د ځان نه لری کول او که ښکلې خوئی وی نو که موجود وی نو الحمد لله او که نه وی موجود نو د هغې د حاصلولو کوشش کول .

(٦) د قران کريم د استاذ ډير احترام کول .

(٧) د قران کريم د ملګری احترام کول .

(٨) د قران کريم د ځائی جماعت او مدرسی احترام کول .

(٩) د قران کريم سبق ته ځان ډير محتاجه ګنړل او په زده کړې ئی حرص کول .

(١٠) د دنيا ذريعه نه ګرځول او د دنيا محبت نه ځان ساتل ، د آخرت توجه او شوق او د الله محبت د حاصلولو کوشش کول .

## مشق

(١) دا اداب يادول ضروری دی .

(٢) کوشش کول د عمل .

(٣) هر وخت ځآن ته دا حاضرول او دا سوچ کول چې ما کښې دا اداب شته او که نه .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## اول/۱ سبق

عرب په خپله ژبه کښې زور (زبر) ته فتحة وائی او په کوم ټکی چی زور راغلې وی هغې ته مفتوح وائی . او زیر ته کسره وائی او په کوم ټکی چې زیر راغلې وی هغې ته مکسور وائی . او پیښ ته ضمة وائی او په کوم ټکی چې پیښ راغلې وی نو هغې ته مضموم وائی . د دې دریواړو یو نوم حرکت دې او په کوم ټکی چې یو د دې نه راغلې وی نو هغې ته مُتَحَرِّک وائی . چې کوم ټکی باندې څه قسمه حرکت نه وی نو هغې ته سکون او هغه ټکی ته ساکن وائی یعنی غوړندی ته سکون او هغه ټکی ته ساکن وائی .

دوه زبرونو او دوه زیرونو او دوو پیښونو ته تنوین وائی . او چې کله یو ټکې دوه ځلې وی اول ساکن او دویم متحرک نو په هغې شدّ راځی او هغه ټکی ته مشدّد وائی . لکه رَبٌّ کښې باء دوه ځلې وئیلې شی اول ځل ساکن ده او دویم ځل متحرک ده نو شدّ پرې راغلې دې .

کوم ټکی چې په عربئ ژبه کښې استعمالیږی او مونږ پرې خله خوزوو نو هغې ته په عربئ کښې لفظ وائی او ډیرو ته الفاظ وائی پښتو کښې ورته مونږ لفظونه ټکی وایو .

عربې ټکی چې مونږ خپلې ژبې ته راړوو او خپله ژبه کښې د هغې مطلب وایو نو هغې ته معنی وائی لکه مونږ وایو د ضَرْبٌ معنی وهل دی ، د رَجُلٌ معنی ده سړې .

## مشق

اَلْحَمْدُ ، لِلّٰهِ ، حَرَكَةٌ ، نَعْبُدُ ، اَلضَّالِّيْنَ ، اَلْكِتَابُ ، هُدًى ، سَوَاءٌ ، يُخَادِعُوْنَ ، اَنْدَادًا ، سَبِّحْ ، تَوَّابًا ، رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، خَتَمَ اللّٰهُ .

پدې ټکو کښې ساکن ، متحرک ، مضموم ، مفتوح ، مکسور معلوم کړئ .

## دويم/۲ سبق

کوم لفظ چې په عربئ ژبه کښې استعماليږي نو دا په دوه قسمه دې : مفرد ، مرکب .

**مفرد** ديته وائی چې يواځې لفظ يواځې معنی ښائی . يعنی ټکې هم يو وی او معنی هم يوه وی . لکه کُفْرٌ معنی انکار کول ، خَتْمٌ بندول ، مفرد ته په عربئ ژبه کښې کَلِمَةٌ هم وائی . او ګڼړو ته کلماتٌ وائی . که د يوی ګڼړ کسان ښائی نو هغه هم مفرد دې لکه مومنون (مومنان) .

**مُرَکّب** که دوه يا زيات ټکی (کلمې) يو ځائی شوی وی نو ديته مرکّب وائې ، لکه کِتَابُ اللّٰهِ معنی ئی ده د الله کتاب ، يا يُخَادِعُوْنَ دهوکه کوی دوئ ، خَتَمَ اللّٰهُ مهر لګولې دې الله تعالی .

کله کله داسې وی چې مرکب کښې دوه ټکی او کلمې وی خو هغه مونږ ته دواړه نه خکاری يو خکاری او بل نه خکاری دا هم مرکب دې لکه نَعْبُدُ عبادت کوو مونږه اوس دلته دا مونږه د کوم ټکی معنی ده دا مونږ ته نه خکاری نو دا هم مرکب دې يا لکه اُعْبُدْ ، عبادت

کوه ته نو دلته دا ته د کوم ټکی معنی ده دا مونږ ته نه ښکاری خو دا پدی کښې شته دې .

**فائده**:- مونږ چې قران کریم کښې معنی کوو نو د مفرد ، کلمې او د مرکب خیال ساتل ضروری دی داسې نه چې ټکې مفرد وی او مونږ ورله معنی ډیره اوکړو او یا ټکې مرکب وی او معنی ورله کمه اوکړو . د معنی مثال د بدن او د لفظ مثال د جامې دې نو نه لنډول پکار دی او نه اوږدول .

## مشق

په لاندینې کلماتو کښې مفرد (کلمة) او مرکب جدا جدا کړئ :

اللّٰه ، رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ، پالونکې د مخلوقات ، هُدًى ، هدايت ، هُوَ ، هغه ، سَلَامٌ ، سلامتيا ، يَوْمُ الدِّيْن ، ورځ د بدلې ، نَسْتَعِيْنُ ، مدد غواړو مونږه ، ضَرَبَ اللّٰهُ ، بيانوی اللّٰه تعالى ، كَافِرُوْن ، انكار كونكی ، بِالْغَيْبِ ، په غيبو باندې ، رَزَقْنَاهُمْ ، چې وركړی دی مونږ دوئ له ، مِنْ قَبْلِكَ ، ستا نه مخكښې ، مَنْ ، څوک ، اَنْتُمْ ، تاسو ، هُمْ ، دوئ ، مُفْلِحُوْنَ ، كامياب ، يَكَادُ الْبَرْقُ ، نزدې ده بريښنا ، قَدِيْرٌ ، طاقت والا ، اِنَّ ، يقينًا ، قَالَ رَبُّكَ اووې رب ستا ، رَبِّ ، رب ځما ، وَاضْرِبْ ، بيان كه ته ، سَبِّحْ ، پاكی بيانوه ته ، بِحَمْدِ رَبِّكَ ، سره د ستائنې د رب ستا ، يَا قَوِمِ ، اې ځما قومه .

## دريم/۳ سبق

کلمه (مفرد) په درې قسمه دې : اسم ، فعل ، حرف .

**اِسم** نوم ته وائی هغه کلمه ده چې خپله معنی پخپله ښائې بل چا ته حاجت نه لری او د دې په معنی کښې هیڅ خاصه زمانه (وخت) نه وی . لکه مُؤْمِنٌ (منونکې) رَبٌّ (پالونکې) ، زَیْدٌ ، اِبْرَاهِیْمُ ، هُوَ (هغه) ، اَنْتَ (ته) ، اَنَا (زه) .

**د اسم نخښې**: په لاندینې نخښو به مونږ اسم پیژنو .

(۱) اَلْ په سر کښې راتلل لکه اَلْحَمْدُ ، اَلْخَالِقُ .

(۲) په آخر کښې تنوین راتلل ، هُدًی ، سَلَامٌ .

(۳) د چا یا د څه ځائی یا د څه نوم کیدل ، مُحَمَّدٌ (صلّی الله علیه وسلّم) ، مَکَّة ، بَاکِستان .

(٤) د دې یو څیز ته نسبت کیدل لکه رسول الله پیغمبر د الله نو د رسول نسبت الله ته شوې دې نو رسول اسم دې . رَبُّه (رب د هغه)

(٥) په آخر کښې غونډه تاء راتلل لکه نَاقَةٌ (اوښه) ، لَیْلَةٌ .

(٦) په سر کښې یو د دې ټکو نه راتلل : باء ، تاء ، کاف ، رُبّ ، علی ، عن ، الی ، فی ، لام ، لکه لله ، عَلٰی هُدًی .

## فعل

فعل کار ته وائی او په عربئ کښې هغه لفظ او کلمه چې پخپله خپله معنی ښائی چا ته حاجت نه لری او د دې په معنی کښې یوه خاصه زمانه (وخت) وی . لکه خَتَمَ ، مهر لګولې دې (نو دا تیر وخت

بنائی) ، يُخَادِعُوْنَ ، ټګی کوی دوئ (يعنی اوس لګيا دی) ، لَنْ تَفْعَلُوْا ، بالکل به اونکړئ تاسو (نو دا راروان وخت بنائی) .

**د فعل د پېژندګلو نخښې:**

(۱) چې په سر کښې سين ، سَوفَ ، قَدْ راشی ، لکه سَيَكُوْنُ ، سَوْفَ يَأْتِيْ ، لَقَدْ كَانَ .

(۲) اِنْ ، لَمْ ، لَمَّا ، لا د منع کولو ، لامِ مکسوره په سر کښې راتلل ، لکه اِنْ كُنْتُمْ ، لَمَّا يَذُوْقُوْا .

(۳) اَنْ ، لَنْ ، كَيْ ، اِذَنْ داخليدل ، لکه اَنْ يَّضْرِبَ ، لَنْ تَجِدَ .

(٤) په آخر کښې اوږده ساکنه تاء راتلل ، لکه كَفَرَتْ ، بَدَتْ .

(٥) په آخر کښې تَ ، تِ ، تُ ، تُمَا ، تُمْ ، نَا ، تُنَّ راتلل ، لکه اَنْعَمْتَ ، اَسْلَمْتُمْ ، لُمْتُنَّ .

(٦) په سر کښې اَ ، تاء ، يا ، نون راتلل ، لکه يُؤْمِنُوْنَ ، تُنْصَرُوْنَ ، اَعْلَمُ ، نَعْبُدُ .

## حرف

حرف طرف ته وائی په عربئ کښې هغه کَلِمه ده چې په خپله معنی خودلو کښې بل چا ته حاجت لری چې تر څو ورسره بل څه یو ځائی شوې نه وی نو معنی ترې نه معلومیږی ، لکه مِنْ ، اِلی ، بَاء وغیره .

د حرف د پیژندګلو نخښه دا ده چې مخکښې د اسم او فعل یو نخښه پکښې نوی .

## مشق

په لاندینو لفظونو کښې اسم ، فعل او حرف جدا جدا کړئ :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ، نَعْبُدُ ، نَسْتَعِيْنُ ، اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ، عَلٰى هُدًى ، اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ، وَبِالْاٰخِرَةِ ، سَلَامٌ عَلٰى نُوْحٍ فِى الْعَالَمِيْنَ ، اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ، مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ، لَقَدْ جَاءَكَ ، مِنْ نَّبَاِئ الْمُرْسَلِيْنَ ، كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ .

## څلورم/٤ سبق

چې څوک خبره کوی یا کار کوی نو هغه ته عرب فَاعِل وائی . چې کله خپل حال پخپله نقل کوی نو متکلم ورته وائی او چې کله هغه د خبرو په وخت کښې حَاضِر وی نو مخاطب ورته وائی او چې کله د خبرو په ځائی کښې نه وی نو ورته غائب وائی . لکه وَاِذْقُلْنَا ، په هغه وخت کښې چې اووې مونږ . دلته اوس خبره کونکې متکلم دې . یا اَسْلَمْتُ ، ما غاړه کیخودلې ده . دلته هم کار کونکې متکلم دې . مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ... هغه چې ښکاره کوئ تاسو او پټوئ

تاسو دلته اوس کار کونکي حاضر او مخاطب دي ، اُذْکُرُوْا ، یاد کړئ تاسو ، دلته هم مخاطب دي ، د غائب مثال لکه یَظُنُّوْنَ ... گمان کوی دوئ ، یُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ ، دهوکه کوی دوئ د الله سره ، دلته اوس کار کونکي غائب دي .

کله چي دا فاعل یو وی نو واحد ورته وائی او چي دوه وی نو تثنیه ورته وائی او چي ډیر وی د دوو نه نو جمع ورته وائی .

کله چي کار کونکي نر وی نو مذکّر ورته وائی او کله چي ماده وی نو مؤنّث ورته وائی . دا مذکّر والي او مؤنث والي کله په ساه والا ځیزونو کښي وی لکه اوښ ، اوښه ، رَجُلٌ ، اِمْرَأَةٌ ، او کله د ټکو د وجي وی لکه مونږ پښتو کښي ځني ټکی مذکر (نر) استعمالوو لکه قَلَمْ راکړه . ژبه بنده کړه غوږ اونیسه ، دلته قلم او غوږ مذکر او نر استعمالیږی او ژبه مونث ماده استعمالیږی . دغه شان عربئ کښي هم ځني ټکی هغه مذکر او نر استعمالیږی او ځني مونث او ماده استعمالیږی لکه شمس مونث استعمالیږی او قمر مذکر استعمالیږی.

په عربئ کښي کله په ځنو ټکو کښي د مونث نښه وی لکه غونډه تاء ، لنډ الف ، طلحة ، ناقة ، ضاربةٌ ، حُسْنی ، اوږد الف لکه حَمْرَاءُ ، پدی ټکو سره مونث پیژندلي شی .

## مشق

قُوْلُوْا اٰمَنَّا ، (اووایئ تاسو چي مونږ ایمان لرو) مَا وَلّٰهُمْ ، (څه شی واړول دوئ) ، اَتَجْعَلُ (آیا پیدا کوي ته) ، اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ (یقینًا دوئ

ګمراه کړی دی) ، اِنِّیْ مُرْسِلَةٌ (یقینًا ځه لیږونکې یم) ، یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ (ایمان لری دوئ په غیبو) ، وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ یُوْقِنُوْنَ (او په آخرت دوئ یقین کوی) رَزَقْنَاهُمْ (چې ورکړې دی مونږ دوئ لره) .

پدې مثالونو کښې مخاطب ، غائب ، متکلم جدا جدا کړئ سره د تثنيې او جمعې نه .

## پنځم سبق

## اسمِ ضمیر

**اسم** په دوه/۲ قسمه دې یو/۱ ضمیر او بل ظاهر .

**ضمیر** هغه وړوکې اسم چې د متکلم ، حاضر او د داسې غائب حال بیانوی چې د هغه ذکر مخکښې په یو طریقه سره شوې وی . لکه اَنَا ځه دا د متکلّم حال بیانوی ، اَنْتَ ته ، د مخاطب حال بیانوی ، هُوَ هغه ، دا د غائب حال بیانوی .

کوم ضمیرونه چې په فعل کښې راځی نو د هغې د ترجمې طریقه به ان شاء الله د فعل په بیان کښې لیکلې کیږی .

کوم ضمیرونه چې ځان له وئیلې شی لکه هُوَ ، هُمَا ، او اَنْتَ ، اَنْتُمَا ، او اَنَا نَحْنُ د دې معنی هم ځان له کیږی دا شپږ د غائب دی ، شپږ د مخاطب دی او دوه د متکلم دی .

هُوَ ، هُمَا ، هُمْ ، دا درې د غائب دی خو د مذکر دپاره اول د واحد دویم د تثني او دریم د جمع . هر کله چې دا په قران کریم کښې راشی نو د دې د ترجمې طریقه دا ده چې مخکښې به ګورو چې دا د چا حال بیانوی نو چې هُوَ وی نو دې له به مخکښې یو مذکر په کلام کښې ګوری او هُمَا له دوه او هُمْ له به ډیر ګوری . لکه هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَکُمْ ، (هغه خو هغه ذات دې چې پیدا کړی دی هغه ستاسو دپاره) هُمَا یَسْتَغِیْثٰنِ اللّٰهَ (هغه دواړه (مور او پلار) فریاد کوی الله تعالی ته) ، وَهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ (او دوئ نه پوهیږی) .

ضمیر د غائب چې د چا حال بیانوی نو هغې ته مَرْجِع وائی .

هِیَ ، هُمَا ، هُنَّ ، دا درې د مونث غائب دپاره دی . اول د واحد دویم د تثني دریم د جمع ، د دې د ترجمې کولو په وخت کښې دا کتل ضروری دی چې دا د چا حال بیانوی . لکه هِیَ رَاوَدَتْنِیْ (دې جینئ ما ته چل جوړ کړې وو) .

د هُوَ ترجمه په هغه او ده سره کیږی . د هِیَ ترجمه په هغې سره دې سره د هُمَا ترجمه کیږی هغه دواړه یا دا دواړه که دواړه درسره اونه وئیلی شی نو هم څه خبره نده . د هُمْ ترجمه په دوئ او هغوئ سره کیږی ، او د هُنَّ ترجمه په هغې او دې سره کیږی .

کله کله په یو فقره کښې دوه ضمیرونه یو شان راغلی وی نو دویم ضمیر ترجمه په خپل ټکی سره کیږی (دا د تجربې او کتو سره تعلق لری) . دا زده شو نو قران کښې دا ټکی په سووونو ځله راغلی دی د هغې معنی زده شوه .

**ضمير شان** كله كله ضمير د غائب راشي او مخکښې ئې څه وى نه چې د هغې بيان اوکړى ديته ضمير شان وائى ، يعنى د راروانې خبرې شان او اوچتوالې بيانوى لکه هُوَ اللّٰهُ کله د اِنَّهُ يعنى د اِنَّ پسى راشى اِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ يعنى شان دا دې چې نه کاميابيږى ظالمان . او که ضمير د مونث وى هِىَ يا اِنَّها نو بيا ورته ضمير قصه وائى يعنى قصه او واقعه دا ده ، څوک ديته هم شان وائى .

## د ضمير د غائب مشق

هُوَ الَّذِىْ اَنْزَلَ ، هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، هُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ ، هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ ، هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ (دوئ قوم سرکشه دى) .

## شپږم سبق

کچرته ته د چا او يا د يو څيز نسبت يو غائب ته کول غواړې نو اول به هغه څيز او هغه کس ذکر کړې بيا به ورپسې چې کوم قسم غائب ته نسبت کول غواړى نو هغه ضمير به ذکر کړې لکه د قوم نسبت يو غائب ته کول غواړې نو قَوْمُه به اووائى د رَبّ نسبت ډيرو کسانو ته کول غواړې نو رَبُّهُمْ به اووائې چې ربّ د دوئ . د مالونو نسبت ډيرو ته کول غواړې نو اوبه وائى اَمْوالُهُمْ ، د علم نسبت کول غواړى نو عِلْمُهَا علم د دې (قيامت) .

د دې ترجمې کولو طريقه په قران کريم کښې داسې ده چې د دواړو مينځ کښې به (ده) راځى لکه رَبُّه ربّ دده . قَوْمُه قوم دده .

کچرته په يو فقره کښې دوه ضميرونه راشي او د هغې معنى يوه وي يعنې د يو کس حال بيانوی نو د دويم معنى په خپل سره کيږی لکه قَالَ لِقَوْمِهِ اوويل (ده) قوم خپل ته . دلته قَالَ کښې هم د غائب ضمير دې او قَوْمِهِ کښې هم دې نو که داسې وائې چې اوويل ده قوم د ده ته نو هم صحيح ده خو بيا په مقصد پوهيدل آسان نه دی او چې داسې اووائې چې اووئ ده قوم خپل ته نو اوس په مقصد پوهيدل آسان شو.

کله کله د يو څيز نسبت غائب ته کيږی خو په ذريعه د يو حرف سره يعنې بې د څه واسطې نه نشی کيدلی نو مناسب حرف راوړې شی او هغې پسې ضمير راوړې شی لکه فِيْهِ (لَا رَيْبَ فِيْهِ) هيڅ شک نشته دې پديکښې نو د حرف مناسب معنى ده هغه به هغه شان کيږی او د ضمير د غائب معنى به هغه شان کيږی . لکه د لام معنى دپاره ده نو لَهُمْ معنى دپاره د دوئ يا لنډه معنى دوئ له پښتو کښې روستو والې مخکښې والې راشی نو خير دې د عَنْ معنى او د مِنْ معنى اکثر يو شان راځی نو عَنْهُ د ده نه ، مِنْهُ د ده نه وغيره .

## مشق

اِحْدٰيهُمَا ، دُوْنَهُمْ ، كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ ، اٰمَنُوْا بِهٖ ، عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ، مُرْسٰهَا ، اَبْنَاءِهِنَّ ، بُعُوْلَتُهُنَّ ، بِرَدِّهِنَّ ، عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ، بِهِمَا ، فِيْهِنَّ ، كُفْرُهٗ ، كِسْوَتُهُنَّ ، عَلَيْهِنَّ ، قَوْمَهُمَا ، كِتَابُهُمْ .

## د ټکو معنی

اِحْدی (یو) دون (علاوه) باء ، علی (په) مُرْسی (اودریدل) ابناء (ځامن) بُعُوْلَة (خاوندان) ردّ (واپس کول) قُلُوْب (زړونه) کفر (انکار) کسوة (جامې) کتاب (عملنامه) .

دغه ټکی او معنی اوس یو ځائ کړئ .

## اووم سبق

## ضمیر د مخاطب او متکلم

چې کوم وړوکې اسم د حاضر او یا د متکلم حال بیانوی لکه اَنْتَ ، اَنَا شو .

د مخاطب د ضمیر شپږ ټکی دی درې د مذکر دپاره راځی چې هغه دا حال بیانوی دا خبره چا سره کیږی نو هغه مخامخ دې او نَر دې هغه درې دی . اَنْتَ ، اَنْتُما ، اَنْتُمْ . د اَنْتَ معنی ده ته اَنْتُمَا تاسو دواړه اَنْتُمْ تاسو . او درې د مونث دی . اَنْتِ ، اَنْتُمَا ، اَنْتُنَّ ، په پښتو کښې د ترجمې فرق نه معلومیږی دا په قران کریم کښې ډیر راغلی دی نو چې د دې معنی زده شوه نو دا سوونو ټکو معنی زده شوه .

چې د متکلم حال بیانوی نو هغه دوه ټکی دی اَنَا نَحْنُ ، اَنَا معنی ځه او ما که ښځه وی او که سړې ، نَحْنُ معنی ده مونږ که دوه یا ډیر سړی وی او ښځی .

**فائده اهمه:-** په قران مجید کښې د الله تعالی دپاره د نَحْنُ یعنی د جمع ضمیر راځی دا په عربئ کښې د عزت دپاره استعمالیږی که په پښتو او بله ژبه کښې وهم د ډیر والی راځی چې نعوذ بالله څوک دا اووائی چې ډیر خدایان دی نو بیا خه خبره دا ده چې کوم ځائ د الله تعالی باره کښې نَحْنُ راغلې وی نو د هغې معنی په مَا سره اوکړې شی نه کښې په مونږ سره.

## اتم سبق

### دا ضمیرونه په اسم او حرف پسې

اوس که د یو څیز او یا د چا نسبت حاضر ته کول غواړی نو هلته به کَ ، کُمَا ، کُمْ ، کِ ، کُمَا او کُنَّ راوړې . یعنی که یو سړې ته ئې نسبت کوې نو کَ او که دوو سړو یا ښځو ته نو کُمَا او که ډیرو سړو ته نو کُمْ او ډیرو ښځو ته نو کُنَّ لکه رَبُّکَ (رب ستا) رَبُّکُمْ (رب ستاسو) وغیره.

او کچرته د یو څیز یا د چا نسبت متکلم (ځان ته) کول غواړی نو د هغه څیز پسې (ی) راوړه که یو ته او که دوو او ډیرو ته کول وی نو نَا ورپسی راوړه لکه رَبِّیْ (رب ځما) رَبُّنَا (رب ځمونږه).

کله کله د متکلم په ضمیر کښې دا یاء نشی لیکلې او مخکښې کسره د هغه یاء خبر ورکوی معنی کښې هغه د یاء معنی کولې شی . لکه رَبِّ معنی دا چې اې ربه ځما . یا قومِ اې قومه ځما . داسې په قران کریم کښې ډیر راځی.

## د دواړو سبقونو مشق

د لاندينی ټکو کښې ضميرونه هم اوپيژنئ او ترجمه ئی هم اوکړئ .

مِثْلُکُمْ ، مَثَلُهُمْ ، اٰبَاءُکُمْ ، وُقُوْدُهَا ، لَهُمْ ، تَحْتِهَا ، وَهُمْ فِيْهَا ، فَوْقَهَا ، مِنْ رَّبِّهِمْ ، مِيْثَاقِه ، اِلَيْه ، رَبُّکَ ، نَحْنُ نُسَبِّحُ ، بِحَمْدِکَ ، يقَوْمِ ، عِقَابِ ، رَبُّنَا ، اِلٰهُکُمْ ، نَفْسَه ، اٰبَاءِکَ ، بِمَکْرِهِنَّ ، خَطْبُکُنَّ ، کَيْدِیْ .

## د ګرانو ټکو معنی

| لفظ | معنی | لفظ | معنی | لفظ | معنی |
|---|---|---|---|---|---|
| مِثل | پشان | اباء | پلاران | وقود | خشاک |
| تَحت | لاندې | فوق | دپاسه | ميثاق | کلکول ، وعده |
| حمد | ستائل | عقاب | عذاب | مکر | چل |
| کيد | تدبير | خطب | مقصد | ربّ | پالونکی |

## نهم سبق

## د اِنّ او اَنّ وغيره روستو ضميرونه

هُمْ دا ضميرونه کله کله د اِنّ ، اَنّ ، لکنّ ، کَأَنّ ، لَيْتَ ، لَعَلَّ نه روستو راشی نو د دې ضميرونو معنی به هم دغه وی . صرف ورسره به د دغه ټکو معنی زياتولې شی لکه اِنَّه نو د اِنَّ معنی ده يقينًا ، بې شکه نو معنی به داسې وی چې يقينًا هغه د اِنّ او اَنّ دواړو يوه معنی

ده ، لكنّ معنی ده لیکن ، خو ، كَأَنَّ معنی ده کله چې د لیت معنی ده ارمان ، د لعلّ معنی ده کیدیشی . ورسره دغه ضمیرونه یو ځائ کړه نو معنی به ئ مکمل اوشی نو د دغه ټکی خیال ساتل ورسره د ضمیر خیال ساتل د معنی په وخت کښې ضروری دی .

واحد متکلم کښې اِنِّیْ او اِنَّنِیْ دواړه راځی او په جمع کښې اِنّا او اِنَّنَا دواړه راځی معنی به ئ یو شان کیږی .

## مشق

اِنَّکُمْ ، اِنَّه ، لَعَلَّکُمْ ، لَعَلِّیْ ، لَعَلَّنَا ، کَأَنَّه ، کَأَنَّهُمْ ، لَیْتَنَا ، لَیْتَنِیْ ، اِنَّهَا ، لکِنَّکُمْ ، اَنَّکُمْ ، اِنِّیْ ، بِأَنَّنَا ، بِأَنَّا .

نور تپوسونه هم کول پکار دی .

## لسم/۱۰ سبق

## د اِیّا نه روستو ضمیرونه

کار کونکی ته فاعل او په چا چې کار شوې وی نو هغه ته مفعول وائی لکه خَلَقَکُمْ ، پیدا کړی یئ تاسو . نو پیدا کونکې فاعل الله تعالی شو او کُمْ یعنی تاسو چې کوم پیدا کړې شوی دی نو دا مفعول شو . اوس دغه ضمیرونه د اِیّا نه روستو راځی معنی هم دغه

وی هغه هغوئ او تاسو وغیره خو دا په معنی کښې مفعول وی او چې معنی کوو نو په معنی کښې په ډیر ځایونو کښې د صِرف او د خاص معنی کولې شی لکه اِیَّاکَ نَعْبُدُ صرف ستا بندګی کوو مونږه. کله چې په فقره کښې د انّ وغیره نه روستو راشی نو بیا د صِرف معنی پکښې نه وی.

## مشق

اِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ ، فَاِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ، اِنَّا اَوْ اِیَّاکُمْ ، اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ، مَاکُنْتُمْ اِیَّانَا تَعْبُدُوْنَ.

## یولسم/۱۱ سبق

## اسمِ ظاهر

د ضمیر نه علاوه چې کوم اسمونه دی نو هغه ظاهر دی. لکه ابراهیم ، یعقوب ، الّتی ، الّذین ، مکّة ، مصر ، وغیره.

د اسمِ ظاهر درې قسمونه دی : مصدر ، مشتق ، جامد.

## اسمِ مصدر

مصدر ځائی د وتلو ته وائی دا هغه اسم دې چې د ده نه ډیز څیزونه جوړیږی او یو کار ښائی. د دې نخه دا ده چې پښتو کښې د دې معنی کښې ل او اردو کښې نا او په فارسئ کښې تَنْ او دَن راځی لکه

قَتْلٌ مصدر دې د دې معنی ده وژل ، اردو کښې مارنا، فارسۍ کښې کُشتن راځی .

د مصدر نه ډير څيزونه جوړيږی . لکه وهل دا يو مصدر دې پښتو کښې نو د دې نه وهل کړی وو ، وهل به اوکړی ، وهونکې ، وهلې شوې ، د وهلو ځائی ، د وهلو وخت ، د وهلو څيز لکه لَوړ ، دا ټول د دې وهلو نه جوړ شو دغه شان په عربۍ کښې د يو ټکی نه ډير جوړ شی .

د مصدر ځانله قالبونه دی چې په هغه قالب پوره وی نو هغه به مصدر وی کوم قالبونه چې قران کريم کښې ډير راغلی دی يو څو د هغې نه دا دی : فَعْلٌ لکه ضَرْبٌ (وهل) فُعْلٌ لکه کُفْرٌ (انکار کول) فِعْلٌ لکه کِذْبٌ (دروغ وئيل) عِلْمٌ (پوهيدل ، پوهه) فَعْلَةٌ لکه رَحْمَةٌ (مهربانی کول) فُعْلَانٌ لکه غُفْرَانٌ (بخښنه کول) فُعْلی لکه بُشْری (خوشحالول ، زيرې ورکول) فُعًی لکه هُدًی (لار ښودل) فَعَالٌ لکه ذَهَابٌ (بوتلل) فِعْلی لکه ذِکْری (نصيحت ورکول) مَفْعِلٌ لکه مَرْجِعٌ (واپس کيدل) فَعَالَةٌ لکه شَفَاعَةٌ (سفارش کول) .

داسې نور ډير قالبونه او تولونه دی چې په هغې سره يو ټکې اوتللې شی نو پته لږی چې دا مصدر دې نو د دې چې ټکې دغه شان راغلې وی نو معنی به هم داسې کوو په اکثری ځائ کښې چې پکښې په پښتو آخره کښې لام راشی لکه هُدًی لار ښودل .

کله مصدر کښې ټکی زيات شی نو معنی کښې هم ډيروالې راشی لکه کَسْبٌ کارکول او اِکْتِسَابٌ په ګرانه يو کار کول پکښې کوشش کول

قَتْلٌ وژل او قِتَالٌ جنګ کول صَرْفٌ اړول تَصْرِيْفٌ اړول راړول او تَصَرُّفٌ اختيار د اړولو لرل ذِكْرٌ يادول تَذَكُّرٌ بيا بيا يادول سوچ کول تَذْكِيْرٌ بل ته يادول .

د دی د معنی معلومولو طريقه د لغت د کتاب نه داسې ده چې دا مصدر اوتلې او په قالب ئ برابر کړې او کوم ټکی چې په فاء او عين او لام برابر شو نو د عربئ په ډکشنرئ کښې به هغه اوګورې نو ډيرې معنې به ليکلې وی لکه كُفْرٌ مونږ اوتلو په قالب نو فُعْلٌ نو کاف ، فاء ، راء به د لغت په کتاب کښې راوړوو نو هلته به ئې معنی ليکلې وی .

د مصدر يو قسم داسې دې چې د فعل په کلمه باندې اَنْ يا مَا يا لَوْ راشی نو هغه فعل بيا د مصدر معنی ورکوی لکه اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا ، د بيانولو د الله مثال لره ، يا خَبِيْرٌ ۢبِمَا تَعْمَلُوْنَ خبردار په عمل ستاسو ، لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ اړول د دوئ تاسو له دلته اوږده معنی هم کولې شی چې اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا دا چې بيان کړی الله تعالی مثال لره او لنډه آسانه د مصدر معنی اوکړه د بيانولو د الله مثال لره ، دغه شان دا نور ټکی .

**فائده:-** چې ځکاره مصدر راغلې وی نو په هغې کښې کار کونکې يعنی د فاعل د خودلو ضرورت نه وی لکه وَتَصْرِيْفِ الرِّيَاحِ او په اړولو د بادونو کښې اوس دلته بادونه الله تعالی اړوی نو د دې خودلو ته ضرورت نشته دې او کله چې په فعل اَنْ ، ما راشی او د هغې نه مصدر جوړ شی نو د هغې په معنی کښې کار کونکې او زمانه ښودل ضروری دی . لکه اَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ وئيل ستاسو په الله باندې .

مصدر كله په خبره كښې داسې وى چې په هغې كښې فاعل ته اشاره وى او كله پكښې مفعول ته اشاره وى لكه يو خَلقٌ دې نو د دې يو معنى پيدا كول دى او بل پيدا كيدل نو اول كښې فاعل ته اشاره وى او دويم كښې مفعول ته اول ته معلوم دويم مجهول وائى او كله مصدر د فاعل او مفعول معنى وركوى لكه تَنْزِيْل په معنى د مُنَزَّل او اَنْ يُّفْتَرى په معنى د مُفْتَرًى باندى ، داسې ډير دى . او كچرته د مصدر صفت خپل فاعل يا مفعول راشى نو بيا معنى كښې كلكوالې پيدا كوى لكه حِجْرًا مَّحْجُوْرًا بند مضبوط .

## مشق

په لاندينې ټكو كښې مصدرونه اوپيژنئ او معنى ئې د لغت نه معلومه كړئ.

بِمَا كَسَبُوْا ، اِخْتِلَافًا ، فَضْلٌ ، خَطَأً ، فَوْزٌ ، مَوْتٌ ، كَرْهًا ، اِسْتِبْدَالٌ ، اَنْ تَكْرَهُوْا ، بِمَا تَصْنَعُوْنَ ، وَاَنْ تَصْبِرُوْا ، اَنْ يَّتُوْبَ ، ظُلْمٌ ، التَّعَفُّفُ ، اِلْحَافًا ، كَمَا يَقُوْمُ ، اَمْرُهُ ، وَاَنْ تَصَدَّقُوْا ، وَاَنْ تَصُوْمُوْا .

## دولسم/۱۲ سبق

## اسمِ مشتق

كوم اسم چې د مصدر نه جوړ شوې وى نو دغه يو/۱ كس ښائى دويم هغه د مصدر معنى ښائى . لكه د كُفْرٌ نه كَافِرٌ نو د اسم يو

انکار خائی دویم چې چا انکار کړې دې هغه ښائی نو د دې يو ځائی معنی ده : انکار کونکې ، دا اسم څو قسمه دې :

(۱) **اسم فاعل** :- دا هغه اسم دې چې کار کونکې ښائی د دې د پیژندګلو نخښه دا ده چې دا یو/۱ په قالب او تول د فُاعِلٌ باندې وی او کله په تول او قالب د صَافٌّ یعنی آخر کښې به ئی شدّ وی او کله په تول د فَاعٍ وی لکه دَاعٍ شو . چې کله دوه کسه ښودل غواړې نو الف نون ورسره کړه او یا یاء نون خو چې د یاء نه مخکښې فتحه وی لکه کَافِرَانِ کَافِرَيْنِ (دوه انکار کونکی) او چې ډیر ښودل وی نو واو نون او یا یاء نون خو چې د یاء نه مخکښې کسره وی لکه کَافِرُوْنَ او کَافِرِیْنَ (ډیر انکار کونکی) . او چې کله ئی په آخر کښې تاء اولږی نو بیا مؤنث شی او چې ورسره د تاء الف او تاء شی نو جمع مونث شی لکه کَافِرَةٌ یوه ښځه یا ډله انکار کونکې او کَافِرَاتٌ (ډیر انکار کونکې ښځی یا نفسونه) .

او چې کله پدې لاندې قالبونو او تولونو راشی نو هغه د فاعل جمع وی . فَعَلَةٌ (خَزَنَةٌ) فُعَّالٌ (كُفَّارٌ) فُعَّلٌ (رُكَّعٌ) فُعُوْلٌ (سُجُوْدٌ) فُعْلٌ (كُفْرٌ) فُعَلَاءُ (عُلَمَاءُ) اَفْعَالٌ (اَنْصَارٌ) فِعَالٌ (نِصَارٌ) .

دا ټول د کار کونکې جمع ښائی . د كُفَّارٌ معنی ده انکار کونکی .

چې کله داسې ټکی په قران کریم کښې راشی نو د دې د معنی د معلومولو طریقه دا ده چې کوم پدیکښې سوائی ټکی دی نو هغه به لرې کړې او کوم چې د فاء او عین او لام ته مخامخ دی نو هغه به د لغت په کتاب ـ مصباح اللغات ، قاموس الوحید ، منجد وغیره ـ

كنبې اوګورى نو په هغې كنبې د مصدر معنى ليكلى وى بيا به ورسره ته هغه د كس معنى يو ځائى كړى لكه تا د كَافِرُوْنَ نه زياتى ټكى لرې كړل الف ، واو او نون نو كاف ، فاء ، راء دې لغت كنبې اوكتل نو هغوئ ليكلى وو چې انكار كول نو اوس د كَافِرٌ معنى اوكړه انكار كونكې بيا يا د جمع او يا د تثنيې او مذكر وغيره معنى به كوې .

د اسمِ فاعل د پېژندګلو دويمه نخښه دا ده چې په سر كنبې ئې ميمِ مضموم راغلې وى او د آخر نه مخكنبې ټكى باندې كسره وى لكه مُشْرِكٌ ، مُوَحِّدٌ ، داسې قران كنبې ډير دى د دې نه هم دا ميم او نورې نخښې لرې كړې چې د فاء او عين لام ته مخامخ كوم راغلى وو نو هغه به اوګورې بيا به معنى كوې خو د ترجمې په وخت كنبې خيال ساتل پكار دى چې دا به د اسمِ فاعل ټكې وى نو معنى به هغه شان كول غواړى مُفْلِحُوْنَ كاميابيدونكى ، كامياب ، مُشْرِكُوْنَ حصه دار جوړونكى دغه شان نور ټكى .

په اسمِ فاعل كنبې زمانه نه وى خو كله چې دا ټكى د قيامت خبرو كنبې راشى نو بيا به پكنبې د راروان وخت معنى كولې شى . لكه اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ، يقينا ته راجمع كونكې ئى خلقو له نو دا اوس د راروان وخت معنى ښائى .

## مشق

(۱) د اسم فاعل د جوړولو طريقه اوليكئ ؟

(۲) د يَكْفُرُ ، يَأْمَنُ ، يَرْفَضُ ، يُوَحِّدُ ، يُشْرِكُ ، يُقَاتِلُ ، تَنَاصَرَ ، يُزَحْزِحُ نه اسمِ فاعل صيغی جوړې کړئ ؟

(۳) غَافِرُ الذَّنْبِ ، اَلْكٰفِرُوْنَ ، اَلْمُشْرِكُوْنَ ، قَاتِلَةٌ ، كَافِرَةٌ ، مُؤْمِنُوْنَ دا د څه څه صيغی دی ؟

## دیارلسم سبق

### اسمِ مفعول

(۲ ) **اسمِ مفعول**:- دا هغه اسم دې چې په چا دا مصدری معنی واقع شوی وی هغه ښائی لکه مَنْصُوْرٌ دا هغه کس خائی چې د چا مدد شوې دې د دې د پيژندګلو نخه دا ده چې يو په تول او قالب د مَفْعُوْلٌ راغلې وی بيا د تثني جمع او مذکر مونث حال د مخکښې پشان دې دا ميم او واو دلته ذاتی دی . چې کوم د فاء او عين لام ته مخامخ دی دا د لغت د کتلو دی . دويمه نخه ئې دا ده چې په سر کښې ميمِ مضموم راغلې وی او د آخر نه مخکښې ئې فتحه وی يعنی مينځ کښې پکښې زير نه وی لکه مُرْجَوْنَ (روستو کړې شو) .

چې کله د اسمِ مفعول د ټکی معنی کيږی نو په هغې کښې به د دې خيال ساتې چې د مصدری معنی او دويم هغه کس اوښائی خو په داسې طريقه چې هغه کار پرې واقع وی يعنی د هغه سره هغه معامله شوی وی لکه مَنْصُوْرٌ چې مدد ئې کړې شوې دې .

دا ټکي د مفعول هم چې کله د قيامت په باره کښې راشي نو بيا به د راتلونکې زماني معنی خائی لکه مَّجْمُوْعٌ لَّه النَّاسُ (جمع به کړې شی ديته خلق) نو د يُّجْمَعُ معنی به ورکوی

## مشق

(۱) د اسمِ مفعول د جوړولو طريقه اوليکئ ؟

(۲) يُنْصَرُ ، يُقَاتَلُ ، يُكْرَمُ نه صيغی د اسمِ مفعول جوړې کړئ ؟

(۳) الْمَنْصُوْرُوْنَ ، مَحْجُوْبُوْنَ ، مَمْدُوْدَةٌ ، مُدْهَامَّتَانِ ، مَرْفُوْعَةٌ ، مَنْضُوْدٌ ، مَسْكُوْبٍ دا د څه صيغی دی ؟

## څوارلسم سبق

## صفتِ مشبهه

(۳) **صفت مشبهه** :- کوم اسم چې دا ښائی چې دا معنی په دا کس داسې پرته ده چې جدا کيږی ترې نه ورسره هميشه ده . لکه رَحِيْمٌ هميشه رحم کونکې چې دا رحم ئی صفت دې بالکل ترې نه جدا کيږی .

د صفتِ مشبهه د پيژندګلو نخښه دا ده چې پدې لاندې قالبونو او تولونو وی :

(۱) فَعِيْلٌ : نَصِيْرٌ مددګار ، عَلِيْمٌ پوهه (۲) فَعَلٌ : حَسَنٌ خائسته (۳) فُعُلٌ : جُنُبٌ (٤) فُعَالٌ : شُجَاعٌ بهادر فُرَاتٌ تنده ماتونکې (٥) فَعْلٌ :

بَرٌّ احسان كونكي (٦) فَعِلٌ : وَجِلٌ يريدونكي فَرِحٌ خوشحاله (٧) فُعْلٌ : حُرٌّ آزاد صُلْبٌ كلك (٨) فَعِّلٌ : طَيِّبٌ پاک (٩) فَعُوْلٌ : غَرُوْرٌ دهوكه باز (١٠) فُعُّوْلٌ : قُدُّوْسٌ پاک (١١) مِفْعِيْلٌ : مِسْكِيْنٌ (١٢) فُعْلَانٌ : عُرْيَانٌ بربنډ .

د تاء لګولو سره مونث شی او د تثني او جمع خبره ئی زَړه ده . جمع د دې د اَفْعِلَاءُ ، فُعَلَاءُ ، فَعَائِلُ باندې راځی . د اَفْعَلُ قالب چې كله په معنی د رنګ او عيب وی نو دا هم صفت مشبهه ده لکه اَحْمَرُ ، اَحْمَقُ.

د صفتِ مشبهه دا خصوصيت دې چې پديکښې هغه معنی پرته وی لرې کيږی ترينه نه او په اسمِ فاعل کښې نوې والې وی .

چې كله دا صفتِ مشبهه د الله تعالی په نومونو كښې وی نو بيا فاعل هم په معنی د صفتِ مشبهه وی ځکه دغه صفت د الله تعالی نه نه جدا کيږی لکه عَالِمٌ او عَلِيْمٌ په يو معنی دی او نَاصِرٌ او نَصِيْرٌ .

د فَعِيْلٌ قالب په معنی د فاعل او مفعول دواړو راځی لکه قَتِيْلٌ په معنی د مَقْتُوْلٌ او قَاتِلٌ دواړو راځی ځنې ځايونو کښې قران کريم کښې دواړه معنې راځی هر ځائی داسې نه وی .

## مشق

(١) د صفتِ مشبهه تعريف او د جوړولو طريقه څه ده ؟

(٢) د رَحِيْمٌ ، كَرِيْمٌ ګردان اوليکئ ؟

(٣) فُقَرَآء ، اَلْعُلَمَآء ، اَنْصَار ، نَصِيْرٌ ، قَبِيْلَةٌ ، رَووفٌ ، وَجِلُوْنَ دا د څه صيغې دی ؟

## پنځلسم سبق

## اسمِ تفضيل

(٤) **اسمِ تفضيل**:- کله چې داسې کار کونکې ښودل وی چې هغه کښې هغه معنی زياته وی د بل کس په نسبت باندې لکه دوه کسه دی دواړه په خبره پوهه دی خو يو د بل نه ډير پوهه دې نو د هغې دپاره چې کوم اسم راوړې شی نو هغه اسمِ تفضيل دې . اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا (کوم يو په تاسو کښې ډير خائسته دې په عمل کښې).

د دې نخښه دا ده چې دا د مُذكّر دپاره په تول او قالب د اَفْعَلُ راځی او د مونث دپاره په تول او قالب د فُعْلى راځی .

د معنی کولو په وخت کښې د دې خيال ساتل پکار دی چې دوه طرفه معلوم وی يو هغه چې په هغې کښې هغه معنی ډيره وی او بل د هغې مقابله چې پکښې د هغه مصدر معنی لږه وی .

او کله چې د الله تعالى په نومونو او صفتونو کښې دا راشی نو ځنې عالمان دا وائی چې پديکښې مقابلې ته حاجت نشته دې دا بيا د فاعل او صفت مشبهه په معنی باندې وی . لکه اَعْلَمُ په معنی د عالم او عليم دې . والله اعلم نو دلته دې ته ضرورت نشته دې چې ښه

پوهه او ډير پوهه د بل چا نه ځکه د اللهٰ صفت زياتيږى او كميږى نه . او ځنى وائى چې دا ظاهر په طور وئيلى دى نو جائز ده .

كله چې د اللهٰ په صفتونو كښې د اسمِ تفضيل اضافت اسمِ فاعل ته اوشى نو دا په معنى مصدرى كښې كمال پيدا كوى . لكه اَرْحَمُ الرّاحِمِيْنَ مطلب كامل رحم كونكې . او دغه شان كه د خَيْر او اَحْسَن اضافت اسمِ فاعل ته اوشى لكه خَيْرُ الرَّاحِمِيْنَ غوره رحم كونكې .

اسمِ تفضيل اكثر د فاعل په معنى وى سره د ډير والى د ښودلو نه سوا د يو څو ټكو نه چې هغه د مفعول معنى وركوى ، يو اَحَبَّ په معنى د محبوب اَشْهَرُ په معنى د مشهور او اَشْغَلُ په معنى د مشغول باندې دا روستى دوه په قران كښې نشته .

خَيْرٌ او شَرٌّ او حَبٌّ په تول د اَفْعَلُ نه دى او معنى ئې د اسمِ تفضيل ده.

## مشق

(۱) د اسمِ تفضيل د جوړولو طريقه اوليكئ ؟

(۲) د يَنْصُرُ ، يَضْرِبُ نه د اسمِ تفضيل صيغى اوليكئ ؟

(۳) اَعْلَمُ ، اَقْرَبُ ، اُخَرُ ، يُسْرٰى ، حُسْنٰى ، دُنْيا د څه صيغى دى ؟

## شپاړلسم سبق

### اسمِ مبالغه

(۵) **اسمِ مبالغه**:- كله چې دا ښودل وی چې دې كار كونكې دا كار ډير كړې وی او دا ډير والې ښكاره كول وی. صرف ډير والې وی يعنی د بل مقابله پكښې نه وی لكه يو صرف خوړونكې دې بل چې ډير زيات خوړونكې وی نو صرف خوړونكې وی نو اٰكِلٌ او چې ډير خوړونكې وی نو اَكَّالٌ، كَافِرٌ انكار كونكې كَفَّارٌ غټ كافر ډير انكار كونكې.

دا لاندينې قالبونه او تولونه د مبالغې دی :

فَعَّالٌ (غَفَّارٌ)، فَعُوْلٌ (كَفُوْرٌ)، فِعِّيْلٌ.

دا اول دوه په قران كښې ډير راغلی دی.

چې كله د مخلوق په صفتونو كښې راشی نو ډير والې ښائی لكه كفّارٌ وغيره شو. او كله چې د الله په صفتونو كښې راشی نو يوه معنی دا ده چې بغير د مبالغې او سره د مبالغې دواړه يو شان وی. د غَافِر غَفَّار او غَفُوْر معنی يوه ده، عَالِم عَلَّام، عَلِيْم معنی يوه ده.

دويمه معنی دا ده چې كه دا په داسې صفت كښې راغلې وی چې د هغې د الله نه نفی كول ضروری وی يعنی د الله پاكی د هغې نه ضروری وی نو هلته هغه ډير والې پاكولو او نفی كولو ته بوځه. لكه مَا اَنَا بِظَلَّامٍ نه يم ځه بالكل ظلم كونكې دا معنی مه كوه چې ډير ظلم كونكې، ځكه بيا دا شک راځی چې ولې ډير ظلم نه

كوی نو لږ لږ کوی او که په اسماء حسنی د کمال صفتونو کښې دا راشی نو هلته هغه ډير والې آسان والی ته بوځه لکه فَعَّال په آسانه کونکې ، خَلَّاق په آسانه پيدا کونکې تَوَّاب په آسانه رضا کيدونکې او يا دوباره والې او تکرار ته بوځه د تَوَّاب معنی بيا بيا توبه قبلونکې او د غَفَّار معنی بيا بيا معاف کونکې .

## مشق

## اوولسم سبق

## اسمِ ظرف

(٦) **اسمِ ظرف**:- چې کله د مصدری معنې کولو ځائ او وخت ښودل وی نو د هغې دپاره چې کوم راځی نو هغې ته ظرف وائی لکه مَسْجِدٌ د سجدې کولو ځائ . د دې د پېژندګلو نخښه دا ده چې د دې د تول مَفْعِلٌ او مَفْعَلٌ راځی او جمع ئې مَفَاعِلُ باندې راځی . دا هم ځائ ښائی هم وخت ښائی او کله دا وزن د مصدر په معنی هم راځی . لکه مَرْجِعٌ معنی ځائ د واپسئ ، وخت د واپسئ ، او واپسی ، واپس کيدل دغه شان مَصِيْرٌ شو .

(٧) **اسم آله**:- چې کوم څيز په ذريعه معنی مصدری موجوديږی نو هغه اله دَه لکه د کهلاؤ وهلو څيز مِفْتَحٌ کنجئ ته وائی . د دې نخه دا ده چې په سر کښې ميم مکسور راغلې وی مِفْعَلٌ ، مِفْعَلَةٌ ، مِفْعَالٌ په قالب راځی . مِفْتَاحٌ او جمع ئی مَفَاعِلُ او مَفَاعِيْلُ په تول باندې راځی .

## د ټول اسمِ مشتق مشق

الْمُفْلِحُوْنَ ، المُتَّقِيْنَ ، غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ ، مَالِكِ ، رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ ، عَذَابٌ عَظِيْمٌ ، هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ ، مُصْلِحُوْنَ ، السُّفَهَاءُ ، مُهْتَدِيْنَ ، صُمٌّ ، بُكْمٌ ، عُمْيٌ ، صَيِّبٌ ، مُحِيْطٌ بِالْكَافِرِيْنَ ، قَدِيْرٌ ، اَنْدَادٌ ، مُطَهَّرَةٌ ، خَالِدُوْنَ ، اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ ، الْوَارِثُ ، كَفَّارٌ اَثِيْمٌ ، حَلَّافٌ ، هَمَّازٌ ، مَشَّاءٍ بِنَمِيْمٍ ، عُتُلٍّ ، زَنِيْمٌ ، الْمُكَذِّبِيْنَ ، اَلْحَآقَّةُ ، وَالصّفّتِ ، النّزِعَاتِ ، فَالْفرِقتِ ، المُرْسِلتِ ، فَالْمُقَسِّمتِ ، فَالْمُلْقِيتِ ذِكْرًا ، وَجِلُوْنَ ، فَرِيْقَانِ ، حَسَنَةً ، فَرِحُوْنَ ، قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ، مَفَاتِحُ الْغَيْبِ ، مَسَاجِدَ للّٰهِ ، مَوَاقِعِ النُّجُوْمِ ، بِالْمِرْصَادِ ، اَصْحَاب ، اَنْصَار ، الْعُلَماءُ ، مَرْجِعُكُمْ ، اِلَى الْمَرَافِقِ ، صَعِيْدًا طَيِّبًا ، الْخَبَآئِثُ ، طَيِّبتٌ ، شَعَائِرَ اللّٰهِ .

## اتلسم سبق

## اسمِ جامد

جَامِد اوچ كلك ته وائى دا هغه اسم دې چې نه ده چا نه جوړ شوې وى او نه د ده نه څه جوړيږى . د ده په معنى څه بد يا ښكلې صفت نه وى ، لكه رَجُلٌ معنى ده سړې نو صرف د سړى معنى ترې معلوميږى نه پكښې څه خه صفت شته لكه علم او نه بد لكه جهل هيڅ صفت پكښې نشته . دا تثنيه كيږى او جمع كيږى چې الف نون او يا ياء نون ورسره شى رَجُلَانِ رَجُلَيْنِ شو او جمع شى لكه رِجَالٌ او د جمع قالبونه ئې ډير دى لكه فُعْلٌ ، اَفْعِلَةٌ ، اَفْعَالٌ ، اَفْعُلٌ ،

فُعُوْلٌ ، اَفَاعِيْلُ ، فَوَاعِلُ ، فَوَاعِيْلُ ، فَعَالِلُ ، پدې باندې ئی كله په يو او كله په بل جمع راځی .

د دې معنی د معلومولو طريقه دا ده چې د فاء او عين او لام نه علاوه كوم ټكی سوا وی اكثر پكښې الف يا الف نون آخره كښې يا واو نون يا ياء نون يا په سر كښې همزه مينځ كښې سين او تاء يوځائی يا په آخر كښې اوږده تاء چې مخكښې ترې واو او يا ياء وی دا ټكی اكثر زيات راځی دا به ترې لری كړې دغه شان په جمع كښې چې كوم سوا ټكی ښكاری د فاء او عين او لام ته چې مخامخ وی د هغې نه علاوه به ترې لرې كړی او د لغت په كتاب كښې به ئی اوګورې نو معنی به ئی معلومه شی .

د دې معنی قران كريم كښې صرف معلومول ګران وی نور كول آسان وی ځكه نور څه نه وی صرف هغه معنی وی خو مناسب د ځائی سره معلومول د استاذ يا صحيح كتاب نه كيږی .

## مشق

رَعْدٌ ، بَرْقٌ ، قُلُوْبُهُمْ ، اَبْصَارُهُمْ ، نَارٌ ، اَنْدَادًا ، اَلْحِجَارَةُ ، وَقُوْدُهَا ، اَلْاَنْهَارُ ، بَعُوْضَةٌ ، اَلْكَوَاكِبُ ، الشَّمْسُ ، وَالْقَمَرُ ، وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ، قَمْطَرِيْرًا ، زَنْجَبِيْلًا ، كَافُوْرًا ، عَبُوْسًا ، زَمْهَرِيْرًا ، اَلْعَصْفُ ، صَلْصَالٍ ، كَالْفَخَّارِ ، سَلَاسِلَ ، اَغْلَالًا ، اَلْاِنْسَانُ ، سَرَابٌ ، الزُّجَاجَةُ ، دُرِّيٌّ ، زِيْتُوْنَة ، شَجَرَةٌ .

د دې ټكو معنی معلومه كړئ .

## نورلسم سبق

### الّذی ، الّذین ، الّتی وغیره

یو په اسمونو کښې هغه الّذی او الّذین وغیره دی دیته په عربئ کښې **اسمِ موصول** او ګڼړو ته **اسماءِ موصوله** وائی .

دا هغه نیمګړی اسمونه دی چې ترڅو ورپسی کلام نوی ذکر شوې نو د دوئ معنی نه پوره کیږی هغه ورپسی چې ذکر وی نو هغې ته د دوئ **صله** وائی .

د الّذی معنی ده هغه کس یا هغه ذات چې د الله تعالی باره کښې راشی چې دوه کسان وی نو الّذَیْنِ او الّذَانِ راځی او چې ډیر وی نو الّذِین راځی چې هغه کسان .

او د الّتی معنی ده هغه ښځه دا د مونث دپاره راځی که هغه هر څه وی او د دوو دپاره الّتَینِ او د ډیرو دپاره الّلاتی ، اللّآئی راځی .

اوس چې ته الّذی الّذی کوی چې هغه کس یا هغه ذات نو خبره نیمګړی ده هیڅ پته نه لګی خو چې ورپسې اووائې چې الّذی خَلَقَکُمْ هغه ذات چې تاسو ئې پیدا کړی یئ ، نو خبره پوره شوه .

څما ډیر محبوب او ګران استاذ شیخ القران مولانا ولی الله صاحب کابلګرامی رحمه الله تعالی به فرمائیل چې د الّذی او الّذین وغیره معنی د راروان کلام نه زده کوه که چرته راروان د عزت او قابل قدر خبره وه نو د الّذی او الّذین معنی هم د عزت او نیک بخته اوکړه لکه الّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ هغه بختور چې ایمان لری په غیبو باندې . او

كله چې وِرپسې خبره بې عزته او سپکه وه نو د دوئ هم سپکوالې دې لکه الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه بدبخته چې انكار ئې كړې دې .

او پداسې طريقه ذكر كولو كښې دا هم وى چې ورپسې يا ثواب او عذاب ذكر وى نو پداسې ذكر كولو كښې د هغې دليل هم شى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ اوس دلته كښې صرف داسې وئيلې وې چې دوئ له عذاب دې نو د عذاب سبب نه معلوميدلو او چې كله پداسې طريقه اووې نو د عذاب سبب معلوم شو چې كفر دې . دغه شان ډير ځايونه دى .

چې كله دا دِ زده كړل نو څومره ځله به په قران كښې دا راغلى وى هغه ټول زده شو . اووايه الحمد لله هسې خلق وائى چې قران ګران دې څومره آسان كتاب دې .

## مشق

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ ، الَّذِىْ خَلَقَ لَكُمْ ، رَبَّنَا اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّنَا ، وَاللَّاتِىْ يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ ، كَالَّتِىْ نَقَضَتْ غَزَلَهَا ، وَاللّآئِىْ لَمْ يَحِضْنَ ، الَّذِيْنَ امَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنّتٌ ، الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللهِ زِدْنهُمْ عَذَابًا ، الّتِىْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ، اللّاتِىْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ .

## شلم سبق

### هذا ، ذالک ، اولئک وغیره

په اسمونو کښې دا یو قسم اسمونه دی چې دیته اسماءِ اشارات یا اسمِ اشاره وائی . پدې سره اشاره کیږی داسې څیز ته چې هغه په سترګو ښکاری یا دومره یقینی وی داسې پرې یقین وی لکه چې په سترګو ښکاری .

چې د دې اسمونو معنی کوی نو په څو څیزونو به سوچ کوې یو خو اشاره کونکې دې نو دا خو خبره کونکې وی اشاره هغه کوی دویم/۲ چې کوم څیز ته اشاره کیږی دریم/۳ مخاطب یعنی چې چا سره خبره کیږی او هغه ته هغه څیز ښودلې کیږی . چې کله دې څیزونو ته سوچ اوکړې نو د دې په مقصد به پوهیږی لکه ذَالِکَ الْکِتَابُ ، اوس دا خبره د الله تعالی ده نو اشاره کونکې الله تعالی دې او اشاره کیږی کتاب ته چې ورپسې ذکر دې او اوریدونکې چې چا سره خبره کیږی نو هغه نبی علیه السّلام دې چې کَ سره معلومه شوه .

چې کله یو څیز ته اشاره کوی او هغه نر وی نو ذَا راځی چې دوو ته نو ذَانِ او ذَیْنِ او چې ډیرو ته نو اُولآءِ راځی .

د دې په سر کښې د خبرداری او ویښولو پاره هاء راوړلې شی نو هذا شی . دا د خبرداری دپاره چې خبردار دا ....

چې کله یو ځیز ته اشاره وی او هغه مونث وی نو د هغې دپاره هذه ، تلک راځی . او چې جمع دپاره د مونث اشاره کول وی نو تِلک راځی ، او اُولآءِ هم راځی .

چې کله پکښې لام نه وی او نه کاف نو دا د نزدې دپاره وی هذا او چې صرف کاف وی لام نه وی نو داسې ځیز ته اشاره وی چې نه لرې وی او نه نزدې وی ذَاکَ او چې لام او کاف پکښې راشی نو دا د لرې دپاره اشاره وی لکه ذَالِکَ شو .

چې کله آخر کښې کَ وی نو خبره یو کس سره ده چې کُمَا وی نو دوو سره ده او چې کُمْ وی نو ډیرو سره ده او چې کِ وی نو یوې ښځې سره خبره ده او چې کُمَا وی نو دوو سره او چې کُنَّ وی نو ډیرو ښځو سره خبره ده .

ذَا سره اشاره یو ځیز ته هم کیږی او تیرو ډیرو ځیزونو ته هم کیږی چې په مذکورٌ سره یو شی .

| | |
|---|---|
| ذَالِکَ | دا تا ته وایم |
| ذَالِکُمَا | دا تاسو دوو ته وایم |
| ذَالِکُمْ | دا تاسو ته وایم |
| تِلْکَ | دا تیر تا ته وایم |
| اولئکَ | دا خلق تا ته وایم یا دا ښځې تا ته وایم . |

کله یو څیز د ډیر لوئ درجې والا او شان والا وی نو د هغې دپاره ذَالِکَ راشی چې دا د لوئ شان والا کتاب ، نو دا اګر چې لرې نه وی خو درجه ئې ډیره لرې او اوچته ده . او کله ښکاری نه خو زړه کښې داسې یقینی وی لکه چې ښکاری لکه تِلْکَ عَادٌ . چې کله دې ګرانه د قران طالب جانه دا ټکی زده کړل نو د قران کریم د سوونو ټکو معنې دې زده کړی .

خو معنی کښې سوچ کوه چې اشاره څه ته کیږی او خبره چا سره کیږی لکه لاندې مشق سره خواری اوکړه .

## مشق

ذَالِکُمُ اللّٰهُ رَبُّکُمْ ، تِلْکَ الْجَنَّةُ ، فَذَالِکُنَّ الَّذِیْ لُمْتُنَّنِیْ فِیْه ، ذَالِکُمَا مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ ، تِلْکَ عَادٌ ، تَلْکَ الرُّسُلُ ، تِلْکُمُ الْجَنَّةُ الَّتِیْ ، هذِهِ النَّارُ الَّتِیْ ، هذَالْوَعْدُ ، فَذَانِکَ بُرْهَانِنِ ، تِلْکَ الْاَیَّامُ نُدَاوِلُهَا ، مَالِ هذَا الْکِتَابِ ، اُولئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ، اُولِئِکَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ .

## یوویشتم سبق

## مَنْ او مَا

په قران مجید کښې مَنْ په څو معنو راغلې دې :

(۱) مَنْ په معنی د الَّذِی یعنی هغه څوک ، هغه کس ذَرْنِیْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِیْدًا یعنی په معنی د الّذی دې الّذی هغه کس چې خَلَقْتُ وَحِیْدًا .

(۲) د ځوک په معنی خو د شرط معنی پکښې وی نو روستو ئې جواب راځی لکه مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ اَجْرُهُ یا مَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ .

(۳) د یو انسان باره کښې په ده سره سوال او تپوس کیږی مَنْ اَنْبَاَكَ هٰذَا .

(٤) په معنی د مَا یعنی هغه څه په معنی هم راځی لکه وَمِنْهُمْ مَنْ يَّمْشِىْ عَلٰى بَطْنِه . مَنْ دلته د مَا په معنی دې یعنی ځنې هغه څه دی چې ګرځی په ګیډه خپله .

د لږ سوچ سره بنده ته تجربه حاصلیږی الله دِ مونږ په قران پوهه کړی امین .

مَا هم په قران کریم کښې په ډیرو معنو باندې راځی :

(۱) چې که هغه په خبره کښې نه وی نو څه نقصان نه کوی یعنی د لرې کولو سره ئې څه خرابوالې نه راځی لکه فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ دلته که دا مَا نه وی نو نقصان نه کوی .

(۲) چې په چا راشی د هغه نه مصدر جوړ کړی لکه بِمَا رَحُبَتْ سره د فراخ والی نه . دلته ئې د رَحُبَتْ نه مصدر جوړ کړو .

(۳) چې نیشوالې د څیز راولی یعنی نفی کوی وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ ندې الله ناخبره .

(٤) مَا سره د یو څیز باره کښې تپوس هم کیږی مَا اَدْرَاكَ مَا هِیَ ، او ته څه شی خبر کړې چې څه دې دا ..

(٥) د شرط يعنی د اِنْ په معنی چې د که معنی ورکوی ، مَا نَنْسَخْ ، که منسوخ کړم ، مَالَمْ تَمَسُّوهُنَّ ، يعنی اِنْ لَّمْ تَمَسُّوْهُنَّ که لاس نه وی لګولې تاسو دوئ سره .

(٦) په معنی د ترڅو چې يا څومره چې لکه فَاتَّقُوْ اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ څومره چې ستاسو وس وی .

(٧) مَا په معنی د مَنْ څوک لکه وَمَا بَنهَا يعنی وَمَنْ بَنهَا هغه ذات چې جوړ کړې دی دې لره . دا مَا موصوله چې د الَّذی په معنی وی چې هغه څه نو دا په مختلفو معنو راځی يعنی د مختلفو څيزونو نه عبارت وی لکه مَا مسئله د توحيد لکه فِیْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا ، كَذَّبُوْا بِمَا اَرْسَلْنَا بِه رُسُلَنَا ، مِمَّا تَدْعُوْنَا اِلَيْهِ (٢) مشرکانه عملونه فَمَا اَغْنی عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ (٣) دروغ قصې منګهړت واقعات فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ (٤) معبودانِ باطله اُشْرِكَ بِه مَا لَيْسَ بِه عِلْمٌ ، اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِه سُلْطَانًا .

(٨) کله د تنوين والا اسم نه روستو مَا د تاکيد او کلکون لپاره راځی لکه قَلِيْلًا مَّا ډير لږ .

طالب جانه که ته وائې چې دا خو ډير ګران سبق شو نو لږ سوچ اوکړه چې د اردو او انګلش دپاره څومره ګران ګران ټکی يادوې د الله تعالی د دين دپاره خو هم څه ياد کړه کنه لږ ځان اوکړوه چې ډير څه درته ملاؤ شی ان شاء الله الرّحمن .

## مشق

لاندې آیتونو کښې سوچ اوکړه چې د مَنْ او مَا څه معنی جوړیږی :

مَنْ كَانَ فِیْ هذِہ اَعْمی فَهُوَ فِیْ الْاٰخِرَةِ اَعْمی ، مَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْه ، وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَه مِنْ بَعْدِه ، مَنْ ذَا الَّذِیْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ، مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّه نَصِيْبٌ مِّنْهَا ، مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءً يُّجْزَ بِه ، خَبِيْرٌ بِمَا تَصْنَعُوْنَ ، اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سَاحِرٍ ، وَالْاَرْضِ وَمَا طَحهَا ، وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّهَا ، چې په آیت کریمه کښې دا ټکی راشی نو لږ سوچ کوه چې څه معنی جوړیږی .

## دوه ویشتم سبق

### د من دون الله معنی

عامو ځایونو کښې د مِن دُونِ اللّٰهِ معنی داسې کیږی چې سوا د الله تعالی نه نو څنې شرکی او مرضی زړونه د دې نه دا فائده او غلط مقصد راواخلی چې د دې مقصد دا دې چې د مکې مشرکانو الله تعالی پریخودلې وو او د غیر الله لات منات وغیره بندګی ئې کوله نو ځکه مشرکان وو او ځکه کافران وو . او کچرته داسې وی چې څوک الله هم رامدد کوی او د الله تعالی بندګی هم کوی او ورسره د نیکانو بندیګانو بندګی کوی او هغوئ ته رامدد شه وائی نو بیا دا څه خبره نده او دا ناروا ندی . ځکه چې قران کریم مِن دُون الله وائی چې د الله تعالی نه علاوه . نو که الله ورسره وی نو خیر دې .

دا خبره غلطه ده او دا د کړو زړونو کوږ تاویل او تاوول دی . دا صرف شرک له جواز کتل دی . د دې اول جواب دا دې : چې قران ځنې ځایونو کښې ده دون په ځائی مع راوړې دې نو هغه ځائی به څه معنی کوی لکه : لَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا آخَر مه رابله سره د الله حاجت سر کونکې بل . داسې آیتونه په قران کښې ډیر دی نو دلته هم دا مطلب شو .

دویم جواب دا دې دُون معنی چې په علاوه او سوا سره کیږی نو د دې مطلب دا دې د الله نه علاوه چې هر څه وی که فقیر وی که ولی وی که نبی که فرشته که جن که د غوبښې بت او که د ګټی بت وی . نو دیکښې عموم مقصود دې چې د الله تعالی نه علاوه د هیڅ څیز بندګی جائز نده او رامدد شه ورته وئیل جائز ندی .

دریم جواب دا دې دُون په معنی د اَدْوَن یعنی لاندې لکه اردو کښې ورې نو چې هر څه وی . ځما محترم استاذ شیخ التّفسیر علامه محمد حسین نیلوی رحمه الله تعالی به معنی کوله چې اللہ کا نیچے نیچے نو هر څه د الله تعالی نه لاندې دې .

او دا خبره غلطه ده چې مشرکانو د الله تعالی بندګی نه کوله پدې قران ، حدیث او تاریخی شواهد ګواه دی چې هغوئ به د الله تعالی بندګی کوله . خو ورسره به ئی د نورو بندګی هم کوله د دې وجې ورته مشرکان وائی چې د الله د حق سره ئ د نور حصه دار کول او مقابل ته ئی توحید وائی او قران هم داسې وائی :

اِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَه وَلَّوْا عَلٰى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا .(بنی اسرائیل) .

او په هغه وخت کښې چې ته خپل رب په قران کریم کښې یواځې یاد کړې نو واوړی په شاګانو خپلو نفرت کونکی .

داسې ډیر آیتونه دی چې دوئ د توحید دشمنان دی او قران کریم دعوت د توحید ورکړې دی .

د دُوْن په قران کریم کښې نورې معنې هم راغلی دی :

(۱) د سوا او غیر په معنی ، وَادْعُوْ شُهَدَاءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ (بقره: ۲۳) .

(۲) د مخامخ ، خوا کښې په معنی ، وُجِدَ مِنْ دُونِهِمَا قَومًا (الکهف : ۹۰) وُجِدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُوْدَانِ (القصص : ۲۳).

## دیریشتم سبق

### فعل

فعل کار ته وائی د فعل مطلب او نخښې بیان شوی دی اوس د فعل قسمونه او د هر یو د معنی طریقه هغه ذکر کولې شی . فعل ډیر استعمالیږی نو پدې ځان پوهه کول ډیر ضروری دی .

کله چې د فعل معنی کوې نو د فعل په معنی کښې د دریو څیزونو خیال ساتل پکار دی :

يو/۱ فعل د مصدر نه جوړ شوې دې نو د هغه مصدر معنی به راباسی .

دویم/۲ فعل بغیر د کار کونکی (فاعل) نه نه موجودیږی . نو فاعل به ورله خامخواه ګورې چې دا فاعل چا کړې دې او چا ندې کړې .

دریم/۳ مونږ چې د فعل مطلب وئیلې وو نو په هغې کښې زمانه ضروری وه ، نو دا به ګورې چې زمانه کومه ده .

## د زمانې قسمونه

پدې ځان پوهه کړه طالب جانه چې زمانه په درې قسمه ده چې په کوم وخت کښې ته ئې او خبرې کوې دیته حال وائی او د خبرو کولو نه مخکښې وخت ته ماضی وائی او خبرو کولو نه روستو وخت یعنی راروان وخت ته مستقبل او استقبال وائی .

تیر وخت ته ماضی راروان ته مستقبل او موجوده ته حال وائی .

په عربئ کښې د ماضی خپل ټکی دی او حال او استقبال ځان له ټکی دی د هغې بیان راځی .

## نفی او اثبات

چې په فعل کښې د کار کولو خبره شوی وی که په هره زمانه کښې وی نو دیته اثبات وائی او فعل ته مثبت وائی . لکه خَلَقَ لَكُمْ ، پیدا کړی دی الله تعالی تاسو له دلته دا کار شوې دې .

او چې كله د يو كار د نيشت والى خبره شوى وى چې د كار په زمانه كښې ندې شوې يا نه كيږى نو هغې ته نفى او فعل ته منفى وائى : په مَا ، لَمْ ، لَمَّا ، لَا ، لَنْ سره فعل نفى كيږى دې حروفو ته حروفِ نفى وائى يو يو ته نافيه وائى ، مَا نافيه وغيره .

## معروف او مجهول

د فعل فاعل چې معلوم وى او نسبت ئې ورته شوې وى نو هغې فعل ته معروف او معلوم وائى . لكه خَلَقَ اللّٰهُ پيدا كړى دى الله تعالى . دلته د پيدا كولو فاعل الله تعالى دې او هغه معلوم دې . او چې كله فاعل معلوم نه وى يعنى هغه ذكر شوې ندې او د فعل نسبت مفعول ته شوې دې نو ديته فعلِ مجهول وائى . د هر يو تخښې به په خپل ځائى راشى ان شاء الله .

## لازم او متعدّى

فعل يو قسم هغه دې چې صرف په فاعل پوره كيږى خبره نيمګړې نه وى نو ديته فعل لازم وائى . اَتَىٰ اَمْرُ اللّٰهِ ، راغې عذاب د الله تعالى ، دلته اوس مفعول ته حاجت نشته خبره پوره ده .

او كله چې د فعل فاعل ذكر شى او بيا هم خبره نيمګړې وى او مفعول غواړى نو ديته فعل متعدى وائى . اُقْتُلُوْهُمْ اووژنئ دوئ لره اوس چې ته اووائى چې اووژنئ نو خبره نيمګړى ده ذهن دا غواړې

چې چا لره اوژنئ نو هُمْ چې ورسره شی چې دوئ لره نو خبره پوره شوه .

اوس چې مونږ د فعل معنی کوو نو دې ټولو خبرو ته به سوچ کول غواړی : یو چې زمانه کومه ده ، دویم چې د کار شته والې دې او که نیشوالې یعنی نفی او اثبات معلومول او دا چې معروف دې که مجهول دې او بیا لازم دې او که متعدی دې د فعل معنی به هله پوره کیږی دې خبرو ته سوچ کول ضروری دی نو د قران په خوند باندې به پوهیږی . او په مقصد به هم پوهه شی . اوس به د دې خبرو تفصیل کوو او نخښې به ذکر کوو او مشق به د هر یو سره خپل خپل کیږی ان شاء الله تعالی .

## څلیریشتم سبق

### فعل ماضی

فعل ماضی هغه فعل دې چې په تیره زمانه کښې د یو کار د کولو یا نه کولو تذکره شوې وی نو هغه ته ماضی وائی .

پدې باندې ځان پوهه کړه چې عربی ډیره خوره ژبه ده . نو چې څنګه کار کونکې وی نو ټکی هم هغه شان راوړې . اوس کار کونکې به یا د خبرې کولو په وخت کښې موجود نه وی نو هغه ته غائب وائی . بیا چې غائب وی نو هغه به یا نر وی مذکر او یا ماده مونث . که غائب وی او مذکر نو یا به یو وی او یا دوه او ډیر نو درې

ټکی دې له پکار شو . او که مونث وی نو یا به یو وی یا دوه او یا ډیر نو درې ټکی دې له پکار شو نو شپږ ټکی غائب له پکار شو .

او کچرته کار کونکې هغه خبره کونکې خپله وی او خبره خپله ټخپله کوی نو د هغې دپاره عربیان دوه ټکی راوړی که هغه نر وی او که ماده نو یو دپاره یو ټکې او که دوه او یا ډیر وی که مذکر که مونث نو د هغې دپاره بل ټکې ذکر کوی نو ټول څوارلس ټکی شو . دا څوارلس چې یو ځائی شی نو دیته ګردان وائی او دې یو یو ټکی ته صیغه وائی . نو په هر ګردان کښې څوارلس صیغې شوې . اوس د یادولو او پیژندګلو به مونږ د هر یو نخې او د معنې طریقه ذکر کوو چې ګرانو عزیزانو ته یادول او پیژندل آسان شی .

## پنځویشتم سبق

### د ماضی معلوم د غائب صیغو بیان

د ماضی غائب دپاره شپږ صیغې مقرر شوی دی چې کوم لفظ پدې تول پوره شی نو هغه د ماضی د غائب صیغه وی اول درې د مذکر دی او نورې درې د مونث دی بیا اول درې د مذکر کښې اول صیغه د یو(واحد) دویمه د دوو(دتثنیې) دریمه د دریو او د دریو نه د زیاتو دپاره دغه شان روستۍ درې د مونث دی په دغه طریقه :

| فعل | معنى | صيغه |
| --- | --- | --- |
| نَصَرَ | مدد کړې وو (هغه) | واحد مذکر غائب ماضى معلوم |
| نَصَرَا | مدد کړې وو (هغه دوو کسانو) | تثنيه مذکر غائب ماضى معلوم |
| نَصَرُوْا | مدد کړې وو (هغوئ) | جمع مذکر غائب ماضى معلوم |

| فعل | معنى | صيغه |
| --- | --- | --- |
| نَصَرَتْ | مدد کړې وو هغې (يوې ښځې) | واحد مونث غائب ماضى معلوم |
| نَصَرَتَا | مدد کړې وو هغې (دوو ښځو) | تثنيه مونث غائب ماضى معلوم |
| نَصَرْنَ | مدد کړې وو هغو ښځو | جمع مونث غائب ماضى معلوم |

اوس کوم لفظ چې پدې تول وى اګر که د مينځ د تکى حرکت ئې بدل شى لکه سَمِعَ يا پيښ راشى لکه کَبُرَ يا کَرُمَ بيا که ورسره هيڅ نه وو نو دا د واحد (يو) دپاره ده او که ورپسې الف وو نو د دوو دپاره او که واو وو نو د ډيرو دپاره ، او کچرته تْ راغلې وه نو د يوې مونث دپاره او که تَا په آخر کښې راغلې وو نو د دوو ښځو مونث دپاره او که نَ راغلې وو نو د ډيرو ښځو يعنى د جمع دپاره به وى .

کچرته مينځ کښې يا په سر کښې ټکی زيات شی او آخر کښې ئې هم دغه شان نو بيا به هم دا د ماضی غائب وی خو چې په سر کښې د مضارع نخښه نوی راغلې (چې هغه يو د اَ ، تا ، يا ، ن (اَتَيْنَ) نه حرف راتلل دی) که دا ټکی د ماضی په اولنئ صيغه کښې راغلې وو نو بيا به هم ماضی وی او يا دا ټکی د هغې خپل وی لکه د نَصَرَ نون شو د تَبِعَ تاء شوه د اَمَرَ همزه شوه د يَسَرَ ياء شوه . چې کله مونږ دا ټکی په فاء عين لام اوتلو نو نَصَرَ فَعَلَ ن د فاء په ځائی راغې نو دا ئی خپل دې دغه شان دا نور ټکی شو د تَذَكَّرَ يا تَزَلْزَلَ تاء هم د ماضی په اول سر کښې راغلې ده نو دا هم ماضی ده . لنډه دا چې کله کوم ټکې د دغه شپږو پشان وو نو دا به د ماضی غائب وو اګر که د مينځ حرکت او يا د ټکو تعداد سِوا ولې نشی لکه :

اَكْرَمَ ، اَقَامَ ، جَاهَدُوْا ، تَقَاسَمُوْا ، اِكْتَسَبَتْ ، اِكْتَسَبْنَ ، اِكْتَسَبُوْا وغيره دا ټولې د ماضی غائب صيغې دی .

د دې معنی به داسې کيږی چې وخت هم اوښائی تيره زمانه او د کار کونکی پته هم اولږی د نَصَرَ معنی شوه مدد کړې وو هغه . که داسې معنی اونه شی نو دا به غلطه وی .

اولنئ صيغه او ځلورمه صيغه يعنی نَصَرَ او نَصَرَتْ چې کله داسې ټکی په قران کښې راشی نو سوچ به کوی چې کار کونکې څوک دې کله به د هغه ښکاره نوم پدې پسی ذکر شوې وی او کله ترې مخکښې ذکر وی نو پدې ټکې کښې به ورته اشاره وی يعنی ضمير به پکښې وی . نور ځلور ټکی چې دی نو په هغې کښې کار کونکې ښخپله ذکر دې په نَصَرَا کښې الف دې چې دا نخه ده چې

کار کونکی دوه سړی دی او نَصَرُوْا کښې واو نخه ده چې کار کونکی ډیر سړی دی او نَصَرَتَا کښې تَا خبر ورکوی چې کار کونکی دوه ښځی دی او نَ په نَصَرْنَ کښې خبر ورکوی چې مدد کونکی ډیرې ښځې دی .

که په مینځ کښې الف راغلې وو نو دا هم ماضی وی لکه قَالُوْا ، قَالَتْ شو او د واحد مونث صیغه نَصَرَتْ چې ده نو دا د جمع د مذکر دپاره هم راوړلې شی ، کله چې دا نَصَرَ یعنی اوله صیغه که بیا هغه شان وی او نَصَرَتْ د خبرې په شروع کښې راشی نو ورپسې ظاهر اسم به ئې فاعل وی او چې د خبرې په مینځ کښې راشی نو بیا به سوچ ته ضرورت وی .

## مشق

په لاندېنې آیتونو کښې د ماضی صیغې هم معلومې کړئ او معنی ئې هم اوکړئ .

كَفَرُوْا ، خَتَمَ اللّٰهُ ، امَنُوْا ، عَمِلُوْا ، بَلَغْنَ ، اِكْتَسَبُوْا ، اِقْتَرَبَتْ ، اِنْفَطَرَتْ ، كُوِّرَتْ ، قَالَت الْيَهُوْدُ ، اِبْتَلى ، اَتَمَّ ، رَكِبُوْا ، كَبُرَتْ ، سَمِعَ اللّٰهُ ، سَمِعُوْا ، اِسْتَجَابُوْا ، اِرْتَابَتْ ، قُلْنَ ، قَدَّمَتْ ، اَقَامُوْا ، اتَوْا ، عَلِمَ اللّٰهُ ، عَلِمُوْا ، بِئْسَ ، بِئْسَتْ ، نِعْمَ ، يَئِسُوْا ، جَاهَدُوْا ، قَاتَلُوْا .

کله کله صیغه د ضَرَبَتْ او نَصَرَتْ ، قَالَت والا وی او په آخر تاء زیر یعنی کسره راشی دا راروان ټکی د تړلو دپاره لکه اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ، دلته دا تاء سین سره د تړلو دپاره تاء لره زیر ورکړې شوې دې لکه قَالَتِ الْيَهُوْدُ دا زیر هسې عارضی دې .

## شپږیشتم سبق

### د ماضی معلوم د حاضر او متکلم بیان

ګرانو عزیزانو اوس که په تیره زمانه کښې چا کوم کار کړې دې او هغه تا ته مخامخ دې او ورسره خبره کوی نو دغه به ځنګه راځی نو د هغې دپاره هم شپږ ټکی دی درې د مذکر درې د مونث ، د مذکر درې نو د یو او دوو او ډیرو دپاره او مونث هم دغه شان د دې تول او قالب هغه داسې دې .

| فعل | معنی | صیغه |
|---|---|---|
| نَصَرْتَ | مدد کړې وو تا | واحد مذکر مخاطب ماضی معلوم |
| نَصَرْتُمَا | مدد کړې وو تاسو (دوو) | تثنیه مذکر مخاطب ماضی معلوم |
| نَصَرْتُمْ | مدد کړې وو تاسو (ډیرو) | جمع مذکر مخاطب ماضی معلوم |
| نَصَرْتِ | مدد کړې دې تا (یوې ښځې) | واحده مونث مخاطب ماضی معلوم |
| نَصَرْتُمَا | مدد کړې دې تاسو (دوو ښځو) | تثنیه مونث مخاطب ماضی معلوم |
| نَصَرْتُنَّ | مدد کړې دې تاسو (ښځو) | جمع مونث مخاطب ماضی معلوم |

د دې نخه دا ده چې د کومې صیغې په آخر کښې تَ ، تِ ، تُمَا ، تُمْ او تُنَّ راغلل نو دا به د ماضی د مخاطب صیغه وی کچرته په مینځ

کښې حرکت بدل شی او یا ټکی سوا او زیات شی نو صیغه به هم هغه وی .

لکه سَمِعْتُمْ ، اِکْتَسَبْتُمْ ، لُمْتُنَّ ، کُنْتُنَّ ، اَنْکَرْتُمَا ، اَقَمْتُمْ ، تَرَبَّصْتُمْ ، کَنَزْتُمْ .

## د متکلم صیغې

کله چې دغه کار کونکې پخپله خبره کوی نو د هغې دپاره دوه صیغې مقرر کړې دی . که دغه خبره کونکې یو وی که ښځه وی که سړې نو د هغې دپاره یوه صیغه ده :

نَصَرْتُ مدد کړې وو ما واحد متکلم مذکر ومونث ماضی معلوم

او که دوه او ډیر وی نو د هغې دپاره یوه صیغه ده :

نَصَرْنَا مدد کړې وو مونږ صیغه تثنیه وجمع مذکر ومونث ماضی معلوم

چې په آخر کښې تُ راغلې وی نو دا به د متکلم واحد صیغه وی او که آخره کښې نَا راغلې وو نو د جمع متکلم به وی خو پدې شرط چې د نَا نه مخکښې ټکی باندې سکون وی . لکه نَصَرْنَا کښې راء باندې چې سکون دې او که د نَا نه مخکښې زبر وو نو دا به د غائب صیغه وی یعنی هغه کار کونکې به غائب وی لکه مَنَعَنَا ، نَصَرَنَا شو.

او بل دا چې دا نَا لرې کړو نو شکل به د ماضی پاتې کیږی که شکل د ماضی نه پاتې کیږی نو بیا به اسم وی لکه رَسُوْلُنَا ، دلته نَا لرې کړه نو رَسُول د ماضی شکل ندې ، یا کِتَابُنَا ، رَبُّنَا وغیره شو .

دلته هم که ټکی زیات شی یا د مینځ حرکت بدل شی څه خبره نده .

## مشق

لاندینو ټکو کښې د ماضی صیغه واحد ، تثنیه ، جمع وغیره معلومې کړئ ؟

اَنْعَمْتُ ، کُنْتُمْ ، نَجَّیْنَا ، اَنْجَیْنَا ، نَجَوْتَ ، تَرَبَّصْتُمْ ، تَرَبَّصْنَ ، وَجَدْتُّمُوْهُمْ ، کَفَرْتُمْ ، رَاوَدْتُنَّ ، رَاوَدَتْ ، قُلْتُمْ ، قُلْنَا ، اَسْلَمْتُ ، اِکْتَسَبْتُمْ ، اِنْفَطَرْتُمْ ، اَرْسَلْنَا ، اتَیْنَا ، عَفَوْنَا ، سَأَلْتُمْ ، فَانْبَجَسَتْ ، فَانْفَجَرَتْ ، کَذَّبْتُمْ .

## اوویشتم سبق

## د ماضی منفی بیان

دا مخکښې بیان د ماضی مثبت اوشو اوس کچرته دا کار شوې نه وی په تیره زمانه کښې او د هغې بیان کیږی نو دا ماضی منفی ده . د دې نخه دا ده چې په هم دغه صیغې وی خو چې په سر کښې ئې مَا د نفی راشی نو دا ماضی منفی ده د نَصَرَ معنی وه مدد کړې وو هغه او چې مَا نَصَرَ شو نو مدد نه وو کړې هغه مَا نَصَرْتُمْ مدد نه وو کړې تاسو .

د نفى بله نخه دا هم ده چې په كوم فعل باندې لَمْ او لَمَّا راشى نو هغه د ماضى د نفى معنى وركوى . خو د لَمْ او مَا د معنى فرق نشته دې لَمْ يَنْصُرْ معنى ده چې مدد نه وو كړې هغه . او لَمَّا چې راشى نو د دې مطلب دا وى چې په تير ټول وخت كښې دا كار ندې شوې تر خبرو كولو تر وخته او د كيدلو اميد ئې شته دې . لكه لَمَّا يَنْصُرْ لا تر اوسه هغه مدد ندې كړې . راروان وخت كښې كيدې شى چې اوكړى .

## مشق

تير چې كوم ګردانونه شوى دى هغې سره ما اولګوئ او ګردانونه ياد كړئ .

(۲) د لاندينې ټكو معنې اوكړئ . او د څه صيغې دى .

مَا كَتَبَ ، لَمْ يَفْعَلْ ، مَا نَصَرَتْ ، مَا قَتَلُوْا ، مَا صَلَبُوْا ، وَمَا بَدَّلُوْا ، مَا اَضْلَلْنَ ، وَمَا ظَلَمُوْنَا ، مَا اَهْلَكْنَا ، وَمَا جَعَلْنَا ، مَا جِئْنَا .

خبردارې ! هر ځائى كښې ما د نفى نه وى كله كله هغه مَا وى چې كوم د الّذى په معنى وى . وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ او هغه چې پيدا كړى دى تاسو له ، نو لږ سوچ كول پكار دى .

## اته ویشتم سبق

### د ماضی مجهول بیان

مخکښې چې کوم بیان اوشو هغه د هغه ماضی وو چې د هغې کار کوونکې معلوم وو او هغه ته نسبت شوې وو . اوس فاعل یعنی کار کوونکې معلوم ندې ، یا معلوم دې خو ډیر مشهور دې یا عزتمند دې یا سپک دې نو د دې وجې ذکر کولې نشی د هغې په ځائی د فعل نسبت د هغه مفعول ته اوشی نو صیغه بدله شی هم دغه صیغې دی کومې چې مخکښې ذکر شوی خو چې کله د آخر نه په مخکښې ټکی کسره (زیر) راغې او هغې نه مخکښې که یو ټکی وو او که ډیر چې کوم متحرک وو نو د هغې حرکت ضمې یعنی پیش ته بدل شو نو اوس د معلوم نه مجهوله شوه ، لکه ضَرَبَ نه ضُرِبَ ، نَصَرَ نه نُصِرَ ، تَصَرَّفَ نه تُصُرِّفَ ، جَاهَدَ نه جُوْهِدَ (د الف نه مخکښې چې په جیم ضمه شوه نو الف نشی وئیلې نو واو شو) وغیره ، او چې کله عین کلمې ته مخامخ الف وی نو د هغې مجهول قِیْلَ ، خِیْفَ په وزن باندې او بیا د صیغې د معلوم او مجهول یو شان وی ، بیا د مقام نه پته لږی قُلْنَ او قُلْتَ دواړه دی هم معلوم او هم مجهول په قرآن کښې دا اکثر معلومې استعمال شوی دی او مجهولې ندی او کله چې په آخری ټکی شدّ راشی نو بیا هغه مخکښې زیر ختم شی لکه د مَدَّ نه مُدَّ شو .

د ضُرِبَ معنی شوه وهلې شوې وو هغه ، دلته اوس وهلې شوې معلوم شو چې هغه یو سړې دې خو وهل چا کړی دی نو د هغې بیان نشته دې ، نُصِرْتُمْ مدد کړې شوې وو ستاسو ، نو د چا چې مدد کړې شوې دې نو هغه ته مفعول وائی نو هغه معلوم دی چې حاضر ډیر

سړی دی خو مدد کونکی معلوم ندی ، نو دلته به معنې ته داسې سوچ پکار وی اوس فرض کړه ضَرَبَ اللّٰهُ مثلًا معنی دا ده چې بیان کړې دې الله تعالی مثال اوس ئې مجهوله کړه نو الله تعالی مشهور دې مه ذکر کوه او مثل مفعول د هغې په ځائې کړه او ضَرَبَ ضُرِبَ کړه نو مثلًا به مثلٌ شی ځکه په اللّٰهُ باندې پیش وو نو د هغه حکم به واخلی نو ضُرِبَ مثلٌ اوس معنی هم بدله شوه چې بیانولې شی یو مثال .. او که مَا پرې داخل شی نو نفی به شی نو مَا نُصِرَ مدد نه دې کړې شوې د هغه .

## مشق

(١) د نَصَرَ شوارلس واړه صیغې مجهولې بدلې کړئ او ګردان یاد کړئ .

(٢) د دغه شوارلسو صیغو معنې هم زده کړئ صرف د معلوم په ځائې مجهول اووایئ .

(٣) د نفی مجهول ګردان سره د معنو او نومونو نه یاد کړئ .

(٤) د لاندینی ټکو معنې هم اوکړئ او صیغې معلومې کړئ :

کُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ ، كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ ، اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيءٍ ، نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ ، قِيْلَ لَهُمْ ، زُيِّنَ ، وُفِّيَتْ ، اُوْتِيَ ، اُحْصِرُوْا ، اُحْصِرْتُمْ ، اُضْطُرَّ ، اُضْطُرِرْتُمْ ، اُخْتُلِفُوْا ، زُلْزِلُوْا ، قُتِلُوْا ، فَبُهِتَ الَّذِیْ كَفَرَ ، اِذَا مَا دُعُوْا ، الَّذِیْ اؤْتُمِنَ ، وُوْرِیَ .

## یوکم دیرشم سبق

### د ماضی نور قسمونه

مخکښې د داسې ماضی بیان اوشو چې په هغې کښې صرف په تیر وخت کښې د کولو او د نه کولو تذکره وه څه نوره زیاتی خبره پکښې نه وه . اوس چې څه زیاتی ټکی وی نو زیاتی معنی به ورسره راځی ، او د ماضی قسم به ترې جوړیږی .

(۱) **ماضی قریب** :- کچرته داسې معنی وی چې هغه په نزدې تیر وخت کښې شوې وی نو د هغې دپاره لفظ د قَدْ په ماضی داخل کړه قَدْ نَصَرَ هغه مدد اوکړو . مطلب لږ ساعت مخکښې یا پرون کړې دې ډیر مخکښې ندې کړې دیته ماضی قریب وائې ، او کله معنی د تحقیق هم فائده کوی او چې لام په قَدْ راشی او قَدْ په ماضی نو بیا د قسم معنی هم فائده کوی ، لکه لَقَدْ عَفَا اللّٰهُ قسم دې چې اللّٰه معافی کړې ده .

(۲) **ماضی بعید**:-اوس که د ماضی په گردان کَانَ راشی نو دا به ماضی بنائی خو په ماضی کښې لرې وخت یعنی پخوا دا کار شوې دې . کَانَ به د هرې صیغې سره بدلیږی نو د کَانَ گردان یادول غواړی .

کَانَ ، کَانَا ، کَانُوْا ، کَانَتْ ، کَانَتَا ، کُنَّ ، کُنْتَ ، کُنْتُمَا ، کُنْتُمْ ، کُنْتِ ، کُنْتُمَا ، کُنْتُنَّ ، کُنْتُ ، کُنَّا .

دا به هری صیغې سره خپل خپل ټکې نمبروار لگی .

(٣) **ماضی استمراری**:- دا هغه ماضی ده چې په تیر وخت کښې دا ښائې چې دا کار به همیشه کیدلو یعنی د یو کار همیشوالې په تیره زمانه کښې ښائې ، د دې د جوړیدلو طریقه دا ده چې كَانَ به د مضارع په ګردان راوړی كَانَ يَكْذِبُ هغه به دروغ وئیل ، پوره ګردان به روستو راشی (ان شاء الله).

(٤) **ماضی احتمالی**:- چې تیر وخت کښې په کار کښې د کیدو شک ښائې چې کیدیشی شوې وی چې لفظ د لَعَلَّمَا په ماضی راوړې نو دا ماضی احتمالی شی ، لَعَلَّمَا نَصَرَ ، کیدیشی چې هغه مدد کړې وی.

(٥) **ماضی تمنّائی**:- چې ماضی کښې په کوم پسی ارمان ښودل وی نو لَيْتَمَا به د ماضی په ګردان راوړې لَيْتَمَا نَصَرَ چې مدد ئې کړې وې لَيْتَمَا مَا ضَرَبَ ارمان چې وهل ئې نه وې کړې . دا روستی دوه قسمونه په قران کریم کښې ندی استعمال شوې او نور درې په قران کښې راغلی دی .

## مشق

(١) د ماضی استمراری نه علاوه د نورو قسمونو ګردانونه سره د معنو نه او نومونه یاد کړئ .

(٢) د لاندینی صیغو معنې او صیغې اوښائی :

قَدْ جَعَلْتُمُ اللهُ ، لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ ، لَقَدِ ابْتَغَوُ الْفِتْنَةَ ، وَقَدْ دَخَلُوْا بِالْكُفْرِ ، كُنْتُمْ ضَرَبْتُمْ .

## دیرشم سبق

### د حال او استقبال (مضارع ) بیان

کار کونکې چې کار په موجوده زمانه کښې کوی او لګیا وی نو دیته حال وائی او چې په آئنده وخت کښې به ئې کوی نو دیته استقبال وائی ، په عربئ کښې د حال او استقبال دپاره جدا جدا ټکی نه راځی بلکه دواړو ته شریک نوم اخلی چې هغه مضارع ده او د دواړو دپاره شریک ټکی راځی او یو ګردان ئی کیږی چې یَنْصُرُ وغیره الفاظ دی . حال او استقبال ته به مونږ یو نوم اخلو چې فعل مضارع ده اوس د هغې علامې او د معنې کولو طریقه .

**علامات د مضارع**:- د مضارع غټه نخه څلور ټکی دی : اَ ، تا ، یا ، نون، دیته حروف اَتَیْن وائی چې لکه د ماضی په سر کښې یو د دې ټکو نه زیات کړې شی او آخر کښې پیش راشی په اوله صیغه نو دا مضارع شی د مضارع هم څوارلس صیغې دې پشان د ماضی شپږ د غائب او شپږ د مخاطب او دوه د متکلم دی ، د مضارع ګردان او د هرې صیغې نوم او معنی .

| لفظ | صیغه | معنی |
|---|---|---|
| يَنْصُرُ | واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه یو کس |
| يَنْصُرَانِ | تثنیه مذکر غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه دوه کسان |
| يَنْصُرُوْنَ | جمع مذکّر غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه ډیر کسان |
| تَنْصُرُ | واحد مونث غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه یوه ښځه |
| تَنْصُرَانِ | تثنیه مونث غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه دوه ښځی |
| يَنْصُرْنَ | جمع مونث غائب فعل مضارع معلوم | مدد کوی یا به اوکړی هغه ډیری ښځی |
| تَنْصُرُ | واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوې یا به اوکړې ته یو سړې |
| تَنْصُرَانِ | تثنیه مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوې یا به اوکړې تاسو دوه سړی |
| تَنْصُرُوْنَ | جمع مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوې یا به اوکړې تاسو ډیر سړی |
| تَنْصُرِيْنَ | واحد مونث مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوې یا به اوکړې ته یوه ښځه |
| تَنْصُرَانِ | تثنیه مونث مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوئ یا به اوکړئ تاسو دوه ښځی |

| | | |
|---|---|---|
| تَنْصُرْنَ | جمع مونث مخاطب فعل مضارع معلوم | مدد کوئ یا به اوکړئ تاسو ډیر ښځې |
| اَنْصُرُ | واحد مذکر ومونث متکلم فعل مضارع معلوم | مدد کوم یا به اوکړم څه یو سړی یا ښځه |
| نَنْصُرُ | تثنیه جمع مذکر ومونث متکلم فعل مضارع معلوم | مدد کوو مونږ دوه سړی یا دوه ښځې یا به اوکړو مونږ ډیر سړی یا ښځې |

چې د کومې صیغې شکل داسې وی اګر که د مینځ حرکت بدل شی لکه یَضْرِبُ ، یَفْعَلُ او که مینځ کښې تکی زیات یا کم یا مشدّد ولې نشی لکه یَخْتَصِمُوْنَ اسْتَیْئَسَ ، یُضَارَّ ، یُقَاتِلُوْنَ ، تَتَذَکَّرُوْنَ .

چې په سر کښې حرف مضارعت وی خو هله چې دا تکی د ماضی په اوله صیغه کښې نه وی او دغه اَ ، تا ، یا نون د کلمې خپل هم نه وی ، لکه اَمَرَ ، نَصَرَ وغیره ، دا به ماضی وی ځکه دا ئې خپل دی که د ماضی پشان صیغه وی نو بیا به ماضی وی اکه اَنْعَمْتَ دلته همزه ده نو آخر کښې تاء د ماضی نخه ده . نو اګر که همزه پکښې سر کښې ده خو دا به ماضی وی .

بله نخښه دا هم ده چې آخر کښې څنو صیغو کښې نون راځی اګر چې کله کله غورځیږی ، خو دا مذکور شکل یادول ضروری دی دا به د مضارع نخښه وی .

او دا علامه چې لرى كړې او كوم ټكې د فاء عين لام په ځائې راغې نو هغه به ئې خپل وى . دغه درې د لغت كتاب كښې ګوره نو معنى به راؤځى . بيا د صيغې معلوميدلو سره معنى كوه . چې د كومې صيغې سر كښې ياء راغلى وى نو دا به غائب وى او چې تاء راغلى وى نو دوه د غائب دى او شپږ د مخاطب دى او چې همزه راغلى وه نو د واحد متكلم ده او نون چې راغلې وو نو دا جمع متكلم دې .

يَخْلُقُ اوس دا د غائب صيغه ده نو پيدا كوى هغه ، يا دا معنى اوكړه چې پيدا به كړى يعنى اوس هم پيدا كول كوى او بيا به هم پيدا كړى . دا معنې پكښې د حال او استقبال دواړه شته خو ځائې ته به ګورو نو يوه به ترې اخلو د مخكښې او روستو نه پته لږى ، البته د حال معنى كول اولى دى ، چې كوم صيغې يو شان وى نو هغې ته سوچ پكار دې او د موقعى او ځائى مناسب به د معنې پته لږى .

**خبردارې**:- ډير خلق په معنى كښې غلطى كوى د اسم فاعل معنى د مضارع اوكړى او د مضارع معنى د اسم فاعل اوكړى لكه د يَعْمَلُوْنَ معنى اوكړى عمل كونكى د يَكْذِبُوْنَ معنى اوكړى دروغ ويونكى دا صحيح نده قران كريم چې كوم ځائې يَكْفُرُوْنَ راوړى نو هلته دغه راوړل مناسب وى نو هلته به د مضارع معنى كوې او كوم ځائې چې كَافِرُوْنَ راوړى نو هلته هغه مناسب وى نو د اسم معنى د اسم او د فعل معنى د فعل كول پكار دى .

## مشق

(۱) د يَضْرِبُ ، يَخْلُقُ ، يَخْتَلِفُ ، يُنْفِقُ ، يُجَاهِدُ نه دغه ګردان ياد کړئ.

(۲) نَعْبُدُ ، نَسْتَعِيْنُ ، نَقُوْلُ ، تَقُوْلُوْنَ ، يَقُلْنَ ، يَأْمُرُوْنَ ، يَفْعَلُوْنَ ، يُفْسِدُوْنَ ، يَقْطَعُوْنَ ، تُكْفُرُوْنَ ، يُمِيْتُكُمْ ، تَجْعَلُ ، نُسَبِّحُ ، تُبْدُوْنَ ، تَكْتُمُوْنَ ، يَظُنُّوْنَ ، يَمَسُّهُمْ ، يُجَاهِدُوْنَ ، تُقَاتِلُوْنَ ، يَتَنَاهَوْنَ ، تَنَاصَرُوْنَ د دې صيغو نومونه اوليکئ او معنې اوکړئ .

## يو ديرشم سبق

### د مضارع منفی بيان

اوس که په موجوده وخت کښې يا په راروان وخت کښې دا کار نه کيږی يعنی د هغه کار نيشوالې خودل وی نو ديته نفی وائې او هغه فعل ته فعل مضارع منفی وائی .

د دې نخښه او طريقه دا ده چې په مضارع مثبت باندې لَا راوړه خو چې څه فرق په ورپسی صيغه کښې رانشی صيغه په لفظ کښې هم هغه شان وی . لَا يَضْرِبُ وهل نه کوی او نه به اوکړی صرف معنی د اثبات نه نفی شوه نور لفظ هم هغه شان دې .

کله کله په مضارع مَا هم د نفی دپاره راځی ، اکثر دا په هغه ځائې کښې چې ورپسې الّا راشی نو بيا مَا د نفی راځی .

د معنى طريقه ئې آسانه ده چې لَا يَخْلُقُ ، نه پيدا كوى او نه به پيدا كړى دواړه معنې وركوى .

لَا اَنْصُرُ نه مدد كوم (حال) او نه به اوكړم (استقبال)

لَا يَضْرِبْنَ وهل نه كوى هغه ښځې (حال) ، او نه به وهل اوكړى هغه ښځې(استقبال) .

## مشق

(١) لَا يَغْسِلُ ، لَا يَكْفُرُ ، لَا يَخْتَصِمُ ، لَا تَسْتَنْصِرُ د دې ګردانونه سره د معنو نه ياد كړئ .

(٢) د لاندې ټكو معنى اوكړئ او صيغې معلومې كړئ :

لَا يَشْعُرُوْنَ ، وَمَا يَخْدَعُوْنَ ، وَمَا يَشْعُرُوْنَ ، لَا يَرْجِعُوْنَ ، لَا يَسْمَعُ ، لَا تَسْفِكُوْنَ ، وَلَا تُخْرِجُوْنَ ، لَا تَظْلِمُوْنَ ، لَا يَنْكِحْنَ ، لَا يَحِلُّ ، وَمَا تَأْتِيْهِمْ مِّنْ آيَةٍ ، فَمَا تَزِيْدُوْنَنِىْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ، لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ ، لَا يَسْرِقْنَ ، وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ ، لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ، لَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ، لَا يَنْفَعُه ، لَا اَمْلِكُ ، لَا نَفْقَه كَثِيْرًا ، لَا اَقُوْلُ لَكُمْ ، لَا تَقُوْلَانِ .

## دوه دیرشم سبق

### د مضارع مجهول بیان

د مضارع مجهول نخه دا ده چې په حرف مضارع باندې ضمه (پیش) راغلې وی او په مینځ کښې د هغې کسره (زیر) نه وی . نوره صیغه به د مضارع زړه په زړه وی .

او معنی به هم بدله شی ځکه مخکښې فاعل معلوم وو او نسبت ورته شوې دې اوس یا فاعل معلوم ندې او یا معلوم دې خو نسبت ورته د شهرت او عزت یا ذلت د وجې نه ندې شوې او مفعول ته نسبت شوې وی د ماضی مجهول پشان صرف د زمانی فرق دې .

يُنْصَرُ مدد کولې شی د هغه سره یا به اوشی .

اُنْصَرُ مدد کولې شی ځما سره یا به اوشی .

کچرته مینځ کښې حرفونه سوا او یا کم شی او مشدّد شی خو صیغه به دغه د مجهولې وی .

او کچرته لَا راشی نو مضارع منفی مجهول به شی معنی به د مثبت نه منفی شی ، لَا يُضْرَبُ نشی وهلې یا به اونه وهلې شی هغه یو کس .

### مشق

(۱) د مضارع مجهول مثبت او منفی ګردان د لاندینی ټکو نه یاد کړئ :

لَا يُكْفَرُ ، يُخْلَقُ ، يُقَالُ ، يُكْرَمُ ، يُسْتَكْرَمُ ، يُوَحَّدُ ، يُقَاتَلُ .

(۲) لاندېنی صيغې معلومی کړئ او معنې اوکړئ :

تُرْجَعُوْنَ ، فَيُقْتَلُوْنَ ، يُتَوَّفَوْنَ ، يُقَاتَلُوْنَ ، يُخْلَقُوْنَ ، لَا يُضَارَّ ، تُغْلَبُوْنَ ، تُحْشَرُوْنَ ، تُتْلى ، يُنْفَخُ ، نُرَدُّ ، نُهُوْا ، يُرْجَعُ ، لَا يُسْئَلُ ، وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ، وَلَا يُقْضى ، وَلَا يُنْظَرُوْنَ ، تُبَدَّلُ ، يُنْذَرُوْنَ ، تُرْزَقَانِ ، يُعَذَّبُوْنَ ، وَلَا تُظْلَمُوْنَ .

## درېديرشم سبق

### لام د تاکيد او نون

کله د مضارع په سر کښې مفتوح لام د معنې د کلکون دپاره راشی دې ته لام د تاکيد وائی او په آخر کښې د نون د کلکون راشی دې ته نون د تاکيد وائی . دا کله مشدّد وی او کله ساکن نون وی مشدّد ته نون ثقيله او مخفّف ته نونِ خفيفه وائی . کله چې د دې نونونو نه يو نون راشی نو د مضارع کوم خپل نون وو نو هغه ترې لرې شی سوا د جمع مونث د نون نه هغه نه لرې کيږی . يَضْرِبُوْنَ سره چې لام او نون اولږی نو داسې به ئې وائې لَيَضْرِبُنَّ واو هم او غورځيږی او نون هم او نون د تاکيد راشی . چې د نون د تاکيد نه مخکښې فتحه وی نو دا صيغه د واحد وی سوا د لَنَضْرِبَنَّ نه چې هغه د متکلم تثنيه او جمع ده . او چې کله ترې مخکښې ضمه وی نو دا د جمع صيغه ده يا د غائب مذکر يا د جمع او که مخکښې ترې الف وو نو که مخکښې د الف نه بل نون نه وو نو دا تثنې والا صيغې دی څلور او که

مخکښې د الف نه بل نون وو نو د جمع مونث صیغې دی . او که د نون نه مخکښې کسره وه نو د واحد مونث صیغه ده .

د دې معنی چې کیږی نو دې لام او نون دواړه یا که یو راشی نو د مضارع معنی کښې یو بدلون دا راولی چې د حال معنی ترې ختمه شوه اوس ترې صرف استقبال جوړیږی نو د راروان وخت معنی به کیږی او د موجوده هغه ترې ختمه شوه او دویم دا چې مخکښې معنی ساده وه او اوس به ورسره ضرور بالضّرور او خامخواه ټکې وئیل غواړی معنی کښې کلکون پیدا شو . لَاَکِیْدَنَّ خامخواه به چل جوړ کړم ، یا ضرور بالضرور به چل جوړ کړم . ساده معنی کول چې چل به جوړ کړم دا غلطه ده ځکه څه ټکی دې په معنی کښې پاتې کړل . نو د پوره ټکی پوره معنی کول غواړی . که تش لام راشی نو ضرور یو ځل اووایه او نور استقبال به وی . او که تش نون وی نو هم دغه شان وی . او نون خفیفه په صیغو د تثنیو او جمع د مونث کښې نه راځی لَیَضْرِبَنْ ، او نون خفیفه د تنوین په شکل هم لیکلې کیږی لکه لَیَضْرِبًا دا نون خفیفه دې ځکه په فعل تنوین نه راځی . دغه شان د مجهول ګردانونه هم دی .

## مشق

(۱) لَیَضْرِبَنَّ نه ګردان ټول پخپله جوړ کړئ او سره د صیغو او معنی نه ئی یاد کړئ .

(۲) د لاندې ټکو معنې او صیغې معلومې کړئ :

تَرِينَّ ، لَاُقَطِّعَنَّ ، وَلَاُصَلِبَنَّكُمْ ، لَيَسْتَخْلِفَنَّكُمْ ، لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ، لَنَرْجُمَنَّكُمْ ، لَيَكُوْنًا مِّنَ الصّغِرِيْنَ ، لَنَسْفَعًا ، لَاُكَفِرَنَّ ، لَيُسْجَنَنَّ ، لَيَسْجُنُنَّه ، لَاَقْعُدَنَّ ، لَآتِيَنَّ ، لَيُبَدِّلَنَّهُمْ ، لَتُسْئَلُنَّ ، فلَيُبَتِّكُنَّ ، وَلَاٰمُرَنَّهُمْ .

## څلور ديرشم سبق

## لَنْ نافيه تاكيدّيه

د مضارع په ګردان چې کله لَنْ راشی نو لفظ کښې دا بدلون راولی چې کوم ځائې د مضارع آخر کښې پيش وو نو هغې نه فتحه (زبر) جوړه کړی لَنْ تَضْرِبَ او چې کوم ځائې په آخر کښې نون د جمع مذکر او د تثني يا د واحد مونث مخاطب وی نو هغه نون اوغورځوی چې کومې د جمعې د مونث صيغې دی نو هغې سره څه نشی کولې هغه زَړه په زړه وی .

او معنى کښې لَنْ دا فرق کوی چې د اثبات نه نفی شی او دويم فرق دا دې چې دا نفی موکّد وی يعنی د لَا پشان ساده نفی نه وی بلکه د هغه کار نيشت والې ښائی په کلکه سره . دريم فرق دا راولی چې د مضارع نه حال ختم شی او صرف راروان وخت سره ئې خاص کړی يعنی اوس به دا د کار نيشت والې په راروان وخت کښې په کلکه ښائی مثال لکه لَنْ اَنْصُرَ ، بالکل به مدد نه کوم څه .

د معلوم ګردان او د مجهول دواړو باندې داخليږی لکه د مخکښې صيغو پشان نور علامات هغه دی د ګردان په آخر کښې فعل نفی مستقل موکّد بـ لَن ناصبه وئيلې شی .

مشق

(۱) لَنْ يَّضْرِبَ ، لَنْ يَّنْصُرَ ، لَنْ يَّفْتَحَ ، لَنْ يَّسْتَطِيْعَ ، لَنْ يُّقَالَ ، لَنْ يَّدْعُوَ ، لَنْ يَّمُدَّ ، د دې ګردانونه ياد کړئ سره د صيغو نه .

(۲) لاندې صيغې اوپيژنئ او معنى اوکړئ :

وَلَنْ تَفْعَلُوْا ، لَنْ يَّقْدِرَ ، لَنْ تَنَالُوْا ، فَلَنْ يُّكْفَرُوْه ، لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ ، لَنْ يَّضُرَّ ، لَنْ تَسْتَطِيْعَ ، لَنْ يَّنَالَ ، لَنْ يُّصِيْبَنَا ، لَنْ اَكُوْنَ ، لَنْ يَّجِدُوْا ، لَنْ نَّدْعُوَ ، لَنْ اَبْرَحَ ، لَنْ تُقَاتِلُوْا ، لَنْ تَتَّبِعُوْنَا ، لَنْ تَجِدَ ، لَنْ نُّؤْثِرَكَ ، لَنْ تُخْلَفَه .

## پنځه ديرشم سبق

## لَمْ نافيه جحديّه

کله چې په مضارع باندی لَمْ راشی دې لَمْ ته جَحْديه وائې . دا په مضارع کښې د لفظ بدلون راولی هغه دا چې کومو پنځو صيغو کښې آخره کښې پيښ وو نو دلته به پرې سکون راځی لکه لَمْ يَضْرِبْ شو او که چرته آخر کښې د مضارع په دې پنځو صيغو کښې الف ، واو يا ياء نه يو راغلې وو نو هغه به اوغورځوی لکه يَدْعُوْ ، يَرْمِی ، يَرْضی دې نو چې لَمْ پرې راشی نو دا ټکی به ارتاؤ شی

لَمْ يَدْعُ ، لَمْ يَرْمِ ، لَمْ يَرْضَ به شی . او د کومو صیغو نه چې لَنْ نون غورځوو نو دا لَمْ به ئې ترې هم ارتاؤ کړی . او دوه صیغو سره چې جمع د مونث دی نو څه نشی کولې . دا لفظی بدلون وو .

او په معنی کښې دا بدلون راولی چې د مثبت نه منفی شی او زمانه بدله کړی زمانه اوس د ماضی شوه نو اوس به د دې معنی د ماضی منفی پشان کوو نو د لَمْ يِضْرِبْ معنی دا ده چې وهل نه دی کړی هغه يو کس .

نور ګردان او صیغی هغه شان دی که مینځ کښې ټکی کم یا زیات یا مشدّد شی نوخیر دې او د مجهول ګردان هم دغه شان دې معنی به د مجهول د ماضی مجهول منفی پشان کیږی .

## مشق

(۱) لَمْ يَضْرِبْ ، لَمْ يُضْرَبْ ، لَمْ يَدْعُ ، لَمْ يُرْمَ ، لَمْ يَعِدْ ، لَمْ يُوْعَدْ ، لَمْ يَضُرَّ نه ګردانونه یاد کړئ سره د معنو نه .

(۲) لاندې صیغې اوپیژنئ او معنې اوکړئ :

لَمْ يَجِدُوْا ، لَمْ تُؤْتَوْه ، لَمْ يَخِرُّوْا ، لَمْ يُسْرِفُوْا ، لَمْ يَقْتُرُوْا ، لَمْ تَعْلَمُوْا ، لَمْ تَرَوْهَا ، لَمْ يُؤْمِنُوْا ، لَمْ يَذْهَبُوْا ، لَمْ تَطَؤُوْهَا ، لَمْ يَهْدِ ، لَمْ تَأْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا ، لَمْ يَسِيْرُوْا ، وَلَمْ تَظْلِمْ ، لَمْ اُشْرِكْ ، لَمْ نُغَادِرْ ، لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا ، لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا .

## شپږ دیرشم سبق

### د فعل د مفعول وغیره بیان

هیڅ یو فعل بغیر د فاعل نه نه موجودیږی د فاعل د وجې نه د فعل صیغه بدلیدله د هغې بیان اوشو . اوس دا هم ده چې فعل متعدی بغیر د مفعول نه نه پوره کیږی نو فعل متعدی مفعول غواړی لکه خَلَقَ كُلَّ شَئٍ پیدا کړې دې الله تعالی هر یو څیز ، اوس پیدا کونکې الله تعالی دې هغه په خَلَقَ کښې ورته اشاره اوشوه او کلّ شئٍ ورپسی مفعول ذکر شو دیته مفعول به وائې د دې معنی به داسې کول غواړی چې دا ښکاره شی چې دا کار په ده واقع شوې دې . فاعل کړې دې او په مفعول شوې دې . ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا بیانوی الله مثال نو بیانونکې الله تعالی او چې کوم بیانیږی نو هغ مثال دې .

د فاعل د معلوملو طریقه تیره شوې ده صرف د دوو صیغو مسئله ده د ضَرَبَ او ضَرَبَتْ چې دا په مینځ د کلام کښې راشی نو بیا پکښې ضمیر وی فاعل ته اشاره وی او چې کله په سر کښې راشی نو ګوره چې ورپسی په کوم ټکی پیش راغلې وو سره د تنوین یا بې د تنوین نه او یا داسې ټکې وی چې په هغې په آخره کښې واو نون راغلې وی لکه قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ، لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ، یا داسې اسم وی چې تثنیه وی او آخر کښې الف نون وی لکه جَآءَنِیْ رَجُلَانِ نو رَجُلَانِ فاعل دې یا صرف واو وی قَالَ اَبُوْهُمْ دا د فاعل نخښې دی .

او د دې نه علاوه چې کومې صیغې دی نو هغې کښې ضمیر شته هغه ئې فاعل دې اوس مفعول د پیژندلو نخه دا ده کله چې د صیغې

نه روستو چې کومه مکمله صیغه وه د هغې نه روستو کوم ضمیر راشی کوم چې مخکښې تیر شو لکه لام او یاء وغیره پسی چې راتلل نو دا به مفعول وی لکه خَلَقَكُمْ نو دلته د خَلَقَ نه روستو كُمْ راغې نو دا مفعول شو ، وَجَدْتُّمُوْهُمْ دلته هُمْ مفعول دې او تُمْ فاعل دې ، لږ سوچ سره به معلوم شی .

او بله نخښه ئې دا ده چې که ضمیر نه وی نو بیا اوګوره چې په کوم اسم زبر راغلې که د تنوین سره وو او که نه لکه ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا ، او یا داسې اسم وی چې د هغې آخر کښې یا او نون راغلې وی که د یاء نه مخکښې کسره وه نو جمع مفعول او که فتحه نو تثنیه مفعول شو او که آخر کښې الف او یاء وی نو په هغه مفعول لاندې آخر کښې زیر راځی اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ ، يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ دلته اللّٰهَ باندې زبر دې .

کله کله داسې وی چې د یو فعل دپاره دوه مفعوله راځی لکه فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا دلته هُمْ او مَرَضًا دواړه مفعولونه دی نو یو ته مفعول اول وائی او بل ته مفعول ثانی وائې . داسې ډیر فعلونه دی نو معنی کښې به د دې لحاظ کول غواړی .

**مفعول فيه** : د مفعول به نه علاوه د فعل دپاره وخت او ځائی پکار وی کوم اسم چې هغه ښائی نو هغه مفعول فیه او ظرف وی . دا بیا کله سره د فی او کله بې د فی نه وی .

فَاذْكُرُو اللّٰهَ فِيْ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمَاتٍ دلته اسم اللّٰه مفعول به دې او فِی اَيَّامٍ مفعول فیه دې سره د فِی نه ، اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ دا لَيْلَةُ الصِّيَامِ

مفعول فيه دي بغير د فِيْ نه . د دې معنی به داسې کیږی چې د پټښې معنی پټښې راشی .

**مفعول له**:- کله یو اسم داسې وی چې د فعل وجه ښائی او فائده چې دا فعل د څه وجې نه شوې دې ، او د څه دپاره شوې دې نو دیته مفعول له وائی دا کله سره د لام نه وی کله بې د لام نه وی . لکه يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ دلته ابْتِغَآءَ مفعول له دې بې د لام نه د دې معنی به داسې کیږی چې دپاره ټکې یا د دې پشان بل پټښې راشی . لِتَكُوْنَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ دلته لِتَكُوْنَ مفعول له دې .

**مفعول مطلق**:- کله چې د فعل یا اسم مشتقی (فاعل مفعول) نه روستو مصدر راشی او په هغې زبر وی سره د تنوین نه او که بې د تنوین نه وی دا مفعول مطلق دې لکه فَصَّلْنه تَفْصِيْلًا ، فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا .

د دې د معنی کولو یوه طریقه دا ده چې دا کلکون له راوړلې شوې وی چې دا کار خامخواه شوې دې نو معنی یوه دا چې د دواړو معنی اوکړه د فعل د فعل پشان او د مصدر د مصدر پشان فَصَّلْنه تَفْصِيْلًا تفصیل مِ کړې دې تفصیل کول ، یا آسانه معنی او خائسته دا چې فعل کښې د مصدر معنی کول دی لکه ضَرَبَ وهل کول نو دا نیمه معنی ترې لرې کړه وهل معنی فعل کښې مه کوه صرف د کولو معنی اوکړه او هغه مصدر مفعول مطلق ته بوځه نو فَصَّلْنه کړې مِ دې تفصیل والصّفّت صَفًّا تړونکی جوړنکی د صفونو . د مفعول به غوندی معنی ئې اوشی .

او کله دا مصدر د بیا بیا د معنی د فائده کولو دپاره وی لکه يُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا غاړه کیږدی بیا بیا .

او کله د دې معنی کیږی په معنی د ناشنا سره یعنی هغی مصدر سره د ناشنا ټکی لګول څکه دا ئې د ناشنا والی دپاره راوړې وی يُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا را اوبه باسی تاسو په ناشنا رائستلو سره .

**مفعول معه**:- کله د فعل نه روستو یو مفعول ذکر کیږی چې هغه د فاعل سره په کولو کښې شریک وی خو په شکل د مفعول نه وی دا د واو نه روستو راځی دا قران کریم کښې ډیر نشته دې .

## مشق

فَاَحْيَاكُمْ ، اَنْبَأَهُمْ ، اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ ، لَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا ، نَزَّلْنَا ، بَشِّرِ الَّذِيْنَ امَنُوْا ، اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا ، يَخْطِفُ اَبْصَارَهُمْ ، مَشَوْا فِيْه ، اَذْهَبْتُكُمْ طَيِّبَاتِكُمْ ، وَلَا تَنْكِحُوْ الْمُشْرِكتِ ، لَايَخْلُقُوْنَ شَيْئًا ، فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللهِ الرِّزْقَ ، فَاذْكُرُوْنِىْ ، اَذْكُرْكُمْ ، وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ ، اَنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْه ، نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ، قَاتِلُو الْمُشْرِكِيْنَ ، فَاقْتُلُوْهُمْ ، اَرِنَا الَّذَيْنِ ، قَتَلُوْا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ، اَنْشَأَ جَنّتٍ .

## اووه دیرشم سبق

### كَانَ په مضارع (ماضی استمراری)

هر کله چې صیغه د مضارع وی او په هغې باندې كَانَ كَانَا وغیره د هرې صیغې مطابق راشی نو د لفظ په باره کښې په مضارع کښې څه بدلون نه راځی خو معنی ئې بدله شی ځکښې معنی د حال او استقبال کیدله اوس به معنی د ماضی شی او صرف ماضی نه بلکه هغه ماضی چې هغه دا ښائی چې دا کار په تیره زمانه کښې به همیشه کیدلو یا به نه کیدلو. یعنی چې کله په تیره زمانه کښې د یو کار همیشوالې د کیدلو او یا د نه کیدلو ښودل وی نو كَانَ به په مضارع داخل کړې . خو كَانَ به د هرې صیغې سره بدلیږی یعنی كَانَ يَضْرِبُ ، كَانَا يَضْرِبَانِ ، كَانُوْا يَضْرِبُوْنَ ..... او کله چې نفی وی نو كَانَ باندې به مَا یا لَمْ وغیره راځی لکه وَمَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ .

د معنی کولو طریقه داسې ده چې معنی به د ماضی کوې په داسې طریقه چې د همیشوالی معنی اوښائی لکه د كَذِبَ معنی ده چې دروغ وئیلې وو هغه . اوس د دې دروغو همیشوالې ښودل غواړی نو كَانَ يَكْذِبُ به اووائې نو معنی به دا شی هغه به دروغ وئیل یعنی په تیر وخت کښې به هغه همیشه دروغ وئیل .

د كَانَ مستقل معنې کولو ته ضرورت نشته داسې معنی کوې چې كَانَ وو هغه يَكْذِبُ چې دروغ به ئې وئیل . دا اوږدیږی هم او د ډیرو عالمانو د نحوې په نیز صحیح هم نه ده . لکه کله چې په مینځ ټکی شدّ راشی نو هم ماضی استمراری وی لکه كَذَّبُوْا .

## مشق

د كَانَ يَضْرِبُ ټول ګردان ياد كړئ .

د لاندې صيغو معنى په تيره طريقه اوكړئ او صيغې هم اوپيژنئ :

بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ، لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ، كَانُوْا بِه يَسْتَهْزِءُوْنَ ، كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ، كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ، كَانَتْ تَأْتِيْهِمْ ، كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ، وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ، كُنَّا نَعْمَلُ ، كُنَّ يُؤْمِنَّ .

## اته ديرشم سبق

## د فعل امر بيان

د كوم فعل په ذريعه چې د چا نه د يو كار د كولو طلب كولې شى يعنى چې دا كار اوكړه نو دغې ته امر وئيلې شى چې كله تا ته يو كس مخامخ وى حاضر وى ورسره خبرې كوې او هغه ته د يو كار حكم كوى چې دا اوكړه نو ديته امر حاضر وائى . او كله چې هغه كس په موقع موجود نه وى غير حاضر وى او هغه ته د يو كار حكم كيږى نو هغې ته اَمر غائب وائى . او كه خبره كونكې متكلم ځان ته حكم كوې چې ځه دِ داسې اوكړم نو هغې ته امر متكلّم وائى . د امر حاضر شپږ صيغې دى او د غائب هم او د متكلم دوه صيغې دى .

**امرِ حاضر معلوم** :- امر حاضر د مضارع د حاضر معلوم صيغو نه جوړيږى . چې د مضارع د صيغې نه علامت د مضارع چې تاء وه

ابتداء کښې لرې کړې او ورپسې ټکې متحرک وو نو آخر کښې د لَمْ والا عمل اوکړې وقف یا نون غورځول یا آخره کښې که واو یاء الف وو هغه غورځول نو دا امر شو تَعِدُ نه عِدْ شو تُبَشِّرُ نه بَشِّرْ شو ، تُقَاتِلُ نه قَاتِلْ شو. کومه صیغه چې په حرف مضارعت ضمه وی او مینځ کښې کسره وی او شد نه وی نو د هغې په امر کښې به همزه مفتوحه راوړې او آخر کښې د لَمْ عمل اوکړه . لکه تُقِيْمُوْنَ نه اَقِيْمُوْا، تُشْرِكُ نه اَشْرِكْ ..... تَقُوْلُ نه قُلْ شو لام ساکن شو نو واو ساکن هم وو نو واو لاړو د مینځه .

او کچرته د حرف مضارعت (تاء) د حذف کولو نه روستو ساکن وو نو که مینځ کښې ضمه وه نو سر کښې همزه مضمومه راوړه او که مینځ کښې ضمه نه وه نو سر کښې همزه مکسوره راوړه آخر کښې د لَمْ عمل اوکړه . لکه د تَعْبُدُ نه اُعْبُدْ شو ، تَسْمَعُ نه اِسْمَعْ شو، تَضْرِبُ نه اِضْرِبْ شو . دا همزه چې کله مینځ کښې راشی نو غورځیږی يٰاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا دلته سین د عین سره اوتړه همزه لاړه. چې کله په سین وقف کوې نو اوس به دا همزه اُعْبُدُوْا مضمومه وائې او چې مینځ کښې ضمه نه وه نو مکسوره به ئې وائې .

د دې معنی به د حکم په طریقه کیږی لکه اُعْبُدُوْا عبادت اوکړئ اُذْكُرُوْا یاد کړئ چې کله د دعاء په ځائې کښې راشی نو معنی هم دغه وی خو حکم نه وی درخواست وی لکه اِغْفِرْ لَنَا شو .

د تَأْكُلُ امر كُلْ او تَأْمُرُ امر مُرْ او د تَأْخُذُ امر خُذْ راځی چې کله د دې نه خبره شروع کیږی او چې په مینځ کښې وی نو به د تیرې

قاعدې په شکل وی لکه وَأْمُرْ اَهْلَکَ ..... په دغه نحو به د امر حاضر معلوم صیغه پیژنی او معنی به ئې کوې .

**امر حاضر مجهول**:- اوس چې د کومې خبرې حکم کیږی نو هغه کار په دغه مخاطب واقع کول پکار دی یعنی دا چې دا مخاطب دِ هغه اوکړی بلکه پدې مخاطب دِ اوکړې شی لکه اِضْرِبْ اووهه ته اوس دا مخاطب وهل نه کوی بلکه د ده وهل پکار دی نو د دې دپاره هم شپږ صیغې دې چې کومې د مضارع مجهول صیغې دی نو طریقه دا ده چې اول کښې لام مکسور راوړی او آخر کښې به د لَمْ عمل اوکړې نو تُضْرَبُ د مجهول ده لام راوړه آخر کښې د لَمْ عمل اوکړه نو لِتُضْرَبْ ، اودې وهلې شې ته دا هم شپږ صیغې دی .

## مشق

(۱) اُنْصُرْ ، اِسْمَعْ ، کُلْ ، قُلْ ، بَشِّرْ ، جَاهِدْ نه شپږ واړه صیغې سره د معنې یادې کړئ .

(۲) لِتُخْلَقْ ، لِتُدْعَ ، لِتُقَاتَلْ نه هم شپږ واړه صیغې یادې کړئ .

(۳) قران کریم کښې کم از کم پخپله ۲۰ صیغې د امر حاضر راؤباسئ او د معنې کولو مشق ورسره اوکړئ .

## نهه ديرشم سبق

### د امر غائب او متكلم بيان

د مضارع چې کومې د غائب صيغې دی که معلوم وی او که د مجهول دغه شان د متکلم نو د هغې په سر کښې چې لامِ مکسوره راشی او آخر کښې عمل د لَمْ وی یعنی آخر هغه شان وی کوم چې د لَمْ وو نو دا به امر غائب وی که صیغه د غائب وه او که صیغه د متکلم وه نو امر به د متکلم وی . وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ او وې دې په تاسو کښې یوه ډله ، دا ډلې ته حکم دې . فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ او دې دریږی یوه ډله . وَلْنَحْمِلْ او بار دې کړو مونږ . کله کله په صیغو د امر پورې نون تاکید پیوسته کیږی بیا به ورسره معنی د خامخواه کیږی . امر حاضر او غائب ټولو پورې راځی .

**قاعده**:- د امر غائب نه لام نه حذف کیږی البته کله چې د امر غائب د امر حاضر نه روستو راغلې وی نو بیا د هغې نه معلومیږی چې دا راروان امر دې نو د غائب نه لام حذف شی نو هغه ښکاری مضارع خو معنی د امر کیږی لکه قُلْ لِعِبَادِيَ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْ الصّلوةَ دلته يُقِيْمُوْا امر دې او دې دروی مونځ لره .

**قاعده**:- کله کله دا امر په معنی د مضارع وی کله چې په هغه کار عمل نشی کیدې لکه فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا . دلته په معنی د مضارع ده .

**خبرداري**:- طالب جانه د قران او په الله ګرانه مهربانه کوم لام چې د مضارع په سر راځی نو دا درې قسمه دې : (۱) مفتوح دې دا کله

ابتداء دپاره راځی او کله په معنی د خامخواه د کلکون دپاره راځی لکه دا تیر شوې دې .

**دویم/۲** قسم لام دې چې هغې ته لَامِ کَیْ وائی دا هغه لام دې چې د سبب علّت او حکمت معنی ورکوی معنی کیږی د دې دپاره ، دې له سره د دې یو علامه دا معنی ده او دویمه علامه ئې دا ده چې دلته به صیغه روستو د لَنْ پشان وی یَضْرِبُ باندې لَامِ کَیْ راشی لِیَضْرِبَ به شی معنی به وی چې د دې دپاره چې اووهی هغه ، د دې دپاره چې وهل اوکړی هغه ، لِنَعْلَمَ د دې دپاره چې ښکاره کړو مونږ او بله نخه ئی دا ده چې دا لام د مخکښې سره تړلې کیږی نه نو سکون پرې نه راځی همیشه مکسور وی .

**دریم/۳** قسم لَامِ اَمر دې دا هم مکسور دې خو د دې معنی د امر ده اودې کړی ، اودې وهی ، وهل دِ اوکړم داسې معنی به راځی او د دې پسې صیغه د لَمْ پشان وی او دې د مخکښې سره تړلې کیږی یعنی ساکن راځی لکه فَلْتَقُمْ .... وغیره شو .

دا فرق یادول ضروری دی چې معنی کښې طالب جانه غلط نشې ځومره آسان دی د سکول څومره ګران ګران سبق او فارمولې یادوې لږې دا فارمولې هم یادې کړه چې د الله تعالی کتاب باندې پوهه شی .

**مشق**

(۱) لِیَنْصُرْ ، لِیُقَاتِلْ ، لِیَدْعُ نه شپږ د غائب او دوه د متکلم صیغې یادې کړئ او معنی ئې اوکړئ .

(۲) د هر امر پنځه پنځه صيغې د قران نه معلومې کړئ .

(۳) لاندې ټکو کښې د لامونو قسمونه معلوم کړئ او صيغې سره د معنو نه :

ولْتَنْظُرْ نَفْسٌ ، لِنَعْلَمَ اَىُّ الْحِزْبَيْنِ ، لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ، فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآءِكُمْ ، وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ اُخْرى ، فَلْيُصَلُّوْا ، وَلْيَأْخُذُوْا ، ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ ، فَلْيُقَاتِلْ ، يَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ، لِيَعْلَمُوْا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ، لَاَكِيْدَنَّ ، لَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ .

## څلويښتم سبق

## د فعل نهى بيان

د کوم فعل په ذريعه سره چې څوک د يو کار نه بندولې شى هغې ته نهى وائى يعنى دا کار مه کوه . دا هم په صيغو کښې د امر پشان ده کله مخامخ او حاضر کس منع کولې شى او کله غير حاضر او غائب بندولې شى او کله متکلم ځان منع کوى . چې کومه صيغه جوړول غواړې نو پس په هغه صيغه د مضارع باندې لَا د نهى راوړه ديته لَا ناهيّه وائى او په آخر کښې هغه کار اوکړه کوم چې دې په لَمْ کښې کولو تَضْرِبُ نه لَا تَضْرِبْ شو لَا يَضْرِبْ ، دغه شان د مجهولې صيغې شوې .

لَا تَضْرِبْ وهل مه كوه ته ، لَا يَضْرِبْ وهل دِ نه كوى هغه ، لَا اَضْرِبْ وهل دِ نه كوم ځه ، لَا تُضْرَبْ اودې نه وهلې شې ته . په صيغو د نهى پورې نون د تاكيد پيوسته كيږى .

**خبردارې**:- طالب جانه قران خوانه د مضارع په سر كښې لَا دوه قسمه دې يو لَا دې نافيه چې كوم مضارع منفى كښې وو د دې نخښه دا ده چې ورپسى به په صيغه كښې يعنى مضارع په لفظ كښې هيڅ فرق نه وى راغلې لَا يَضْرِبُوْنَ ، ديته مضارع منفى وائى د دې معنى كښې فرق وى لَا تَضْرِبُوْنَ وهل نه كوئ تاسو لَا تَعْلَمُوْنَ نه پوهيږئ تاسو .

دويم قسمه لَا د نهى او منع كولو ده چې ديته لَا ناهيه وائى دې لفظ او معنى دواړو كښې فرق راولى آخر د مضارع د لَمْ پشان شى لَا تَضْرِبْ ، نهى شوه او معنى بدله شوه چې وهل مه كوه ته لَا تَضْرِبُوْا وهل مه كوئ تاسو . كچرته د نهى صيغه آخره كښې نِ مكسور راشى نو دا نون د جمع والا ندې بلكه دلته ياء پټه ده چې د متكلم ضمير دې وَلَا تَكْفُرُوْنِ ناقدرى مه كوئ ځما .

## مشق

(١) د فعل نهى حاضر معلوم او مجهول ګردان د لاندې ټكو نه اوكړئ سره د معنو نه :

لَا تَجْعَلْ ، لَا تُنْصَرْ ، لَا تُقَاتِلْ .

(٢) د نهى غائب او متكلم ګردان د لاندې ټکو نه اوکړئ سره د معنو نه :

لَا يَضْرِبْ ، لَا يُقْتَلْ ، لَا يَغُرَّنَّ .

(٣) لاندې صيغې د څه دی او معنی ئې اوکړئ :

لَا تَجْعَلُوْا ، لَا تُشْرِكُوْا ، وَلَا يُشْرِكْ ، لَا تُقَاتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ، وَلَا تَمَسُّوهَا ، اَقِمِ الصّلوةَ ، فَلَا تَبْتَئِسْ ، وَلَا تَنَازَعُوْا ، وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوْ الْكِتَابَ ، لَا تَعْبُدُوْ الشَّيْطنَ ، فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ، لَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ ، لَا تَخَفْ ، لَا تُخْزُوْنِ ، وَلَا تَكْفُرُوْنِ ، وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ .

(٤) د لَا نافيه او ناهيه د فرق يو څو صيغې پخپله معلومې کړئ .

جزاكم الله خير الجزاء

## يو ځلويښتم سبق

## د فعل تعجّب بيان

تعجّب حيرانتيا ته وائی چې کله يو ناشنا کار اوليدلې شی او بنده حيران شی نو چې کوم فعل سره دغه حيرانتيا ښکاره کولې شی هغه ته فعل تعجّب وائی . يو کار وی او هغه په ظاهر کښې غټ وی او خطرناک وی نو دغه غټوالې چې کوم فعل باندې ښکاره کولې شی نو هغې ته فعل تعجّب وائی . د دې تول او قالب هغه دا لاندې دی :

مَا اَفْعَلَه ، اَفْعِلْ بِه ، فَعُلَ يا فَعُلَتْ .

د دې د معنی طريقه دا ده :

(۱) مَا اَفْعَلَه ، مَا اَحْسَنَه يو معنی داسې ده شَیْءٌ اَحْسَنَ زَيْدًا غټ څيز دې چې خائسته کړې دې زيد يا اَیُّ شَیْءٍ اَحْسَنَ زَيْدًا کوم يو څيز دې چې خائسته کړې دې زيد . مَا اَصْبَرَهُمْ عَلَی النَّارِ کوم يو څيز دې چې صبر ئې کړل په اور شَیْءٌ اَصْبَرَهُمْ غټ څيز صبر کړل دوئ په اور . دا لفظی معنی ده . او د محاورې معنی ئې دا ده چې څه ناشنا صبريدل د دوئ دې په اور باندې .

(۲) اَفْعِلْ بِه ، اَسْمِعْ بِه ، دلته دا اَسْمِعْ په معنی د اَسْمَعَ دې د امر معنی نده . باء مراد نه ده او د باء نه روستو چې څه راغلې وی هغه ئې فاعل وی که جمع وی که واحد که تثنيه وی . څه ښه اوريدونکې دې هغه او که بِهِمْ نو بيا معنی د هغوئ .

(۳) فَعُلَ او فَعُلَتْ لکه کَبُرَتْ کَلِمَةً څه غټه خبره ده د سَآءَتْ باره کښې او سَآءَ باره کښې هم يو قول دا دې چې دا فعل تعجب دی نو څه ناكاره او بد دې سَآءَتْ مَصِيْرًا .

## مشق

د سبق يادولو نه روستو د ښخولو دپاره د ځان نه په هر يو قالب او تول پنځه پنځه صيغې جوړې کړئ او معنى ئې اوکړه چې سبق پوخ شی.

## دوه څلويښتم سبق

## د نِعْمَ او د بِئْسَ بيان

چې د کوم څيز او د چا او يا د کار ښه والې ښکاره کول او د هغې صفت کول وی نو د هغې دپاره نِعْمَ يا نِعْمَتْ راوړلې کيږ. او که بدوالې خکاره کول او د هغې بد وئيل وی نو بِئْسَ يا بِئْسَتْ راوړلې کيږی .

نِعْمَ او بِئْسَ پسې کله د الف لام والا اسم راشی هغه ئې فاعل وی او داسې اسم ته مضاف وی چې هغه د الف لامو والا وی نِعْمَ الْمَوْلى ، بِئْسَ الْمَصِيْرُ.

د دې معنى چې اوکړې نو خبره نيمګړې وی لکه څه ښه مدد ګار دې نو څوک نو ورپسې به څه پټ وی چې الله او بِئْسَ الْمَصِيْرُ بد دې ځائې د ورتلو نو ورپسې جهنّم پټ دې دې فعلونو ته خبر وائې

مخکښې او هغه پټ ته مبتدا وائی . د نِعْمَ پسې کله مَا د زائد د کلکون دپاره راځی نَعِمَّا .

## مشق

قران کريم کښې څو مثالونه د نِعْمَ او بِئْسَ اوګورئ ؟

## خاتمه د بحث د فعل د څنو فعلونو په معنی کښې

## درې څلويښتم سبق

### لِنَعْلَمَ ، لِيَعْلَمَ اللّٰهُ د معنې وضاحت

قران کريم کښې د الله تعالى د علم په باره کښې ټکی د استقبال راوړی لکه لَنَعْلَمَ ، لِيَعْلَمَ اللّٰهُ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ ، لِيَبْلُوَكُمْ وغيره شو چې د دې نه په ظاهر کښې دا معلوميږی چې مخکښې د دې کارونو کيدلو نه الله تعالى ته د دې پته نه وه او چې دا کارونه اوشو نو الله تعالى ته پته اولګيده حالانکه د الله تعالى علم خو ازلی قديم پخوانې دې هيڅ څيز نه وو او الله تعالى په هغې باندې پوهيدلو هيڅ يو ذره د الله تعالى د علم نه پټه نه وه . د هغه په علم کښې د زمانو حال استقبال او د ماضی څه سوال دې . نو د دې ټکو څه مطلب دې؟

د دې قسمه ټکو ډير مطلبونه بيان شوی دی او عالمانو علمی تحقيقونه کړی دی . آسان د عوامو رونړو دپاره مختصر مطلب هغه

**يو** دا بيانولې شی چې دلته علم په معنی د اظهار دې لِنَعْلَمَ يعنی لِنَظْهَرَ د دې دپاره چې نورو ته ئې ښکاره کړم نو بيا که عزتمند خلق وی نو مطلب دا چې څه هغوئ څلول غواړم چې اوڅلوی الله تعالی . او که بې عزته خلق وی کافر او منافق نو هغوئ ښکاره کول شرمول دی دغه شان مطلب د ابتلاء هم دې چې الله تعالی امتحان معلومولو له نه کوی بلکه څلولو له او د ځنو شرمولو له کوی .

**دويم** مطلب دا دې چې دلته علم په معنی د تميز او جداوالی دې لِنَعْلَمَ يعنی لِنُمَيِّزَ د دې دپاره چې جدا کړو مونږه تابعدار او غير تابعدار .

دا دوه آسان مطلبونه دی څوک علم په معنی د ابتلاء اخلی او څوک مستقبل په معنی د ماضی ګرځوی خو دغه دوه جوابونه آسان دی نور علمی تحقيقونه که څوک کتل غواړی نو تفسير عثمانی دې اوګوری په آيت د سورة البقرة : ١٤٣ باندې هغوئ علمی تحقيقونه کړی دی .

## مشق

دا سوال او جواب د استاذ نه ښه ياد کړئ ؟

وَلَمَّا يَعْلَمِ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِيْنَ ، حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِيْنَ ، لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُه بِالْغَيْبِ د دې معنې اوکړئ .

## څلور څلویښتم سبق

### د مضارع نه استقبال جوړؤونکی څيزونه

محکښې مونږ اووئيل چې په مضارع کښې دوه زمانې وی حال يعنی موجوده زمانه او استقبال يعنی راروانه زمانه . اوس ځنې ټکی دی او ځنې ځايونه دی چې هغې کښې د مضارع معنی صرف د استقبال کول ضروری وی يعنی د مضارع ته فعل مستقبل جوړ شی د حال هغه معنی ترې ختمه شی هغه ډير څيزونه قران کريم کښې چې کوم ډير راغلی دی نو هغه دلته ذکر کولې شی .

چې کله دا حيزونه په مضارع داخل شی او داسې ځايونو کښې مضارع راشی نو اوس به د مضارع معنی د استقبال کوو حالی معنی کول به غلط وی . هغه ځايونه دا دی :

(١) چې يو د سين او سوف نه په مضارع راشی : سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ، فَسَوْفَ يَأْتِيْ اللّٰهُ بِقَوْمٍ .

(٢) اِنْ په مضارع راشی او ورپسی اِلّا نه وی . اِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّه فُسُوْقٌ بِكُمْ .

(٣) هَلْ په مضارع راشی هَلْ اُنَبِّئُكُمْ .

(٤) لَنْ په مضارع راشی وَلَنْ تَفْعَلُوْا .

(٥) لام د امر راتلل لكه لِيُنْفِقْ ، خرچ دِ اوکړی .

(٦) لَا د نهی يعنی د منع کولو لَا تُشْرِكُوْا .

(۷) اِذَا په مضارع راتلل وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْه آيَاتُنَا .

(۸) اَنْ داخليدل وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ .

(۹) لَولَا ، هَلَّا ، لَوْمَا ، اَلَا ، اَلَّا د تيزولو دپاره چې په مضارع داخل شی ، لَولَا يَأْتِيْنَا بِآيَةٍ مِّنْ رَّبِّه .

(۱۰) د لَيْتَ او لَعَلَّ نه روستو مضارع راشی لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَالِكَ اَمْرًا .

(۱۱) چې په آخر کښې نون تاکيد راشی لکه لَاَكِيْدَنَّ .

(۱۲) مضارع روستو د هغه اسماء نه راشی چې په هغې کښې د شرط (کچرې) والا معنی وی لکه مَا مَنْ مَهْمَا وغيره شو ، مَهْمَا تَأْتِنَا.

(۱۳) چې کوم ځائی کښې الله تعالی د څه وعده کوی او يا يرول کوی لکه يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ .

(۱٤) کوم لَام چې معنی د علّت او سبب ورکوی په معنی د (دپاره) وی ورپسی به صيغه د لَنْ پشان وی لکه لِيَعْلَمَ اللّٰهُ .

(۱۵) چې کومه مضارع د قيامت د کارونو او حالتونو باره کښې راشی لکه وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ .

## مشق

(۱) دا تير ځايونه خه کلک ياد کړئ .

(۲) محکښې چې مثالونو کښې کوم آيتونه ذکر شوی دی نو د دې معنې زده کړئ او د استاذ نه د دې د معنې طريقه زده کړئ .

(۳) قران کريم مطالعه کړئ او په خپله د دې مطابق څه نا څه مثالونه پخپله راوباسئ او معنی ئې زده کړئ .

الله دِ مونږ په قران پوهه کړی . آمين .

## پنځه څلويښتم سبق

### د مضارع نه د حال جوړؤونکی ځيزونه

اوس ځنې ځيزونه داسې دی چې هغه ځائې کښې د مضارع معنی د حال کول ضروری وی يعنی اوس پکښې د استقبال معنی کول غلط دی هغه ځايونه هم ډير دی چې کوم قران کښې راځی نو هغه مشهور دا دی :

(۱) چې مضارع د خبرې په سر کښې راشی او لام پرې راغلې وی بغير د سَوْفَ نه . او ورسره نون د تاکيد آخره کښې نه وی . لکه وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ (نمل : ۷٤) .

(۲) چې نفی په مَا اوشی وَمَا يُلَقّٰهَا .

(۳) په سر د مضارع لَيْسَ راشی .

(٤) د ساده مبتدا خبر کښې مضارع راشی ، اَللّٰهُ يَجْتَبِىْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ.

(٥) چې کوم فعلونه د شروع کولو په معنی وی د هغې نه روستو مضارع راشی طَفِقَا يَخْصِفَانِ .

(٦) مضارع په ترکیب کښې حال واقع شی . وَجَآءُوْا اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ (یوسف : ١٥) .

## مشق

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ ، وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ ، مَا اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِنْ رِّزْقٍ .

## شپږ څلویښتم سبق

### مضارع نه ماضی جوړؤونکی څیزونه

اوس داسې ځایونه دی چې هغه ځایونو کښې مضارع په معنی د ماضی وی یعنی ظاهر شکل ته چې ګوری نو شکل ئې شکل د مضارع وی خو معنی به مونږ د تیرې زمانې کوو د زمانې ماضی . هغه ځایونه دا دی :

(١) د لَمْ او لَمَّا نه روستو مضارع راشی . لَمْ يَتَّخِذُوْا ، لَمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ ، فرق د دواړو دا دې چې لَمْ صرف په تیره زمانه کښې د کار نیش والې خائې او لمّا وائې په تیره ټوله زمانه کښې دا کار ندې شوې تر خبرو تر وخته په راروان وخت کښې د کیدلو امید وی . لمَّا يَذُوْقُوْا لا ندې څکلې دوئ عذاب ځما .

(٢) د لَوْ نه روستو مضارع راشی . لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا .

(۳) اِذْ نه روستو مضارع ، اِذْ يَرْفَعُ اِبْرَاهِيْمُ .... په هغه وخت كښې چې اوچتول .

(٤) كَانَ چې په مضارع راشی نو ماضی استمراری ترې جوړيږی كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ .

(٥) مضارع خبر د كَانَ واقع شی يعنی د كَانَ او مضارع مينځ كښې اسم او بيا مضارع وی .

(٦) چې كله مضارع په ماضی عطف شی يعنی اول ماضی ذكر شی او بيا واو يا فاء ثمّ وغيره نه روستو مضارع راشی نو دا مضارع په معنی د ماضی باندې وی . اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ دلته دا تُصْبِحُ په معنی د اَصْبَحَتْ دې .

خبرداري :- كله چې مضارع پورې د دغه مخكښې ځيزونو نه چې درې سبقونو كښې ذكر شو راشی نو هغه مضارع خو د هغې په معنی شی خو چې كله په مضارع سره يو هم د دې مخكښې ځيزونو نه نه وی نو بيا مضارع كښې دواړه زمانې شته دې حال او استقبال خو اولی پكښې كومه ده نو عالمان د نحوی ذكر كوی چې حال پكښې اولی ده . وَيَعْلَمُ مَا فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ .... او پوهيږی الله تعالی ....

## مشق

(۱) دا تير ځايونه ښه كلك ياد كړئ .

(۲) کوشش اوکړئ چې د قران نه د دې مثالونه معلوم کړئ .

لَمْ يَنَالُوْا ، وَاِنْ يَّعِدُكُمْ ، وَاِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ ، اِذْ تَقُوْلُ ، وَاِذْ يُغَشِّيْكُمْ ، يَأْخُذُ الصَّدَقتِ ، لَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ ، لَمْ يَدْعُنَا ، وَاللّٰهُ يَدْعُوْا ، كَانُوْا لَا يُبْصُرُوْنَ ، لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِه .

## اووه څلويښتم سبق

## ماضی په معنی د مضارع

ماضی تیر وخت ته وئیلې کیدله د هغې ګردان او علامات ذکر شوی دی اوس کله داسې وی چې لفظ به لفظ د ماضی وی او معنی به د ماضی نه وی . بلکه معنی به د حال یا استقبال کیږی یعنی ماضی به په معنی د مضارع باندې وی . دا هم په کلام د عربو کښې ګڼړ ځایونه دی . هغه لاندې ذکر کیږی :

(۱) چې د خبرې په سر کښې مضارع ذکر وی بیا پرې ماضی عطف شی یعنی د فاء ثمّ ، واو وغیره نه روستو ماضی راشی نو دا ماضی په معنی د مضارع وی .

(۲) کله چې د کلام شروع وی بالکل په سر کښې ماضی راشی نو دا د مضارع په معنی وی لکه اَتٰی اَمْرُ اللّٰهِ دا معنی نده چې راغلې ده فیصله د الله بلکه د حال معنی اوکړه چې راغله فیصله د اللّٰه یا رابشی .

(۳) کله چې د قیامت په حالاتو او دوزخ په خبرو کښې ماضی راشی نو دا د مضارع معنی ورکوی لکه وَنَادی اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ آواز به اوکړی . دا قسم قران کریم کښې ډیر زیات راغلي دي . خاص کر آخری سپاره کښې .

(٤) پس د اسم موصول نه الّذی ، الَّذِيْنَ وغیره نه خو دلته ضروری نده چې معنی د مضارع وی خو کله کله به د ماضی معنی نه صحیح کیږی نو د مضارع معنی کول ئې جائز دی .

(٥) په مقام د شرط او جزاء کښې یعنی ماضی یا د شرط په ځائې کښې ذکر وی لاندې د اِنْ ، اِذَا وغیره نه یا پدې عطف وی نو دغه ځائې د استقبال معنی کیږی . فَاِنْ بَغَتْ ، اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ .

(٦) په ځائې د دعاء یا د بد دعاء (خیرو) کښې ماضی راشی لکه فَزَادَهُمُ اللّٰهُ زیات دِ کړي ، قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ په لعنت دِ کړی الله دوئ لره .

(٧) د كُلَّمَا نه روستو ماضی راشی لکه كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ .

(٨) پس د حَيْثُ نه ماضی راشی فَكُلُوْا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمْ کوم ځائې چې خوښیږی ستاسو .

(٩) د نداء نه روستو (یاء وغیره نه روستو راشی) پدې ځائې کښې هم ضروری نده چې معنی د مضارع شی البته جائز دی چې کله کله به معنی د مضارع شی .

(١٠) پس د لَوۡلَا ، هَلَّا ، او مَا (د تیزولو په معنی چې وی) نه ماضی راشی نو دا په معنی د مضارع وی لَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ .

(۱۱) کله په دلائلو عقليو کښې د الله تعالى په صفتونو کښې ماضى په معنى د مضارع وى يعنى حال وى ، لکه اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً راوروى د وريځې نه اوبه . داسې ډير ځايونه دى قران کښې .

(۱۲) کله چې قران کريم يوه واقعه ذکر کوى . نو چې د يو بل د خبرو اترو کښې کله ماضى په معنى د مضارع باندې راځى . قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ .

## مشق

(۱) دا ځايونه سره د پوهى نه يادول ضرورى دى .

(۲) د استاذ نه د دې په معنو کولو ځان ښه پوهه کړئ .

(۳) د قران کريم نه د دې مثالونه په خپله راوباسئ .

## اته څلويښتم سبق

## د مَا كَانَ استعمال په قران کښې

قران کريم کښې مَا كَانَ په څو طريقو باندې استعمال شوې دې تقريبًا پنځه معنې د دې په قران کريم کښې راځى هر ځائې يوه معنى نه وى :

(۱) په معنى د مَا يَنْبَغِىْ باندې يعنى د هغې کار جواز ختمول او نفى کول يعنى د کار مناسب او شايان شان ندې .

مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَه الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (العمران : ٧٩)

ندى مناسب هيڅ بنده لره چې ورکړی الله تعالى هغه لره كتاب او طاقت د فيصلې او پيغمبرى بيا دا وائى خلقو ته چې شئ عبادت کونکی ځما د الله تعالى نه علاوه.

(۲) د يو څيز وجود او شته والې نفى كول يعنى دا څيز موجود كيدې نشى.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ هَدٰهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُوْنَ (التوبة : ١١٥)

ندې الله چې ګمراه كړی يو قوم پس د دې نه چې هدايت ورته كړې وى الله تعالى تردې چې بيان كړى دوئ ته هغه چې دوئ پرې ځان بچ كوى.

(۳) د اختيار ختمول يعنى د دې څيز اختيار نشته دې.

وَمَا كَانَ لَنَا اَنْ نَّأْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ (ابراهيم : ١١)

او نشته اختيار مونږ لره چې راوړو مونږ تاسو ته معجزه مګر په حكم د الله تعالى باندې.

(٤) د طاقت او د قدرت ختمول.

مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْبِتُوْا شَجَرَهَا (النمل : ٦٠)

نشته ستاسو طاقت دا چې راوټکوئ ونې د دې .

(٥) د امکان نفی کول چې دا خبره د کیدلو نده .

مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ (قصص : ٦٨)

نشته دوئ له څه اختیار .

د دې د پېژندګلو طریقه دا ده چې کوم کار ذکر وی نو هغې ته به اوګورې چې څنګه دې نو کله به هغه مناسب نه وی او کله به د هغې اختیار او طاقت نه وی نو د لږ سوچ سره به معنی راؤځی او پته به اولګی .

## مشق

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ ، وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّأْتِيَ بِايَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ، وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَأً ، وَمَا كَانَ لَنَا اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَئٍ ، مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ، مَا يَكُوْنَ لَنَا اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهذَا ، مَا يَكُوْنُ لِيْ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ ، وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ .

## نهه څلویښتم سبق

## د اَلَمْ تَرَ د معنې بیان

تَری د رؤیة نه دې لیدلو ته وائی د دې اَلَمْ تَرَ ظاهرې معنی دا جوړیږی چې آیا ندې لیدلی تا نو ځنې د شرک نه ډک زړونه هغوئ وائی چې دا هر څه نبی علیه السّلام لیدلی وو نو الله تعالی ئې ورته یادوی چې ولې تا لیدلی نه وو ؟ مطلب دا چې هغه لیدلی رایاد کړه . دا خبره غلطه ده او د شرکی زړونو شرکی معنی ده .

اول خو دا ده چې دلته خطاب هر اوریدونکی د قران کریم ته دې دا قران هر کس ته دعوت د فکر او سوچ ورکوی نو صیغه د مفرد (واحد) مخاطب راوړی د عام کولو دپاره چې هر سړې ئې ځان ته راوړوی چې دا ماته وائی .

وَاَصْلُ الْخِطَابِ اَنْ يَّكُوْنَ لِمُعَيَّنٍ وَقَدْ يُتْرَكُ لِغَيْرِهِ لِيَعُمَّ (تلیخص المفتاح) .

اصل د خطاب دا ده چې دا یو معیّن ته کیږی خو کله دا معیّن پریخودلې شی او غیر معیّن مراد وی چې عام شی هر چا ته .

دویمه دا ده : چې دلته که د سترګو لیدل مراد شی نو مطلب دا چې تا تر اوسه ندی لیدلی او نه دې اوریدلی دی ؟ نو اوس واوره او اووینه لکه حدیث کښې راځی :

اَلَمْ تَرَ اَنَّ مجْذَرًا نَظَرَ انِفًا اِلی زَیْدٍ ..(شرح معانی الاثار للطّحاوی) .

عائشې رضی الله تعالی عنها ته وائی چې ولې تا ندې لیدلی چې مجذر نظر اوکړو زید ته ، نو دا نه چې عائشی لیدلی وو .

او بنه دا ده چې دلته اکثر مفسرین وائی رؤیت لیدل د زړه مراد دی د سترګو ندی مراد . اَلَمْ تَعْلَمْ په معنی دې . مطلب دا چې د دې واقعې نه ته نه ئی خبر اوس ځما په خبریدلو باندې خبر شه . اَلَمْ تَعْلَمْ بِاِعْلَامِیْ اِیَّاکَ آیا نه پوهیږی ځما په پوهه کولو باندې مطلب دعوت د سوچ او فکر دې . اَلَمْ تَرَ آیا فکر دې ندې کړې یعنی فکر اوکړه . ګویا استفهام د امر په معنی دې .

هذِهِ رُؤْيَةُ الْقَلْبِ بِمَعْنى اَلَمْ تَعْلَمْ ؟ وَالْمَعْنى عِنْدَ سیبَویه تَنَبَّه اِلى اَمْرِ الَّذِیْنَ ، وَلا تَحْتَاجُ هذِه الرُّؤْيَةُ اِلى مفعولَین (قرطبی ج۳ صـ۲۱۰) .

دا د زړه لیدل دی معنی دا چې آیا نه پوهیږی ته ، سیبویه دا معنی کوی چې د دغه کسانو معاملې نه خبر شه . او دا دوه مفعوله نه غواړی .

كُلُّ مَا فِی الْقُرْآنِ مِنْ اَلَمْ تَرَ فَمَعْنَاه اَلَمْ تَخبِرْ ، اَلَمْ تَعْلَمْ مِنْ رُّؤْيَةِ الْعَیْنِ كَقَوْلِه تعالی اَلَمْ تَرَ اِلى رَبِّكَ كَیْفَ مَدَّ الظِّلَّ ، (ابن خالویه اعراب ثلاثین سورة صـ۷۵) .

وَكُلُّ مَا فِی كِتَابِ اللّٰهِ تعالی اَلَمْ تَرَ مَعْنَاه اَلَمْ تَخْبِرْ فَهُوَ مِنْ رُّؤْيَةِ الْقَلْبِ وَالْعِلْمِ لَا مِنْ رُّؤْيَةِ الْعَیْنِ (ایضًا صـ ۱۹۱) .

دا کله چې اَلَمْ تَرَ د کلام په سر کښې راشی چې د دې ځائ نه نوی خبره شروع کیږی نو توجّه ته اشاره وی او د هغه کلام اهتمام ته

اشاره کوی چې راروانه خبره د سوچ او فکر قابله ده څه وړه خبره نده .

او کله چې دا د یو مضمون په مینځ کښې راشی مخکښې یو مسئله شروع وی بیا خبره بل طرفته لاړه شی بیا هغې زړې ته توجه اړول مقصود وی نو بیا اَلَمْ تَرَ راوړی لکه سورة البقرة کښې د جهاد مسئله وه قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۱۹۰ کښې بیا د کور د اصلاح مسئلې ذکر شوې اوس روستو بیا د قَاتِلُوْا مسئله راوړه ۲۴۳ کښې نو اَلَمْ تَرَ هغه زړې خبرې ته توجه اړولو دپاره راوړو بیا د جهاد مسئله شروع کوی چې د کور اصلاح د دې مسئلې دپاره وه . داسې کله کله د اَلَمْ تَعْلَمْ مسئله هم ده په څنو ځایونو کښې اَلَمْ تَعْلَمْ راوړی هم دا مقصدونه او مطلب وی .

## مشق

(۱) سبق په صحیح طریقې سره یاد کړئ او د استاذ نه پرې ځان پوهه کړئ ؟

(۲) د قران کریم نه مثالونه راوباسئ د اَلَمْ تَرَ.

دا ډیرې خوږې خبرې دې روره ، یادې ئ کړه اې ځما د سترګو توره.

چې نشی د مشرک بدعتی مخې ته مختوره .

## پنځوستم سبق

### اَرَأيْتَ ، اَرَاَيئتُكُمْ

قران د مخاطب د ملاماته كولو او متوجه كولو دپاره ارأيْتَ ، اَرَأَيْتُمْ أَرَئَيْتُكُمْ راوړی د دي په معنی كښې يو قول دا دې چې دا مجموعه په معنی د اَخْبِرْنِىْ دي كه تَ راغلې وی او كه اَرَئُتُمْ وی نو د اَخْبِرُوْنِىْ په معنى دې دا د هغوئ نه تپوس كوی د راروانې خبرې نو دلته پس حاصل معنى مراد ده كه آخر كښې كَ كُمْ وی نو دا صرف د مخاطب حال خائی چې يو دې كه ډير د دغې د معنې سره څه تعلق نشته دې .

دويم دا چې كه دا د سترګی ليدل وی نو د استخبار او استفهام دې د نااشنا حال د دوئ نه . كه د سترګو ليدل شی او كه د زړه ليدل شی نو يو مفعول غواړې دوو ته حاجت نشته او هغه يو مفعول دې حَالَكُمْ نو معنى دا چې آيا وينې ته حال خپل يا وينئ تاسو حال خپل دا چې د سترګو ليدل شی او كه د زړه ليدل شی نو په معنی د پوهې دې . آيا پوهيږئ او خبر يئ د حال خپل نه او مجازًا ئې معنی د اَخْبِرنِىْ ده ، دلته هم حَالَكُمْ پټ دې او يو مفعول غواړی دوو ته حاجت نشته دې .

ذهب الرّضىّ تبعًا لغيره ان رّأى هنا بصرية وقيل قلبية وهى على القولين متعدٍ لواحدٍ واصل اللفظ الاستفهام عن العلم والعرفان او الابصار الّا انّه تجوز به عن معنًى اخبرنى ولا يستعمل الا فى

الاستخبار عن حالةٍ عجيبةٍ لشئٍ (روح المعانی ج٧ صـ ١٤٠ بحواله جواهر القرآن) .

## یو پنځوستم سبق

### فعل او د هغه رشته

ځما انتهائی محبوب استاذ شیخ التّفسیر والحدیث مولانا غلام حبیب صاحب رحمة الله المجید به فرمائیل چې د مذاق په طور چې الفعل كَالْبَیْلِ ، فعل پشان د غوئ دې چې چا پرې پړې واچوو نو د هغه دې . مطلب د دې خبرې دا دې چې فعل د خپل متعلق سره معنی بدلوی د فعل فاعل چې بدلیږی نو معنی ورسره بدلیږی كله د مفعول وغیره د وجې نه هم معنی بدله كړی . لكه قیام اودریدلو ته وائی اوس چې كوم د ښپو او د بدن والا فاعل وی او هغه ورپسې ذكر شی نو صحیح ده اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا یا اِذَا قَامُوْا اِلَی الصَّلوةِ قَامُوْا كُسَالی خو چې كله د فعل متعلق فاعل یا مفعول وغیره داسې ذكر شی چې د هغې اودریدل نه وی صحیح نو دلته به د فعل معنی بدلیږی لكه یُقِیْمُوْنَ الصَّلوةَ اودروی دوئ مونځ لره نو دلته اودرول نه مراد رائج كول د مانځه دی او خیال ساتل او پابندی كول د مانځه دی .

دغه شان جَاءَ ، اَتی دی نو چې د راتللو څیز ته نسبت اوشی صحیح ده ګنی معنی بدلیږی قران كریم كښې د جَاءَ او اَتی نسبت ډیر پیغمبرانو ته شوې وی خو كله ورپسې په كلام كښې د باء والا لفظ راغلې وی لكه بِالْبَیِّنتِ بِالْكِتَابِ وغیره اوس دلته د جَاءَ معنی بدله

شوه تعدية په باء اوشو نو جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ دلته چې دا معنى كوى نو چې راغلل دوئ ته پيغمبران په معجزو نو څه مطلب په معجزو باندې راروان وو نو دلته معنى اوكړه چې راوړى دوئ ته پيغمبرانو ښكاره دليلونه يا احكام نو اوس ذهن ته خبره كوزه شوه دغه شان لفظ د اَتى دې نو د فعل د متعلق سره د محاورې مطابق خائسته معنى كول چې عام فهم وى نو خلق پرې پوهه شى د قابل مربّى استاذ معنى يادول ډير وزن لرى .

دومره ځان پوهه كول ضرورى دى چې د هر فعل معنى هر ځائې يو شان نه وى سوچ ورته كول پكار دى .

## مشق

لاندې آيتونو ته سوچ اوكړئ او معنو ته هم .

جَآءُوْا عَلٰى قَمِيْصِه بِدَمٍ كَذِبٍ ، اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبِيِّنٰتِ ، وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّأْتِىَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ، وَجِيْئَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ ، وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ، وَمَا كَانَ لَنَا اَنْ نَّأْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ، اَقِيْمُو الصّلوةَ ، قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ الرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ ، فَأْتُوْا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ، اِنْ كُنْتَ جِئتَ بِاٰيَةٍ فَأْتِ بِهَا ، اِيْتُوْنِىْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ .

## دوه پنځوستم سبق

### كَذَبَ او كَذَّبَ ، اَنْزَلَ او نَزَّلَ ، اِسْتَنْصَرَ

عربئ ژبه د كمالونو نه ډكه ژبه ده او قران كريم عجيبه كتاب چې ځومره معنى وى نو دومره ټكې وى او چې څنګه معنى وى نو هغه شان ټكې وى . چې كله په خپلو اصلى ټكو باندې نور ټكى زياتيږى نو په معنى كښې هم فرق راځى . قران كريم كښې مونږ ګورو چې كله يو ټكې لنډ اوساده ذكر وى لكه كَذَبَ ، نَزَلَ ، يَكْذِبُ ، يَنْزِلُ نو د دې معنى هم ساده او لنډه وى او كله ټكې زيات شى نو معنى كښې هم ډيروالې راځى د يو څو ټكو فائده ليكلې كيږى چې نور پرې آسان شى .

**نَزَلَ**:-د دې معنى ده راكوزيدل دا لازمى دې اوس چې كله پدې پسى باء راشى لكه نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ نو معنى ئې ده راكوزول راوړل راليږل او دغه شان چې ورسره همزه او بِهِ زياته شى لكه اَنْزَلَ نو راكوزول نازلول دغه شان ذَهَبَ تللل ذَهَبَ بِهِ بوتلل اَذْهَبَ هم بوتلل ، ختمول . او چې كله په زاء شدّ راشى زاګانې دوه شى نَزَّلَ شى نو هم راكوزول خو فرق دا دې چې اَنْزَلَ په يو ځل راكوزول ديته بابِ اِفْعَال وائى ، او نَزَّلَ لږ لږ راكوزول په شدّ سره هميشه والې ، د دمه دمه والې په معنى كښې پيدا شو نو قران په يو ځل د لوح محفوظ نه بيت العزّة د دنيا آسمان ته راغلې دې نو قران ته اَنْزَلَ ټكى هم راوړى دغه شان نور كتابونه په يو ځل راغلى وو نو هغوئ دپاره د اِنْزَال لفظ راوړى او قران دنيا ته لږ لږ هم راغلې دې نو ټكې د نَزَّلَ راوړى (كله كله د يو بل په معنى راځى) ديته باب تَفْعِيْل وائې ځكه

وائي چې بابِ تفعيل کښې تَدريج او تکرار وی او کله ورسره د شدّ نه تاء هم راځی تَتَنَزَّلُ ديته باب تفعُّل وائي .

**كَذَبَ**:- د دې ساده معنی ده دروغ وئيل ساده معنی ده اوس چې کله د ذال شدّ سوا شو او كَذَّبَ شو نو اوس پکښې بل څه ته او چا ته د دروغژن کولو د نسبت معنی پيدا شوه او دغه شان په بل د دروغو د ګمان معنی پيدا شوه .

څما محبوب استاذ شيخ التّفسير والحديث مولانا غلام حبيب صاحب رحمه الله به فرمائيل چې د كَذَّبُوْا معنی صرف داسې مه کوئ چې دروغژن کوی دوئ ځکه د دوئ څه اختيار دې چې قران يا پيغمبر دروغژن کړی . يا پکښې د نسبت معنی کوئ او يا د ګمان نو داسې کوئ چې نسبت د دروغو کوی دوئ او يا دا کوئ چې دروغژن ګڼړی دوئ .

او پکښې د هميشه والی معنی هم پيدا کړه چې دروغژن به ئی ګڼړل او نسبت د دروغو به ئې کولو نو مطلب دا چې دغه کار ئې په تيره زمانه کښې هميشه وو .

**نَصَرَ اسْتَنْصَرَ**:- دغه شان کله سين او تاء زيات شی نو معنی کښې فرق راځی . نَصَرَ معنی ده مدد کول نو چې سين او تاء سوا شو نو اِسْتَنْصَرَ معنی ده مدد غوښتل اوس ئې پکښې د غوختلو او د طلب معنی زياته کړه . داسې اِسْتِسْقی اوبه غوختل ، اِسْتِعَانَة مدد غوختل داسې قران کښې ډير دی او کله کله ئې ساده معنی هم کيږی ديته بابِ اِسْتِفْعَال وائې او وائې چې بابِ استفعال طلب له راځی .

**قَتَلَ قِتَال**:- كله كله د فاء كلمې پسې الف زيات شى لكه قَتَلَ نو د دې معنىٰ ده وژل او چې قَاتَلَ شى نو اوس معنى د يو بل وژل چې جنګ ورته وائى جَاهَدَ د بل سره كوشش كنبې مقابله كول شو چې فاء كلمه پسې الف زيات شو نو اوس پكښې د دواړو غاړو نه هغه كار كول وى هم د فاعل د طرف نه هم د مفعول د طرف نه خو فاعل پكښې زوراور وى لكه قَاتِلُوْ الْمُشْرِكِيْنَ اوجنګيږئ د مشركانو سره نو مشركان هم تاسو قتلوى او تاسو هغوئ قتلوئ خو فاعل تاسو يئ نو تاسو زورور شئ ديته بابِ مُفَاعَلَه وائې او وائې چې باب مفاعله مُشَارَكَة او شِرْكَة له راځى . كله كله دا قسم زيات صرف د ډيروالى او مبالغې دپاره وى لكه يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ دوئ ډيره دهوكه كوى په خپل خيال .

**نَصَرَ او تَنَاصَرَ**:- كله چې دوه ځيزونه زيات شى تاء په سر كنبې او د فاء كلمې پسې الف لكه نَصَرَ او تَنَاصَرَ نو اوس معنى كنبې هم فرق راغلې نَصَرَ مدد كول او تَنَاصَرَ د يو بل مدد كول شو د دواړو هغه كار برابر دى ديته بابِ تَفَاعُل وائى .

**كَسَبَ او اِكْتِسَاب**:- چې ساده طريقې سره او په آسانه يو كار كول وى نو د هغې دپاره كَسَبَ راوړى او چې په محنت او مشقت سره كول وى نو اِكْتَسَبَ سر كنبې همزه او مينځ كنبې تاء زياته شى . دغه شان قَتَلَ اِقْتَتَلَ ، ښه وژل ډير وژل يعنى جنګ كول . ديته بابِ اِفْتِعَال وائى .

دا چې كوم ټكى اوليكلې شو دا صرف نمونه ده د ماضى مثال ذكر شو د دوئ د مضارع ، امر ، فاعل ، مفعول هم دغه حال دې دا چې كوم

ټکي زیات شو ددې فاعل او مفعول د پیژندګلو نخښه دا ده چې سر کښې به میم مضمومه راغلې وی که مینځ کښې کسره وی نو فاعل او که نه وه نو مفعول به وی صرف اول اَنْزَلَ چې د چا ماضی راځی نو د هغې فاعل او مفعول کښې همزه نه وی لکه مُفْسِدٌ مُفْلِحٌ وغیره شو نورو کښې د مضارع پشان دی صرف د حرف مضارعت میم مضمومه راځی.

## مشق

(۱) دا تیر سبق صحیح طریقی سره پوخ یاد کړئ او څو مثالونه پخپله اوګورئ.

(۲) د لاندې ټکو کښې سوچ اوکړئ:

اَنْعَمْتَ، اَضْلَلْتُمْ، ضَلُّوْا، اُنْزِلَ اِلَيْکَ، اَنْزَلْنه، نَزَّلَ عَلَيْکَ، يُنَزِّلُ الْغَيْثَ، قَاتَلُوْا وَقُتِلُوْا، يُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ، جَاهَدُوْا فِيْنَا، جَاهِدُوْا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِه، تَنَاصَرُوْنَ، مُسْتَسْلِمُوْنَ، سَلَّمْتُمْ، فَاِنْ كَذَّبُوْکَ، کُذِّبُوْا، لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَکُمْ مَّا كَسَبْتُمْ، الْمُفْسِدُوْنَ.

## درې پنځوستم سبق

## قاعده د عبادت

د انسان او پیریانو د پیدائش مقصد عبادت دې، د آسمانی کتابونو د راتلو او د پیغمبرانو د راتلو مقصد هغه عبادت دې د دې د وجې نه

عبادت اهم مقصد او اهمه مسئله ده او په اکثر قومونو او مذهبونو والو کښې د عبادت څه نه څه شکل او تصوّر وو . څه په خپل سوچ او څه د آسمانی کتاب په طرز خو لګیا به وو او څه به ئې کولو د قرانی عبادت او شرعی عبادت کښې چې هغه د الله تعالی د رضا ذریعه ګرځی نو په هغې کښې دوه شرطه ضروری دی یو دا چې اِخلاص یعنی عبادت به صرف د الله تعالی وی بل څوک به په عبادت کښې شریک نه وی . او صرف د هغه د رضا دپاره وی او دویم شرط دا دې چې طریقه به د شریعت وی . نو قران چې کوم ځائې عبادت ذکر کړې دې نو هلته اخلاص په عبادت کښې مراد وی د دې وجې نه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائې چې :

كُلُّ مَا جَآءَ فِى الْقُرْآنِ مِنَ الْعِبَادَةِ فَهِىَ التَّوحِيْدُ .

یعنی کوم ځائې چې قران کریم د عبادت دعوت او تذکره راځی نو هلته به یووالې په عبادت کښې مراد وی چې الله تعالی یو کړئ په عبادت کښې .

نو خوږو رونړو دا قاعده یاده لرئ چې کله قران د عبادت دعوت ورکوی نو هلته به وَحِّدُوْا مراد وی یعنی یو کول په عبادت کښې مراد دې .

## څلورپنځوستم سبق

## د كَانَ ، يَكُوْنُ بيان

قران كريم كښې په افعالو كښې كَانَ يَكُوْنُ ډير استعماليږى دا په قران كريم كښې په ګڼړو معنو باندې راځى :

(۱) كَانَ چې د وَجَدَ په معنى وى صرف فاعل (اسم) غواړى ورپسې مفعول (خبر) ته ئې ضرورت نه وى لكه وَإِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ كه وى خاوند د غريبۍ ديته كَانَ تامّه وائى .

(۲) كَانّ هغه دې چې ورپسې دوه څيزونه وى يو د فاعل كار كوى اسم ورته وائې او دويم د مفعول غوندې وى خبر ورته وائې ديته كَانَ ناقصه وائې يعنى دا نيمګړې وى چې يو څيز ذكر وى نو معنى ئې نيمګړى وى لكه كَانَ اللّٰه دې اللّٰه تعالى نو اوس څه دې نو دا معنى چې ورپسى بل نه وى ذكر نو نيمګړې دې . كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا دا قسم قران كريم كښې ډير دې د دې يو معنى د ثبوت او دوام هميشوالى ده چې كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا دې اللّٰه تعالى بخښونكې مهربانه دا معنى نده چې پخوا وو او اوس ندې كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ يئ تاسو اوس هم يئ او پخوا هم وئ او يئ به هم . د اللّٰه صفتونو كښې چې راشى نو اكثر دا معنى وى .

د دې دويمه معنى راځى په معنى د فعل باندې كه ماضى نو ماضى نو كه مضارع نو مضارع يعنى دا راروان كار يا تيره زمانه كښې يا راروان وخت كښې شوې دې يا نه . دغه ځائې د نورې معنى حاجت نشته دې صرف زمانه اوخايه وَكَانَ لَه ثَمَرٌ ، وَلَمْ تَكُنْ لَّهُ فِئَةٌ .

دریمه معنی په معنی د صَارَ راځی كَانَ مِنَ الْكفِرِيْنَ یعنی صَارَ مِنَ الْكفِرِيْنَ كَانَ چې په ماضی او په مضارع داخل شی نو د هغې معنې مخکښې تیرې شوی دی کله کله كَانَ معنی کښې مراد نه وی که لرې شی نو نقصان نشته دې . لکه مَنْ كَانَ فِى الْمَهْدِ صَبِيًّا . کله کله د يَكُوْنُ نه روستو نون حذف کیږی لَا تَكُ فِىْ ضَيْقٍ .

## مشق

كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ، كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ، كَانَ ذَالِكَ فِى الْكِتَابِ مَسْطُورًا ، كَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ، كَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ، فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً ، وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا .

## پنځه پنځوستم سبق

## د عَسی او کَادَ بیان

عَسی د امید په معنی راځی . د عَسی معنی کښې کیدیشی او نزدې ده سره کیږی خو کله چې پرې هَلْ راشی نو بیا په معنی د استفهام نه وی بیا په معنی د توقّع او امید وی یعنی استفهام د هَلْ پرې اثر نه کوی . هَلْ عَسَيْتُمْ امید کیدیشی ستاسو نه .

او کله چې د الله تعالی په خبره کښې راشی نو بیا په معنی د یقینًا وی لکه عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَأْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا یقینًا چې الله تعالی به بند کړی ....

كَادَ د نزدې والی په معنی باندې راځی .

كله چې اِنْ د كَادَ يا كَانَ نه پسې راشی او ورپسی جمله کښې په چا باندې لامِ مفتوحه راغلې وی نو دغه اِنْ معنی به په يقينًا سره كيږی وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً يقينًا چې دا كار گران دې . دا اِنْ د کچری په معنی باندې ندې . ديته سوچ كول ضروری دی .

## مشق

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِه لَمِنَ الضَّالِّيْنَ ، وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ، وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ ، وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ ، وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِه لَمِنَ الْغَافِلِيْنَ ، لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا .

## شپږ پنځوستم

### واقعه ښخوانۍ په صيغه د امر

قران كريم چې كله يو تيره ښخوانۍ واقعه په لفظ د امر سره ذكر كړی . نو دغه ځائې كښې قُلْ ، قَالُوْا ، يُقَالُ ، قُلْنَا وغيره د موقعې مناسب پټ وی چې كوم ځائې كومه مناسب صيغه وی هغه به ذكر كولې شی لكه :

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوى ، كُلُوْا مِنْ طَيِّبتِ مَا رَزَقْنكُمْ .

اوس دلته دا تير كُلُوْا د امر صيغه ذکر ده او واقعه پخوانۍ ده . نو دلته مخکښې ظَلَّلْنَا د متکلم صيغه ده نو دلته هم قُلْنَا پټ کړه نو کلام به تړلې روان شی قُلْنَا لَهُمْ كُلُوْا .

ځما محبوب استاذ شيخ التّفسير والحديث علامه غلام حبيب هزاروی صاحب رحمه الله تعالی به فرمائيل چې شيخ القران د پنډۍ به فرمائيل چې میں؛ سجاد کو کھا کہ میر شیخ کا قاعدہ لکھو لیکن اس؛ نھیں لکھا .

هغوئ به دا قاعده يادوله . الله تعالی دِ ځما د محبوب استاذ قبر منوّر کړی د خپل استاذ خبره پرې داسې درنه وه د دې وجې نه ما عاجز هم دا د مستقل سبق په عنوان اوليکله چې خلقو سره ئې قدر پيدا شی . د استاذ خبره درنه ګڼړل دا د علم د برکت ذريعه ده .

ځما محبوب او محترم شيخ علامه سلطان غنی عارف صاحب رحمه الله تعالی به فرمائېل چې د حافظ ابن قيّم د کمال او کاميابۍ سبب هغه دا وو چې د خپل استاذ حافظ ابن تيميّه رحمه الله تعالی وړه خبره دومره غټه کړی چې سړې حيران کړی .

الله دِ مونږ په قران کريم پوهه کړی .

پدې ځائې به بحث د فعل ختم کړو او بحث د حرف ته به په بسم الله سره خير راغلې او خوش آمديد اووايو .

**تمّت بحث الفعل**

## اووه پنځوستم سبق

## د لَا اُقْسِمُ بيان

قران مجيد کښې ډيرو ځايونو کښې د قسم په ځائې اُقْسِمُ سره لَا راغلې دې . دې لَا باره کښې د تفسير د عالمانو دوه قوله دی :

(١) قول دا دې : چې دا په معنی کښې مراد ندې صرف د شروع دپاره د خائست له راوړلې شوې دې .

(٢) قول دا دې : چې دا خو روستو په اهمه خبره قسم کيږی او قسم ځکه کيږی چې مخاطب د هغې نه انکار کوی . نو لَا مخکښې د دوئ د غلط خيال د ردّ دپاره راوړی چې داسې نده لکه څنګه چې د دوئ ګمان دې ، يا ندې داسې کار . نو دا د هغوئ د خيال ترديد شی . لکه فَلَا وَرَبِّكَ ... ندې داسې کار لکه څنګه چې د دوئ ګمان دې ستا په ربّ مِ دِ قسم وی .

ځنو يو مطلب داسې هم وئيلې دې چې دا لَا نافيه دې او وائی چې لَا اُقْسِمُ قسم نه کوم قسم ته څه حاجت دې خبره بالکل واضحه ده . خو مخکښې خبره ډيره اولی ده .

## اته پنځوستم سبق

### د حرف بیان

حرف په کلام د عربۍ کښې ډیر لوئ حیثیت لری دوه اسمونه یو ځائې کول غواړې یا یو فعل او اسم له رشته کول غواړې دوه فعلونه یو بل سره یو ځائ کول غواړې یا د فعل مفعول سره رشته جوړول غواړې داسې ټول کارونه الله تعالی د وړوکی حرف نه اخلی شې وړوکې دې خو کار غټ کوی دا د الله تعالی کار دې چې د وړو وړو مرغو نه د ابرهه د تباهۍ کار واخلی .

دوه هډوکی غټ په معمولی پله باندې تړلې کیږی دوه غټې اوسپنې هغه په معمولی ټک د ویلډ باندې تړلې کیږی .

د حرف معنی زده کول دا د عربۍ د ژبې یو اهم شاخ دې او د قران کریم په پوهه کښې ډیر زیات اهمیت لری . پدې سره د محاورې د معنی ډیر لوئ ضرورت پوره کیږی . پدې وړه رساله او ماتو ګوډو ټکو کښې ټول نشی ذکر کیدلې البته چې کوم حروف په قران کریم کښې ډیر استعمالیږی نو د هغې چې کومې ډیری معنی راځی هغه به دلته ذکر شی چې د هغې په یادیدلو سره به ډیرې معنې زده شی او ډیرې به د الله تعالی په خصوصی مدد او پیرزونی سره آسانې شی . ان شاء الله تعالی .

یو قسم حرف حرفِ مَبَانې دی یعنی هغه حروف چې د هغې نه نور کلمات جوړیږی دیته حروفِ مبانی حروف هجاء وائی .

دويم قسم حروف د حروفِ معانی چې د هغې حروفو معنې وی اګر چې په خپله معنی کښې بل ته محتاج وی خو معنی لری بیا دا ځنې داسې دی چې په لفظ کښې هم بدلون راولی او ځنې داسې دی چې په لفظ کښې بدلون نه راولی دلته مونږ هغه ذکر کوو چې کوم حروف هغه معنی لری .

## نهه پنځوستم سبق

**باء ، علی ، اِلی ، فِی ، مِنْ ، عَنْ ، لَام**

**باء**:- دا په قران کریم کښې په ډیرو معنو باندې راغلې دې :

(۱) دپاره د مدد غوختلو یعنی کار د چا په مدد کیږی نو چې د کوم څه نه مدد غواړی نو باء په هغې راغلی وی لکه بِسْمِ اللّٰهِ کښې چې باء شوه .

(۲) د یو کار چې کومه وجه او سبب وی نو په هغه سبب باء راځی . لکه ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ .

(۳) د مصاحَبَت او ملګرتیا دپاره یعنی د مَعَ معنی ورکوی وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ .

(٤) د بدلیت دپاره یعنی یو شې د بل عوض او بدل وی نو په هغه عوض باندې باء راوړی لکه اشْتَرَوُ الضّلالَةَ بِالْهُدی .

(٥) باء د فِی معنی ورکوی لکه نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ .

(٦) د مِنْ په معنی راځی يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ يعنی يَشْرَبُ مِنْهَا .

(٧) په معنی د عَنْ لکه سَاَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ يعنی عَنْ عَذَابٍ .

(٨) د عَلی معنی ورکوی يعنی د اوچتوالی اِنْ تَأْمَنْه بِقِنْطَارٍ ای عَلی قِنْطَارٍ.

(٩) په معنی د لَام راځی لکه فَرَقْنَا بِکُم يعنی لَکُمْ .

(١٠) په معنی د اِلی لکه قَدْ اَحْسَنَ بِیْ يعنی اِلَیَّ .

کله کله داسې راځی چې که هغه لرې کړې شی نو معنی پرې نه خرابیږی البته چې وی نو تاکید او کلکون پیدا کوی لکه د مَا ، لَيْسَ ، په خبر وَمَا اللهُ بِغَافِلٍ اوس که باء نه وی نو نقصان نشته دې خو چې راغلې نو معنی کښې فائده ورکوی هغه داسې چې ندې الله بالکل ناخبره د عمل ستاسو نه . دغه شان د کفی په فاعل کَفٰی بِاللهِ نو کَفَی اللهُ .

## عَلی

(١) عَلی د اوچتوالی دپاره راځی ... تِلْکَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلی بَعْضٍ .

(٢) دپاره د استيناد او نسبت لکه فَتَوَکَّلْ عَلَی اللهِ يعنی خپل اعتماد الله ته واړوه .

(٣) په معنی د مَعَ راځی وَاٰتَی الْمَالَ عَلی حُبِّه ، اَیْ مَعَ حُبِّه .

(٤) په معنی د فِیْ لکه اِنْ كُنْتُمْ عَلٰی سَفَرٍ ، یعنی فِیْ سَفَرٍ .

(٥) د سببیت په معنی د وجې معنی ورکوی لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰی مَا هَدَاكُمْ یعنی د دې وجې نه چې الله تعالی درته هدایت کړې دې .

(٦) د ضرر دپاره رائی لکه فَاِنَّمَا یَضِلُّ عَلَیْهَا .

(٧) په معنی د عِنْدَ لکه لَا تَقُمْ عَلٰی قَبْرِهٖ یعنی لَا تَقُمْ عِنْدَ قَبْرِهٖ .

(٨) عَلٰی په معنی د اِلٰی ، عَلٰی رَبِّهٖ ظَهِیْرًا یعنی اِلٰی رَبِّهٖ .

(٩) په معنی د شرط رائی لکه عَلٰی اَنْ لَّا یُشْرِكْنَ .

## اِلی

اِلٰی هم په قران کریم کښې په ګڼړو معنو سره رائی :

(١) د یو وخت یا د یو ځائې آخر سر انتهاء خودلو دپاره لکه اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی ، اَتِمُّوْا الصِّیَامَ اِلَی الَّیْلِ .

(٢) د مَعَ په معنی چې د ملګرتیا او یو ځائ کولو په معنی لکه لَا تَأْكُلُوْا اَمْوَالَهُمْ اِلٰی اَمْوَالِكُمْ .

(٣) د فِی معنی ورکوی لکه لَیَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ .

(٤) د لام معنی ورکوی لکه وَالْاَمْرُ اِلَیْكِ یعنی لَكِ .

## فِی

(۱) فِی د ظرفیّت معنی ورکوی یعنی د مخکښې کار وخت یا ځائي خائي بیا کله هغه ځائي یا وخت خکاری یا نه خکاری لکه اَدْخِلْنِیْ بِرَحْمَتِکَ فِیْ عِبَادِکَ الصّٰلِحِیْنَ او چې نه خکاری فِیْ الْقِصَاصِ حَیوۃٌ.

(۲) کله د عَلٰی معنی ورکوی یعنی د اوچتوالی لکه لَاُصَلِّبَنَّکُمْ فِی جُذُوْعِ النَّخْلِ.

(۳) د مَعَ په معنی اُدْخُلُوْا فِیْ اُمَمٍ.

(٤) د سببیت او علّت معنی ورکوی لُمْتُنَّنِیْ فِیْه یعنی د دې د وجې نه.

(٥) په معنی د اِلٰی لکه فِی اَفْوَاهِهِمْ یعنی اِلٰی اَفْوَاهِهِمْ.

(٦) د مقابلې او بدل معنی ورکوی فَمَا مَتَاعُ الْحَیوۃُ الدُّنْیَا فِی الْاٰخِرَۃِ.

(۷) د عِنْدَ په معنی چې لَبِثْتَ فِیْنَا یعنی عِنْدَنَا.

## مِنْ

(۱) د یو کار د شروع دپاره راځی چې سفر یا کار د یو ځائی نه شروع کیږی مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی.

(۲) د بیان او وضاحت دپاره لکه فَاجْتَنِبُوْا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ یعنی هِیَ الْاَوْثَانُ کله چې د مَا او مَهمَا نه روستو مِنْ راشی نو دا د بیان دپاره راځی.

(٣) د بدليت معنى ورکوی لکه اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاخِرَةِ يعنى بَدَلَ الْاخِرَةِ .

(٤) د سببيت معنى ورکوی لکه مِمَّا خَطِيْئتِهِمْ اُغْرِقُوْا ... د وجې د ګناهونو د دوئ نه .

(٥) په معنى د عَلی راځی د اوچتوالی وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ امَنُوْا .

کله داسې وی چې لری کړی نو معنى نه خرابوی لکه مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ دلته دا مِنْ معنى کښې مراد ندې .

## عَنْ

(١) عَنْ راځی د يو څيز د بل نه لرې کولو او جدا کولو دپاره يعنى د بُعْد دپاره ، عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُوْنَ .

(٢) د بدل په معنى راځی لکه لَا تَجْزِیْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ ، اَیْ بَدَلَ نَفْسٍ .

(٣) د علت او وجې په معنى راځی وَمَا نَحْنُ بِتَارِکِیْ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِکَ ، اَیْ لِاَجْلِ قَوْلِکَ .

(٤) په معنى د بَعد لکه لَتَرْکَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ يعنى بَعْدَ طَبَقٍ .

(٥) په معنى د مِنْ لکه وَهُوَ الَّذِیْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِه .....اَیْ مِنْ عِبَادِه .

## لام

(۱) يو ځيز د بل ځيز دپاره کول يعنی هغې له خاص کولو دپاره راځی ، لکه اَلْحَمْدُ للهِ ، لَهُمْ جَنّتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهرُ.

(۲) د وجې سبب علت خودلو دپاره يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ.

(۳) لام په معنی د عَنْ راځی قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ امَنُوْا ، اَیْ عَنِ الَّذِيْنَ په باره د هغه کسانو کښې.

(٤) لام د مِلک راځی چې دا مخکښې ځيز د دې په اختيار او مِلک کښې دې للهِ مُلْكُ السَّموٰتِ وَالْاَرْضِ.

(٥) په معنی د اِلی راځی لکه كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ ، اَیْ اِلَی الْوَالِدَيْنِ.

(٦) په معنی د فِی لکه وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ، اَیْ فِیْ يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

(۷) دپاره د فائدې ، لکه لَهَا مَا كَسَبَتْ.

(۸) په معنی دعَلی وَاِنْ اَسَأْتُمْ فَلَهَا يعنی فَعَلَيْهَا.

(۹) په معنی د مِنْ ، لکه مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ ، اَیْ مِنَ الْخَيْرِ.

(۱۰) دپاره د تقوية او کلکون لکه فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ.

دا حروف قران کريم کښې ډير استعماليږی ديته په عربئ کښې حروف جارّه وائې د دوئ اثر هغه د جرّ (زير کسره) دې او بل ده

چې دوئ د فعل او مشتقی هغه خپل مدخول ته راکاږی . دا ډير استعماليږی او معنی يادول ئې ډير ضروری دی .

## مشق

(۱) د هر ټکی معنې يادول او ځان پوهه کول پرې ضروری دی .

(۲) د استاذ په نګرانئ کښې د دې حروفو څه نا څه مثالونه معلوم کړئ . چې د معنی کولو په طريقه پوهه شئ .

## شپيتم سبق

### اِنّ ، اَنّ ، لَعَلّ ، لَيْتَ ، لكِنّ ، كَأَنّ

دا حروف په قران کريم کښې ډير استعماليږی دا حروف په شکل او عمل کښې د فعل پشان دی نو معنی د فعل پشان ورکوی د دې وجې نه ديته حروف مشبّه بالفعل وائې .

د دوئ د هر يو خپله خپله معنی ده چې دا زده شی نو طالب جانه څومره چې دا قران کريم کښې راغلی وی نو د هغې معنې زده شوې .

### اِنّ اَنّ

د دې دواړو معنی يوه ده چې کله د يوې خبرې کلکون خکاره کول وی نو دا راوړی د دې معنی يا د ماضی اوکړه چې يقينی او کلکه خبره کوم د زړه نه ئې درته وايم د تَحَقَّقْتُ په معنی باندې . او د امر

په معنی چې یقین اوکړئ او د زړه نه ئې کړئ . د دې سره په خبره کښې زور پیدا شی . اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ ، یقین اوکړئ یا یقینی او بې شکه خبره کوم چې الله تعالی بخښونکې دې . دغه شان معنی د اَنَّ هم ده.

کله کله دوئ باندې شدّ نه وی او معنی ده دوئ یعنی د یقینًا او بې شکه وی کله چې د اِنْ پسی کَادَ ، کَانَ ، ظَنَّ راشی او ورپسی بیا لام وی نو دغه ځائې دا اصل کښې د شدّ والا اِنَّ دې مخفّف مِنَ الْمُثَقَّل ورته وائې .

او که اَنْ پسې اسم یعنی جمله اسمیه راغلې وی یا سین ، سوف ، لَوْ ، لَنْ ، لَا نه یو راغلې وو نو دغه اَنْ هم د اَنَّ دې معنی به ئې د یقینًا کولې شی ، اَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعلَمِيْنَ ، اَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا ، عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ، او په دغه ځائې کښې به پده پسی ضمیر پټ وی چې ضمیر شان ورته وائی اَنِ الْحَمْدُ للهِ یقینًا شان دا دې چې صفتونه د خدائتوب د الله تعالی دی . دغه شان نور ځایونه شو .

## لَعَلّ

د لَعَلَّ خپله معنی هغه د رَجَاء او امید ده یعنی یو څیز دې کار دې چې د هغې کول او حاصلول محبوب دی او امید ئې کیدې شی نو دغه ځائې لَعَلَّ راځی نو لَعَلَّ معنی ده امید کوم ، کیدېشی ، شاید چې ، یا خائیګی ، لَعَلِّىْ اَعْمَلُ صَالِحًا امید کوم چې اوکړم نیک عمل.

اوس سوال دا دې چې کله دا لَعَلَّ د الله تعالی په کلام کښې راشی نو د الله تعالی خو په یو کار کښې نه شک وی او نه ئې امید کوی . نو څنګه لَعَلَّ راځی لکه لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ؟

نو د دې يو جواب دا دې چې دا بندګانو د عمل مطابق وائی چې دلائل بيان شو نو کيديشی چا کښې انابت وی هغوئ به اومنی نو دا د ظاهر د بنديګانو مطابق خبره شوې ده .

دويم جواب دا کيږی چې دلته لَعَلَّ په معنی د لامِ کَیْ دې يعنی د سبب او وجې په معنی دې چې د دې دپاره چې تاسو ځان بچ کړئ .

دريم جواب دا چې دلته لَعَلَّ د اِنَّ په معنی دې د يقينًا په معنی لکه سيبويه قول دې : لَعَلَّ وَعَسی حَرْفَا تَرَجٍّ وَهُوَ مِنَ اللّٰهِ وَاجِبٌ .

لَعلَّ او عَسی دا د اميد معنی ورکوی خو د اللّٰه په کلام کښې د يقين معنی ورکوی .

## لَيْتَ

لَيْتَ په هغه ځائې کښې وئيلې شی چې په کوم ځائې کښې د هغه کار د حاصليدلو ډير اميد نه وی د کيدلو نه لرې وی . د دې معنی په تَمَنَّيْتُ سره کيږی چې ارمان مِ ، کاش ، ارمان کوم ، لکه لَيْتَنِیْ کُنْتُ تُرَابًا ارمان مِ چې وم څه خاورې . اوس خاورې کيدل د ده دا ډير لرې دی . نو لَيْتَ راوړې کيږی .

## لکِنّ

مخکښې يوه خبره ذکر شی په هغې کښې څه وهم او شک د اوريدونکی راشی د هغې دپاره لکِنَّ راوړلې کيږی ديته لکِنَّ د

استدراک وائې يعنې د مخکښې کمې پرې پوره کولې شي . مونږ پښتو کښې د دې معنى په خو او يا ليکن سره کوو وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ خو تاسو پوهيږئ نه .

## كَأنّ

چې د يو خبرې يا يو څيز د بل سره يو شان کول وي نو هغې له كَأَنَّ راځي لکه كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ لکه چې وي دوئ لرګي . نو دا منافقان داسې دي لکه د لرګو غونته نو منافقان ئې د لرګو غونته کړل .

دويمه معنى ئې د ګمان هم راځي كَأَنْ لَّمْ يَغْنَوْا لکه چې نه وو دوئ آباد .

**انّمَا**:- د اِنَّ سره چې مَا راشي نو عام عالمان وائې چې دا په معنى د مَا اَو اِلَّا وي لکه پښتو کښې معنى داسې کيږي چې خبره هم دا ده بله نده يعنې اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ يعنې مونږ اصلاح کونکي يو نه که نور څه يعنې فساد ګر ، نو دا معنى ځنو ځايونو کښې نه صحيح کيږي لکه اِنَّمَا حُرِّمَ چې حرام صرف دا دي بل څه ندي نو نور خو هم حرام شته نو دغه ځائې کښې اِنَّمَا د تحقيق او تاکيد دپاره ده يعنې دا شته خبره کلکوي چې يقيني خبره دا ده نو د اِنَّ په معنى ده .

## مشق

(۱) دا شپږ واړه ټکي او د هغې معنى په ياده ياد کړئ .

(۲) د قران کریم پنځه پنځه مثالونه د ټولو ښځپله راؤباسئ .

## یوشپیتم سبق

### کاف ، کَذَالِکَ

قران کریم کښې کاف هم ډیر استعمال شوې دې د کاف څو معنې دی :

(۱) کاف د تشبیه دپاره یعنی یو شې د بل پشان کول لکه وَلَه الْجَوَارِ الْمُنْشَئتِ فِی الْبَحْرِ کَالْاَعْلَامِ .

(۲) په معنی د لامِ تعلیل یعنی د وجې او علت معنی خائې کَمَا لَمْ یُؤْمِنُوْا ...... اَیْ : لِمَا لَمْ یُؤْمِنُوْا .

(۳) چې معنی کښې مراد نه وی لکه لَیْسَ کَمِثْلِه ، اَیْ مِثْلَه ، اَوْ کَالَّذِیْ اَیْ الَّذِیْ .

(٤) کاف د استسلام یعنی پښتو کښې مونږ وایو څنګه منې او که نه یعنی څما کار داسې وی لکه کَمَا اَخْرَجَکَ رَبُّکَ .

### کَذَالِکَ

کله چې په کاف پسې ذِالِکَ راشی کَذَالِکَ نو یو معنی ده تشبیه چې دې پسې کوم فعل وی د هغې مصدر به راواخلې او کاف به د مثل

به معنى کړي مفعول مطلق به شی لکه كَذَالِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ، اَیْ اَحْيَآءً مِثْلَ ذَالِكَ. ژوندی کوی به الله جوندي کول د دې پشان.

دویم کله کاف د تعلیل او وجې دپاره وی په معنی د لام لکه كَذَالِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ ، اَیْ لِذَالِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ د دې وجې الله تعالی مهر وهی.

دریم کاف د بیان د کمال دپاره چې د یو کار کمال خودل وی لکه كَذَالِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً دغه ځما کمال دې چې کړځولی مِ یئ تاسو ...

## مشق

اٰمِنُوْا كَمَا اٰمَنَ النَّاسُ ، كَذَالِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ، وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَه اللّٰهُ ، اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ، كَذَالِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْا ، كَذَالِكَ اَنْزَلْنَاه حُكْمًا عَرَبِيًّا ، اِجْعَلْ لَّنَا اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ، كَذَالِكَ يَجْزِیْ اللّٰهُ الْمُفْتَرِيْنَ ، كَمَا اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا ، قَالَ كَذَالِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَیَّ هَيِّنٌ ، رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِیْ صَغِيْرًا.

## دوه شپیتم سبق

### همزه ، هَلْ

همزه د استفهام دپاره راځی استفهام مطلب دا دې چې ځان پوهه کول یو ناخبره کس ځان په یوه خبره پوهه کوی نو کله چې د بنده په خبره کښې راشی نو دا خو جوړیدلې شی خو د الله تعالی په کلام

کښې راشی نو الله تعالی خو خبرادر دې د هر څه نه نو څنګه استفهام کوی نو قران کریم کښې د همزې ډیرې معانې راځی .

(١) د برابروالی دپاره دیته همزه د تسوي وائی کله چې د سواء نه روستو همزه راشی نو دا د دواړو کارونو برابروالې خائې . لکه سواءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ دلته آیا که ته یروې یا نه یروې دیته ضرورت نشته بلکه معنی آسانه اوکړه برابر دی په دوئ باندې یرول ستا دوئ لره او نه یرول ستا دوئ لره .

(٢) همزه د انکار دپاره چې خبره باطلوی لکه اَفَاَصْفٰكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ .

(٣) د زورلو دپاره اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ توبیخ ورته وائی .

(٤) همزه د تقریر دپاره یعنی د یو خبرې د ثابتولو دپاره ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هذَا .

(٥) د ټوقو دپاره همزه د تهکّم ورته وائی لکه اَصَلوتُكَ تَأْمُرُكَ .

(٦) استفهام او همزه د امر دپاره ءَاَسْلَمْتُمْ یعنی اَسْلَمُوْا .

(٧) استفهام د تعجّب او حیرانتیا دپاره لکه اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحبِ الْفَيْلِ .

(٨) استفهام کله د شوق دپاره هم وی چې راروانې خبرې ته شوق کوی هَلْ اَتَاكَ حَدِيْثُ مُوْسى .

دا قرآن کښې د استفهام مختلفې معنې راځی دا په همزه سره وی کله په کَیْفَ سره کله په هَلْ سره د لږ سوچ او تجربې او مطالعې سره پته لږی مَنْ مَا ، کَمْ مَتی ، اَیْنَ ، اَیَّانَ وغیره سره .

فائده :- کله داسې وی چې معنی د استفهام وی خو ټکی د استفهام نه وی هغه د خبرو لهجې نه پته لږی لکه ته یو کس ته وائی چې څه درشم ؟ اوس دلته آیا وغیره نشته دې خو د لهجی نه پته لږی چې خبره په سوالیه انداز سره وی دا قران کښې ډیر راځی دیته استفهام باللّهجه وائی . لکه قَالَ هذَا رَبِّیْ .... آیا دا څما ربّ دې ؟

## هَلْ

هَلْ یو د استفهام دپاره راځی او دغه معنې ئې کیږی چې کله د اللّٰه تعالی په کلام کښې راشی او کله چې په سر د کلام کښې راشی نو اکثر په معنی د قَدْ وی لکه هَلْ اَتَاکَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ ، اَیْ قَدْ اَتَاکَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ ، نو د تحقیق معنی ورکوی . هَلْ د نفی دپاره هم راځی هَلْ یَسْتَوِیْ الَّذِیْنَ یَعْلَمُوْنَ ، او د تمنّا دپاره هم راځی فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ .

## مشق

(۱) د استفهام دا ټولې معنې یادول ضروری دی .

(۲) بڅپله د استفهام یو څو ځایونه اوخایئ که په هر ټکی سره وی .

(۳) د لاندې آیاتونو معاني اوکړئ :

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْلَهُمْ ، سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ، سَوَآءٌ عَلَيْنَا اَجَزِعْنَا اَمْ صَبَرْنَا ، ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا ، اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ، هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ ، هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ اِذْ تَدْعُوْنَ ، اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يَا اِبْرَاهِيْمُ ، اَوَ لَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ .

## درېشپیتم سبق

## اِنْ ، لَوْ ، اَمّا ، لَمّا

### اِنْ

(۱) اِنْ يو راځی د شرط دپاره دوه جملې ئې روستو راځی يو ته شرط اوبلې ته جزاء وائی هغه جزاء چې وی نو پيدا د شرط نه وی يعنی هغه شرط سبب او ذريعه د جزاء وی لکه اِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَه لَكُمْ نو دا شکر ذريعه د رضا کيدلو د الله تعالی ده نو اول به شکر راشی او بيا به جزاء راځی . اوس به ځنې ځايونو کښې په قران کريم کښې داسې وی چې هغه جزاء به د شرط نه مخکښې وی يعنی د شرط سبب والې به نه صحيح کيږی لکه اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ نو د الله تعالی غناء خو قديمه ښکاروئ ده او کفر د خلقو روستنې دې نو داسې ځايونو کښې ياد ساتل پکار وی چې جزاء پټه وی او دا چې کوم ذکر شوې وی نو هغه ئې دليل وی لکه دا ځائی چې اِنْ

تَكْفُرُوْا نو دلته جزاء پټه ده چې ضرر ستاسو دې ځکه چې فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ الله تعالى ته څه ضرر ، داسې ځايونه قران كريم كښې ډير دی .

او د اِنْ اثر دا هم دې چې اِنْ پسې كه ماضی هم راشی نو معنی به د استقبال كيږی . وَاِنْ كَذَّبُوْكَ كه دوئ نسبت د دروغو كوی تا ته . نو چې په كوم څه راغلې وی نو هغه به راروان وخت كښې د كيدلو وی . يا د نه كيدلو .

(۲) دويم اِنْ په معنى د نفى راځی لكه د لَا باندې دا اكثر داسې ځايونو كښې وی كوم ځائې كښې چې ورپسی اِلَّا راشی اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ ...

(۳) مخفّف مِنَ الْمُثَقَّل راځی هغه مخكښې تير شو .

## لَوْ

(۱) لَوْ يو راځی شرط دپاره خو په زمانه ماضی كښې يعنی دا خائې چې دا جزاء انختې ده په شرط پورې په زمانه ماضی كښې يعنی كه زمانه ماضی كښې دا شرط موجود شوې وې نو جزاء به هم موجود شوې وه خو په تير وخت كښې شرط ندې موجود شوې نو جزاء هم نده موجود شوې . لكه وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ . نو په تير وخت كښې الله د دوئ د اندامونو د ختمولو اراده نده كړی نو ختم شوی ندې ددې وجې نه لَوْ چې په مثبت داخل شی نو منفی وی او چې په منفی داخل شی نو مثبت وی . ديته لَوْ شرطی خارجی وائی .

(۲) کله داسې وی چې د جزاء نیشوالې د شرط په نیش والی دلالت کوی الته د اولنی لکه لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا . نو د فساد نیشوالي دا خائې چې خدایان ډیر نشته دې . دیته لَوْ استدلالیه وائي دا لَوْ په داسې څه راځی چې هغه موجود کیدې نشی دیته لَوْ امتناعیه فرضیه هم وائی یعنی دغه څیز لږ ساعت له فرض کولې شی لکه خلق چې وائی یو منتې له به ئې فرض کړو.

(۳) لَوْ تمنّائیه یعنی هغه لَوْ چې د کاش ، ارمان په معنی وی د خلقو په حال افسوس کیږی یا خلق افسوس او ارمان کوی په خپل حال لکه لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ ارمان چې اوریدلې وې مونږ یا مو ځان پوهه کړې وې . دا لَوْ جزاء نه غواړی .

(٤) مصدریه یعنی خپل مدخول په مصدر سره ګرځوی معنی ئې د مصدر کیږی وَدَّتْ طَائِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ، اَىْ اِضْلَالَكُمْ .

(٥) لَوْ وصلیه په معنی د اګر چې اَوَ لَوْ كَانَ اٰبَآءُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْئًا ، آیا اګر که وی پلاران د دوئ چې نه پوهیږی په هیڅ څه .

**فائده**:- د لَوْ او اِنْ شرطی نه روستو همیشه دپاره فعل راځی که چرته اسم راشی نو دغه ځائې به فعل پټ وی او د دغه پسې فعل به د هغې پټ وضاحت کوی نو دوه ځله به شی لکه وَاِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ نو دلته خَافَتْ پټ وی وَاِنْ خَافَتْ امْرَأَةٌ خَافَتْ .

## اَمّا

اَمَّا هم د شرط دپاره راځی دا اکثر تفصیل کوی نو اجمال یا څکاره مخکښې موجود وی لکه فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا ..... اول خبره په لنډو ذکر شی بیا ئې تفصیل او حکم ذکر شی او کله هغه تفصیل مخکښې نه وی څکاره خو د کلام نه معلومیږی فَاَمَّاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّه الْحَقُّ .... د مثال د بیان نه روستو خلق دوه ډلې شی . د اَمَّا معنی په هر چې سره کیږی او چې دې پسی په کوم ځائې کښې فاء راغلی وی نو هغه د دې جواب او جزاء حسابیږی . په هغې سره خبره پوره شی .

## لَمّا

(۱) یو هغه دې چې د نفی دپاره راځی کوم چې په مضارع داخل شوې ده هغه تیر شو .

(۲) په معنی د اِلَّا راځی چې کله ترې مخکښې اِنْ راغلې وی اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ دلته لَمَّا د اِلَّا (مکر) معنی ورکوی .

(۳) لَمَّا چې کله په ماضی داخل شی نو بیا د وخت معنی ورکوی پښان د شرط ورپسی جواب او جزاء راځی لکه فَلَمَّا اَضَآءَتْ مَّا حَوْلَه ذَهَبَ اللّٰهُ ، دلته به د وخت معنی هم کیږی چې شرط ورسره شی یعنی خبره به نیمګړی وی جواب سره به پوره شی نو معنی داسې نو هغه وخت کښې چې رڼړا کړی دا اور نو اوس خبره پوره نه ده ذَهَبَ سره به پوره شی دا قران کریم کښې ډیر دی .

(٤) چې لَمّا راشی چې دوه زبرونه پرې راشی دا مصدر په معنی د جَمِيْعًا او شَدِيْدًا سره دې . نو اَكْلًا لَمًّا ، خوړل ډير يا سخت .

## اِذَا

(١) د شرط دپاره راځی خو په استقبال کښې يعنی هغه فعل شرط به په استقبال کښې موجوديږی که په ماضی هم راشی نو مستقبل به ترې جوړ کړی لکه اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ .

(٢) صرف د ظرف دپاره په معنی د هغه وخت کښې .

## مشق

(١) د دې هر يو ټکی پوره معنی يادول او ځان پوهه کول ضروری دی.

(٢) د خپل پوهې مطابق چې څومره کيدی شی نو د هر ټکی مثالونه د قران نه معلوم کړئ :

اِنْ تَنْصُرُو اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ ، لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَأً اَوْ مَغرتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَوَلَّوْا اِلَيْه وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ، لَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ ، فَلَمَّا اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ اَلْقَاه عَلى وجْهِه ، وَلَمَّا دَخَلُوْا .....

## څلور شپیتم سبق

### هَا ، اَلَا ، لَوْلَا

### هَا

د اسمِ اشارې په سر کښې هَا راوړلې کیږی دیته د تنبیه هَا وائی یعنی خبردارې ورکوی د مخاطب او د حاضر د بیدارولو دپاره او کله په ضمیر باندې هم راځی هَا اَنْتُمْ خبردار تاسو هذَا خبردار دا .....

### اَلَا

چې کله د سر همزه مفتوحه وی او په لام باندې شدّ نه وی نو دا قران کریم کښې په څو معنو راځی :

(۱) د تنبیه او خبرداری دپاره اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ .

(۲) د عرض دپاره چې یو څیز او کار چا ته پیش کول وی اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَکُمْ .

(۳) دپاره د تیزولو چې په یو کار باندې تیزول وی لکه اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا .

### لَوْلَا

لَوْلَا قران کریم کښې په څو معنو باندې راځی :

(۱) د امتناع دپاره هغه داسې چې په کوم ځيز لَوْلَا داخل شوې دې نو د هغه د شته والی د وجې دويم ځيز چې جزاء ده هغه نشته دې . لکه لَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُه مَا زَکٰی مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اَبَدًا ، که فضل نه دې نو تاسو به پاک شوې نه وئ نو فضل شتې نو ځکه پاک شوی يئ .

(۲) د تيزولو دپاره په يو کار باندې ، لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ .

(۳) دپاره د زوررولو د يو کار لَوْلَا جَآءُوْا عَلَيْه بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ .

(٤) د نفی دپاره په معنی د مَا لکه لَوْلَا کَانَتْ ، اَیْ مَا کَانَتْ .

(۵) د استفهام په معنی باندې ، لَوْ لَا اُنْزِلَ عَلَيْه مَلَکٌ .

## مشق

اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ ، هَا اَنْتُمْ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ ، لَوْلَا اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ، لَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْکَ وَرَحْمَتُه لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ ، لَوْلَا اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ، لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَآئِکَةُ اَوْ نَری رَبَّنَا .

# پنځه شپیتم سبق

## واو او تاءِ قسم ، کلّا

### واو او تاء د قسم

قران کريم کښې واو په ډېرو معنو راغلې دې دلته د قسم معنی ذکر کيږی چې يو راځی واو په معنی د اُقْسِمُ چې څه قسم کوم چې کله ورپسې د الله تعالی نوم وی نو بيا د قسم معنی بې شکه ده لکه اِیْ وَرَبِّیْ څما دِ په خپل ربّ قسم وی يا فَوَرَبِّکَ ، او کله چې ورپسې د الله د نوم او صفت نه علاوه نور څه راشی نو دغه ځائې کښې قسم په معنی د شاهد او ګواه وی لکه وَالْعَصْرِ ، وَالْفَجْرِ ، زمانه ګواه ده ، صبا ګواه دې ، که د قسم معنی هم اوشی نو مطلب ئې د ګواهئ دې . د دې واو علامه دا ده چې په ورپسی اسم به زير راځی ، لکه وَاللّٰهِ ، څنو ځايونو کښې د زير پته نه لږی .

دغه شان تاء هم د قسم راځی خو تاء د الله د اسم جلالی اسم اعظم نه علاوه په بل څه نه داخليږی لکه تَاللّٰهِ لَاَکِيْدَنَّ .

باء هم د قسم راځی خو قران کښې ډېر نشته صرف په يو آيت کښې د يو توجيه مطابق ده لکه فَبِمَا اَغْوَيْتَنِیْ ستا په صفت د ګمراه کولو مِ دِ قسم وی ، فَبِعِزَّتِکَ لَاَغْوِيَنَّهُمْ .

## كَلّا

كلّا قران کښې ډير ځله راغلې دې او غټې او ډيرې دوه معنى راځى:

(۱) يو چې كله مخكښې يو غلط خيال او غلطه نظريه ذكر وى نو د هغې رد كوى ديته كَلَّا ردعيه وائى لكه كَلَّا سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ ، مخكښې شركى نظريه ذكر ده نو د هغې رد كوى . كَلَّا معنى دا ده چې داسې نده يا څنې ځائې داسې نده پكار .

(۲) كله چې مخكښې صحيح خبره ذكر وى يا يوه خبره د رد قابله نه وى نو دغه ځائې كښې كَلَّا د حَقًّا په معنى وى چې حقه خبره دا ده . يقينى خبره دا ده كَلَّا اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا .

(۳) كله كله د خبردارئ په معنى هم راځى ، كَلَّا اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ ... اَلَا په معنى دې .

## مشق

قَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُوْنَ ، وَالَّذِىْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ ، وَالضُّحى وَالَّيْلِ اِذَا سَجى ، وَالشَّمْسِ وَضُحاهَا ، تَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ ، كَلَّا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغى ، كَلَّا اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا ، كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَيَأْتِيْنَا فَرْدًا .

## شپږ شپیتم سبق

### واو فاء ثُمّ ، حَتّی ، بَلْ ، اَوْ ، اَمْ ، اِمّا

### واو

قران مجید کښې واو ډیر استعمال شوې دې د خبرو مینځ کښې چې کوم واو راځی دیته عاطفه وائې عاطف د عطف نه دې اړولو ته وائې نو دې دا راروان مخکښې ته اړوی که د دې نه روستو فعل وی نو مخکښې به هم د هغه پشان فعل ګورې او په هغه به ئې کیږدې او که روستو ترې اسم وی نو دغه شان اسم به ګورې او په هغه به ئې کیږدې داسې ډیر ځایونو کښې د واو نه روستو چې کوم وی نو هغه ئې معطوف او مخکښې ته معطوف علیه وائې او دا قانون دې چې کوم څیز د معطوف علیه نه مخکښې وی نو هغه د معطوف سره اولګوه لکه لَا تَلْبِسُوْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْ الْحَقَّ اوس تَكْتُمُوْ او تَلْبِسُوْا یو شان دی نو دا تَكْتُمُوْا په تَلْبِسُوْا باندې کیږده او تَلْبِسُوْا نه مخکښې لَا دې نو هغه پدې تَكْتُمُوْا اولګوه نو دا هم لَا تَكْتُمُوْا شو ، نو معنی به د نهی کیږی ، نو اکثرو ځایونو کښې اسم په اسم کیخودل وی او فعل په فعل باندې . نو د معطوف او معطوف علیه حکم یو وی .او دا صرف د جمع دپاره راځی په ترتیب روستو والې او مخکښې والی څه دلالت نه کوی د دې واو معنی پښتو کښې په او سره کیږی . کله په عطف سره د مخکښې وضاحت کیږی نو دیته عطفِ تفسیری وائې لکه نُوْرٌ وَّكِتَابٌ مُّبِيْنٌ .

(۲) واوِ حاليه راځی چې په کومه جمله راشی نو دا خائې چې دا د مخکښې د فاعل يا د مفعول حال خائې لکه لَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ . دلته اوس دا واو د عطف ندې دلته به معطوف عليه نه ګورې بلکه ديته واو حاليه وائې د دې معنی پښتو کښې داسې کيږی چې پداسې حال کښې يا حال دا دې چې تاسو پوهيږئ او اردو کښې حالانکه سره کيږی .

(۳) واو په معنی د مَعَ باندې اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ، يعنی اِنَّكُمْ مَعَ مَا تَعْبُدُوْنَ .

(٤) واو په معنی د اَوْ ، مَثْنٰى وَرُبٰعَ دلته په معنی د اَوْ دې .

(٥) واو د ابتداء چې د هغه ځائی نه نوې خبرې شروع کيږی .

(٦) کله واو څه معنی نه لری د حُسن دپاره وی لکه اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ .

## فاء

فاء هم حرف عطف دې معطوف او معطوف عليه د واو پشان غواړی خو د فاء معنی لره د واو نه بدله ده فاء دا خائې چې د معطوف د معطوف عليه پسې سمدست او زر دې ديته په عربئ کښې تَعْقِيْب مَعَ الْوَصَل وائی ، دا د فـء خپله معنی ده . فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا .... دلته دا ويستل په وسوسی پسی زر وو . د دې معنی عام طور پښتو کښې خلق په پس سره کوی خو دا پښتو

نده ځمونږ استاذان ئې په نو سره کوی فَاَخْرَجَهُمَا نو وې ويستل دا دواړه . دا قران کريم کښې ډيره راغلې ده .

(۲) فاء جزائيّه چې کومه د شرط نه روستو په جزاء راځی دا خائی چې دا مخکښې شرط د جزاء دپاره ذريعه ده . اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ .

(۳) فاء په معنی د ثُمَّ يعنی لږ روستو والې پکښې وی وَالَّذِىْ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى فَجَعَلَه غُثَآءً اَحْوٰى دلته دا توريدل د ويستلو پسی سمدست نه وی مدّ پکښې وی .

(٤) فاء د تفصيل چې د مخکښې اجمال او لنډيز تفصيل کوی . لکه وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ دا د مخکښې تفصيل کوی .

(٥) فاء د تفريع مخکښې يوه خبره ذکر شی نو بيا د هغې يوه خبره او حکم معلوم شی چې دا د هغه مخکښې نتيجه وی ، فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ ..... دا فَلَا جُنَاحَ په مخکښې تفريع شوه .

## ثُمّ

ثُمَّ هم د عطف دپاره راځی معطوف او معطوف عليه غواړی خو د ثُمَّ خپل معنی دا ده چې دا خائی چې دا معطوف روستو دې په موجود کيدلو کښې د معطوف عليه نه . ديته عربئ کښې تَعقيب مع الْفَصَل يا تَرَاخِى وائې چې ثُمَّ د تراخی دپاره راځی . اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ

كَفَرُوْا .... دا ئې اصل معنی ده خو د دې نه علاوه نورې معنې هم راځی .

(۲) ثُمَّ په معنی د واو هم راځی لکه وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ دلته په معنی د واو دې .

(۳) ثُمَّ دپاره د ذکر او خبرو کښې د روستو والی دپاره راځی دا نه چې وجود کښې روستو دې خو صرف ذکر کښې روستو ذکر شوې دې لکه دا مخکښې آیت هم دې یا لکه وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْه .

(٤) د استبعاد دپاره راځی استبعاد مطلب دا دې چې د مخکښې خبرې ته اوګورې نو دا راروانه خبره چې د ثُمَّ نه روستو ذکر کیږی نو دا د عقل نه ډیره لرې ده لکه ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ .

(٥) ثُمَّ د تعجب دپاره هم راځی لکه ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ... بیا لا دې طمع هم ساتی نو دا د تعجب دپاره ده .

(٦) کله د نوې خبرې دپاره راځی لکه وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ، که دا د عطف وه نو ېکار وه چې دا نون بیا نوې ځکه دا به د اِنْ د لاندې وې .

(۷) ثُمَّ په معنی د مَعَ .... ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا .

## حَتّی

(۱) حَتّی دا خائی چې دا مخکښې خبرې تردې پورې رارسیدلې دی لکه حَتّی یَتَبَیَّنَ لَکُمُ الْخَیْطُ الْاَبْیَضُ.

(۲) که د عطف دپاره شی نو د روستو د حَتّی د مخکښې نه جزء وی یو قوی جزء یا کمزورې خو هغه مخکښې داخل وی.

## بَلْ

بَلْ د عطف دپاره راځی خو معنی ئې دا ده چې د هغه معطوف علیه نه حکم واړوی او معطوف ته ئې متوجه کړی دبته بَلْ د اِضْرَاب یعنی اِعْرَاض وائې یعنی د هغه مخکښې نه اعراض اوکړو خبره متوجه شوه هغه څه ته چې د بَلْ نه روستو وو. نو که چرته مخکښې خبره د نفی شروع وه نو بل ئې ورپسی لا ثابته کړی او که مخکښې مثبته وه نو بل ئې نفی کړی. بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ، مخکښې د شرک رد دې او قباحت او هغې نه منع نو د بَلْ نه روستو د توحید حکم شو. کله بَلْ د مخکښې خبرې نه د ترقئ او ډیروالی دپاره هم راځی هغې ته بَل لِلتَّرَقِّی وائې.

## بَلٰی

بَلٰی د مخکښې خبرې او نظریې تردید دپاره راځی، لکه یهودو او نصاری ویل چې لَنْ یَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ کَانَ هُوْدًا اَوْ نَصرٰی نو بَلٰی مَنْ اَسْلَمَ سره پرې رد کوی چې خبره داسې نده نو بَلٰی په مخکښې رد

کوی او صحیح خبره روستو ذکر کوی . او بَلْ صرف د مخکښې نه اِعْراض کوی .

## اَوْ

اَوْ هم قران کریم کښې په ډیرو معنو سره راغلې دې :

(۱) د اختیار ورکولو دپاره لکه د کَفّارو بحث کښې راځی اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ .

(۲) دپاره د شک چې د خبره کونکی شک وی لکه لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ..

(۳) په مخاطب باندې د خبرې پټولو اِبْهام دپاره راځی لکه اتَاهَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا .

(٤) د تقسیم دپاره چې دا مخکښې یو قسم دې او روستو بل قسم دې قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ .

(٥) په معنی د بَلْ لکه اِلى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ .

(٦) په معنی د واو سره يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشى ، اَىْ وَيَخْشى .

## اَمْ

اَمْ قران کریم کښې په ډیرو معنو راغلې دې ځان پوه کول پرې ضروری دی :

(۱) يو راځی په معنی د بَلْ سره چې د مخکښې خبرې رد کوی اِضْرَاب کوی چې د هغې نه خبره راواړوی . لکه قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا اَمْ تَقُوْلُوْنَ ، نو دلته په معنی د بَلْ يعنی بَلْ تَقُوْلُوْنَ .....

(۲) چې د همزې د استفهام نه روستو راشی نو دې سره طلب د تعين کيږی . چې د اَمْ نه مخکښې او روستو کښې يوه ده خو چې کوم ده نو د يو د متعيّن کولو دپاره راځی . لکه وَاِنْ اَدْرِیْ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ .

(۳) چې کله د سَوَآء نه روستو راشی نو د دواړو جملو نه يو شې جوړ کړی مفرد ئې کړی . د جملو مينځ کښې راځی . سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ ، يعنی سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اِنْذَارُکَ وَعَدَمُ اِنْذَارِکَ دې روستو دوو ته اَم متّصله وائې .

## اِمّا

(۱) يو راځی د جائز کولو او روا کولو دپاره چې دواړه کاره روا وی لکه اِمَّا اَنْ تُلْقِیَ وَاِمَّا اَنْ نَّكُوْلَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقی .

(۲) د اختيار ورکولو دپاره لکه اِمَّا اَنْ تُعَذِّبَ وَاِمَّا اَنْ تَتَّخِذَ فِيْهِمْ حُسْنًا .

(۳) د قِسمونو جوړولو دپاره لکه اِمَّا شَاكِرًا اَوْ كَفُوْرًا .

(٤) د اِبهام او خبرې پټ ساتلو دپاره . اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ .

ته به وائې اې طالب جانه چې دا خو ګران شو داسې مه وایه قران د ډیر لوئې ذات کتاب دې ، دیکښې کوم ټکې دې چې د انګریزئ نه ګران دې خو هسې بدنیته کیږی ، بدنیته کیږه مه سبق زوت کړه نرتوب اوکړه صرف دومره ده چې لږ اوږد شو نو څه خبره ده.

## مشق

(۱) هر ټکې او د هغې مثالونه یاد کړئ.

(۲) د هر ټکی مثالونه پخپله د قران نه راوباسئ او د هغې معنی پکښې معلومې کړئ.

## اووه شپیتم سبق

## غَيْرُ ، اِلّا

## غَيْرُ

(۱) غَيْرُ يو په معنی د مغایرت او جداوالی راځی د مخکښې دپاره صفت وی لکه عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ.

(۲) په معنی د اِلَّا باندې راځی د استثناء دپاره دا قران کریم کښې ندې راغلې.

## اِلّا

(۱) اِلَّا يو د استثناء دپاره راځی استثناء جداوالی ته وائي او بهر كولو ته يعنی دا د اِلَّا نه روستو چې وی نو هغه مخكښې نه جدا دې او بهر دې يعنی د هغې د حكم نه بهر دې لكه فَشَرِبُوْا مِنْه اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ديته اِلَّا استثنائيه وائي ، دا يو هغه دې كچرته د اِلَّا نه روستو نه وی نو مخكښې حكم به ټولو ته شامل وی كه اِلَّا قَلِيْلًا نه وې نو بس ټولو به اوبه څكلې وې ديته استثناء متّصله وائي .

(۲) دا بل اِلَّا استثنائيه دې خو په معنی د لٰكِنَّ دې د اِلَّا نه مخكښې هم مستقل كلام وی او د اِلَّا نه روستو هم ځان له خبره وی د مخكښې حصه نه وی . وَلَا يَظْهَرُ عَلٰى غَيْبِه اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَسُوْلٍ ، دلته لٰكِنَّ مَنِ ارْتَضٰى دواړه جدا جدا خبرې دې ديته استثناء منقطع وائي يعنی د مخكښې نه جدا كلام دې .

(۳) اِلَّا په معنی د غَيْرُ صفتی دې يعنی د مخكښې دپاره صفت وی لكه لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ ، يعنی غَيْرُ اللّٰهِ .

(٤) څلور يو اِلَّا دې چې د اِنْ او لَا نه جوړ شوې دې اِنْ نون او لَام ئې يو بل كښې دننه كړې دی اِلَّا تَنْصُرُوْه فَقَدْ نَصَرَه اللّٰهُ .

(٥) په معنی د بَعدُ هم راځی لكه اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُولٰى ، اَیْ بَعْدَ الْمَوْتَةِ الْاُوْلٰى ، دا قران كښې كم دې . او كه تنوين پرې راشی نو اسم دې په معنی د رشتې لكه اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً .

## مشق

(۱) طالب جانه د قران دپاره محنت اوکړه . او دا ياد کړه خه کلک .

۰۲) د اِلَّا مثالونه لس راوباسه چې پوهه شې پرې .

## اته شپيتم سبق

## قَد ، سين ، سوف ، تنوين

### قَدْ

د فعل نه مخکښې چې قَدْ راشی نو کله د لرې ماضی د نزدې کولو دپاره ديته تقريب وائې او کله د خبرې مضبوطولو او کلکولو دپاره وی د تحقيق دپاره او کله چې په مضارع داخل شی نو کله کله د تقليل يعنی لږ والی دپاره هم راځی خو د الله په صفتونو کښې مضارع باندې راشی نو هم د تاکيد او تحقيق دپاره وی او د تکثير يعنی ډير والی دپاره راځی .

### سين وسوف

په مضارع چې سين داخل شی نو نزدې استقبال ترې جوړ کړی او سَوْفَ ترې هم استقبال جوړوی خو لږ لری او کله دا سين د تاکيد او کلکون دپاره هم راځی لکه سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا ... يقينی دا چې ليکم او چې تاء ورسره راشی نو بيا د طلب معنی ورکوی او کله د تاکيد .

## تنوين

تنوين په عربئ كښې ډيرې معنې وركوى كله دا تنوين د غټوالى تعظيم دپاره وى لكه كِتَابٌ اَنْزَلْنه . او كله د سپكوالى دپاره راځى . او كله د ډيروالى دپاره او كله د لږ والى دپاره راځى ، په سوچ سره پته لږى .

## مشق

د قَدْ او سين او سَوْفَ او د تنوين د ټولو پنځه پنځه مثالونه رااوباسئ او معنې ورله معلومې كړئ د استاذ په نګرانئ كښې .

## نهه شپيتم سبق

## مركّب

مخكښې د اسم فعل او حرف بحث تير شو چې د هغې اكثره حصه د مفرد سره تعلق لرلو اوس بحث د مُرَكّب كوو . كوم لفظ چې د دوو يا د زياتو كلمو نه جوړ شوې وى نو هغې ته مركب وائې . هره يو كلمه خپله خپله معنى خائې . لكه اَلْحَمْدُ للّٰهِ ، كِتَابُ اللّٰهِ ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ .

## د مركّب قسمونه

مركب په خپل كور كښې په دوه قسمه دي : (١) مركبِ مفيد ، (٢) مركّب غير مفيد .

(۱) **مرکّبِ مفید**:- د مفید معنی ده فائده ورکونکې چې کوم مرکب اوریدونکې ، مخاطب ته څه فائده ورکړی یعنی چې کله ویونکې چپ شی نو د مخاطب ذهن د نورې خبرې انتظار نه کوی او د خبرې دوه فائدو وی یا د څه نه خبرول ، او یا څه غوختل د څه طلب کول . نو که دې کښې هره فائده اوشی نو دیته مرکّب مفید وائی لکه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ صفتونه د خدائتوب صرف د الله تعالی دی نو څه فائده اوشوه . اُعْبُدُوْا عبادت اوکړئ نو د عبادت مطالبه کوئ نو ده څه طلب اوشو . لَا تُشْرِکُوْا شرک مه کوئ نو د شرک نه د بندیدلو مطالبه اوشوه .

د مرکّب مفید بل نوم مرکّب تام ، کلام او جمله هم دې ، دیته جمله او کلام وائی .

(۲) **مرکّبِ ناقص**:- هغه لفظ ته وائې چې د هغې وئیلو سره مخاطب ته څه فائده معلومه نشی یعنی چې کله ویونکې چپ شی نو اوریدونکی ته څه فائده اونشی او هغه د څه خبرې انتظار کوی . لکه کِتَابُ اللّٰهِ د الله کتاب نو د الله کتاب سره څه اوکړو نو ذهن د اوریدونکی انتظار کوی ، اَللّٰهُ الْغَفُوْرُ الله بخونکې نو څه خبر او طلب نه معلومیږی ، مرکّب ناقص ته غیر مفید ، غیر تام هم وائې .

## مشق

یَوِمِ الدِّیْنِ ، ذَالِکَ الْکِتَابُ ، اُولٰئِکَ عَلٰی هُدًی ، یُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ ، اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ، نَحْنُ نُسَبِّحُ ، یَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ ، لَقَدِ اسْتَکْبَرُوْا ، خَتَمَ اللّٰهُ ، لَهُمْ جَنّتٌ ، هُمْ فِیْهَا خَالِدُوْنَ ، فَوقَهَا ، اُذْکُرُوْا ، نِعْمَتِیْ ،

اَنْعَمْتُ ، عَلَيْهِمْ ، عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، مِنْ قَبْلِهِمْ ، رَبِّ ، رَبُّكُمْ ، جَآءُوْا ، دَعْوَةُ الْحَقِّ ، اَلْمَلِكُ الْحَقُّ ، الْخَالِقُ الْبَارِئُ ، هُوَ الْعَزِيْزُ ، رَسُوْلُنَا ، خَلَقَكُمْ .

پدې کښې د مرکّب قسمونه جدا جدا کړئ .

## اویایم سبق

## معرفه او نکره

د جملې او د مرکّب ناقص د قسمونو د پېژندګلو دپاره د اسم دوه قسمونه معرفه او نکره پېژندل ضروری دی .

اسم په اعتبار د تعین او نه تعین سره دوه قسمه دې . کچرته اسم مقرر شوې وو دپاره د یو معلوم او معیّن دپاره نو دیته معرفه وائې ، معرفة پېژندګلو ته وائې نو دا هم په طریقی سره پېژندلې شوې دې . لکه اللّٰهُ ، الرَّسُوْلُ ، وغیره شو .

او کچرته اسم د داسې څیز دپاره مقرر شوې وو چې هغه معیّن او معلوم نه وو نو دیته نکره وائی نکره ناشنا ته وائې نو دا هم ناشنا وی نامعلوم وی کله رَجُلٌ ، ضَارِبٌ شو .

## د معرفې قسمونه

ټولې معرفې اووه دې د دې اووه نه علاوه ټولې نکرې دی . هغه اووه معرفې دا دې :

(١) چې د کوم اسم په سر کښې الف لام راغلی وو لکه الرّسُوْلُ ، الْحَمْدُ ، الْمَغْضُوْبُ او چې په کوم اسم الف لام راشی نو بیا په هغه تنوین نشی راتلې .

(٢) الاَعلام یعنی د چا دپاره نوم کیدل یا د څه دپاره یا د څه ځائې دپاره نوم کیدل لکه محمّد صلّی الله علیه وسلّم ، علیّ رضی الله عنه ، فاطمه ، مدینة ، مکّة ، قصوی (د نبی علیه السّلام د اوښې نوم) ذوالفقار (د تورې نوم) .

(٣) ضمیرونه ټول ، اَنَا ، نَحْنُ ، وغیره چې کوم تیر شوې دی .

(٤) اسمِ اشارې ټولې لکه هذَا ، ذَالِکَ ، اُوْلئِکَ ، تِلْکَ .

(٥) اسمِ موصول ټول لکه الَّذِیْ ، الَّتِیْ ، الَّذِیْنَ .

(٦) چې د یا د نداء نه روستو راشی لکه یَا قَوْمُ .

(٧) چې یو د دې ته اضافت اوشی یعنی د تیرې اسمونونه مخکښې بې د الف لامو والا یو یا دوه یا زیات اسمونه راشی ، لکه یَوْمِ الدِّیْنِ ، مَالِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ ، دلته یوم هم معرفه ده او مالک هم ځکه چې د الدِّیْنَ نه مخکښې راغلې دې نو د هغه سره رشته راغله نو خو خلقو سره سرې خه شی داسې د بلې معرفې نه مخکښې راشی .

## مشق

(١) دا ټول قسمونه په یاده یاد کړئ پکار به دِ راشی .

(٢) د قران کریم نه پخپله د دې معرفو مثالونه معلوم کړئ .

(۳) د سورة الفاتحة او بقرې دوو رکوع کښې معرفې او نکرې جدا کړئ چې کوم اسمونه معرفه دی او کوم نکره دی .

## یواویایم سبق

### د مرکب ناقص قسمونه

د مرکب ناقص ډیر قسمونه دی چې هغه په کلام کښې استعمالیږی د هر یو ځانله نخې دی او د معنې کولو طریقه ده :

(۱) مرکب اضافی ، (۲) مرکب توصیفی ، (۳) مرکب تعدادی ، (٤) مرکب بدلی ، (٥) مرکب تاکیدی ، (٦) مرکب د جار او مجرور نه .

دا هغه دې چې قران کریم کښې ډیر استعمال شوی دی مونږ د ټولې عربئ ټهیکه نده اغستې .

### مرکب اضافی

اضافت نسبت ته وائی چې کله د یو اسم نسبت بل ته اوشی نو اولنی ته مضاف وائی او دویم ته مضاف الیه وائی لکه کِتَاب یو اسم وو او الله بل اسم وو اوس تا د دواړو رشته جوړه کړه نو کِتَابُ اللهِ دې اووې نو معنی شوه کتاب د الله یا د محاورې معنی د الله کتاب .

په لفظ کښې د دې نخه دا ده چې کله یو اسم وی معرفه او د هغې نه مخکښې بغیر د الف لامو اسم راشی که یو وی او که دوه که درې وی که زیات خو دا به خپل مینځ کښې مضاف مضاف الیه وی .

لكه مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ، ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ ، عَبْدَه دلته ه معرفه ده او عَبْدَ بغير د الف لامو دې نو دا مضاف اليه دې . دا قران كريم كښې ډير استعمال شوې دې . په مضاف تنوين نه راځی او مضاف اليه باندې يا زير وی او يا ياء نون او يا فتحه راځی .

د دې د معنی کولو طريقه دا ده اکثرې ځايونو کښې پدېکښې د راځی او نيمګړی معنی وی لکه كِتَابُ اللّٰهِ د الله كتاب يا كتاب د الله تعالى د په مينځ کښې راغلې او که معنی کښې مضاف اليه ، پدې مرکب کښې به آخره کښې دې يا ندې نه وائی تر څو چې ورسره بل څه نه وی يو ځائې شوی . رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ معنی ده پالونکې د مخلوقاتو ورسره دې مه وايه دا خو تا خبره پوره کړه . او حالانکه دا نيمګړې ده چې کله ورسره بل څه يو ځائې شی نو معنی پوره شی . يوائې نيمګړې وی . چې کله مضاف اليه ضمير وی نو بيا اکثر ځايونو کښې معنی کښې د نه راځی . کله د مرکب اضافی معنی د ترکيب توصيفی پشان کولې شی چې کوم ځائی مضاف او مضاف اليه يو وی لکه دَعْوَةُ الْحَقِّ ، دِيْنُ الْحَقِّ ، رَوْحُ الْقُدُسِ .

## مشق

(۱) د مرکب اضافی مختلف مثالونه د قران کريم نه لس بڅپله معلوم کړئ .

(۲) لاندينې ټکو معنې اوکړئ :

مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ، اَمْوَالَهُمْ ، قُلُوْبُكُمَا ، مُلْكُ السَّموَاتِ ، طَعَامُ الَّذِيْنَ ، رَبُّكُمْ ، رَبِّ ، قَومِ ، عِقَابِ ، نَكِيْرِ ، عِبَادِيْ ، مِنْكُمْ ، دَارُ الْاخِرَةِ ، مِيْثَاقَه ، يَا قَوْمَنَا ، دَاعِىَ اللّٰهِ ، رَبَّ هذِهِ البَلْدَةِ .

## دوه اويايم سبق

## مرکب توصیفی

مرکب توصیفی هغه ته وائی چې دویم اسم د اولنی خه یا بد صفت بیانوی چې د چا صفت بیانوی نو موصوف ورته وائی .

د دې مرکب د پېژندګلو نخه دا ده چې دوه اسمونه راشی او دواړه نکرې وی لکه عَذَابٌ عَظِيْمٌ یا د اسم پسی جمله راشی او جار مجرور ورپسې راشی لکه رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ الِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَه د رَجُلٌ پسې درې صفته راغلی دی . یو نکره دویم جار مجرور دریم جمله راغلې ده . او که دوه اسمونه راشی یو ځائې او دواړه معرفی وی یعنی په دواړو الف لام وی . یا یو اسم اشاره بل ورپسی اسم د الف لامو والا وی یا موصول او ورپسی اسم د الف لام وی دا به خپل مینځ کښې موصوف صفت وی لکه الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ، هذَالْبَيْتِ ، الْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ ، خو چې اولنې پکښې ضمير نه وی لکه هُوَ الَّذِىْ دا اوس موصوف صفت ندی . د یو موصوف دپاره ډیر صفتونه راتلې شی لکه اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ .

د ترکیب صفتی د معنې کولو طریقه دا ده چې د دوئ په معنی کښې دال (ده) نه راځی برغولې به شی او آخر کښې ورسره دې او ندې نه

شی وئیلي . لکه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ . په نوم د الله عام مهربانه او خاص مهربانه . دلته به دې پکښې نه وائي . دغه شان ورپسې فاتحه کښې د الله صفت الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ لار نیغه دا نه چې لار نیغه ده .

کله کله صفت ذکر وی او موصوف ئې نه وی چې صیغه د اسم مفعول او فاعل راشی نو اکثر موصوف غواړی نو کله وی او کله نه وی . وَبِالْاٰخِرَةِ دلته وَبِالدَّارِ الْاٰخِرَةِ بل ځائې قران کریم پوره کړې دې .

کله ترکیب اضافی د ترکیب توصیفی معنی ورکوی اضافت د موصوف صفت ته وی او کله الټه وی اضافت د صفت موصوف ته وی .

## مشق

(۱) سبق کلک یادول چې پېژندل آسان شی .

(۲) د ترکیب توصیفی د قران په خپله لس مثالونه معلوم کړئ او معنی ئې اوکړئ .

(۳) د لاندې ټکو معنې اوکړئ :

اُمَّهَاتُکُمُ الّتِیْ اَرْضَعْنَکُمْ ، بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِه ، عَلٰی رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْیَتَیْنِ عَظِیْمٌ ، الْخٰسِرُوْنَ الَّذِیْنَ یَنْقُضُوْنَ ، نِعْمَتِیَ الَّتِیْ اَنْعَمْتُ ، اَللّٰهُ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ، لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ مٰالِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ ، ذٰالِکَ الْکِتَابُ ، الشَّیْطٰنُ الرَّجِیْمُ ، صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا ، اَجْرًا عَظِیْمًا ، فَتْحًا مُّبِیْنًا ، رَبِّیَ الَّذِیْ یُحْیِ ، اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ .

## درې اویایم سبق

### مرکب تعدادی ، مرکب بدلی

**مرکب تعدادی**، کوم مرکب چې د شمير (عدد) نه جوړ وی بيا کله پکښې مينځ کښې واو وی او کله نه وی لکه اَحَدٌ وَّعِشْرُوْنَ او اَحَدَ عَشَرَ.

د دې نخه آسانه ده چې بس په شمير دلالت کوی خو دوه کلمې وی که نه وی نو هغه مرکب ندې لکه ثَلٰثَةٌ يا عِشْرُوْنَ وغيره شو. د دې د معنې طريقه دا ده چې هغه عدد دپاره په پښتو ژبه کښې کوم لفظ وائې نو هغه په معنی کښې ذکر کړه لکه اَحَدَ عَشَرَ نو دلته يو او لس مه وايه بلکه پښتو کښې يوولس اردو کښې گياره دغه شان نور عددونه شو.

**مرکب بدلی** بدل خو پښتو کښې هم بدلې او عوض ته وائی چې کله د يو لفظ پسی بل لفظ راوړلې شی چې د هغه نه خبره ده ته بدله شی کله دواړه يو شان وی خو وضاحت کوی دويم د اول. لکه الْكَعْبَةُ الْبَيْتُ الْحَرَامُ کښې کَعبة پسی بيت ذکر دې او کله دوې د اول حصه وی يعنی د اول نه څه جزء وی او کله د هغې مخکښې سره څه رشته وی لکه عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْه.

چې کله اول وی نو معنی به په يعنی سره کيږی او د وخت تيريدلو سره پخپله تجربه اوشی دويم اسم ته بدل اول اسم ته مُبْدَل مِنه وائی کله کله مشکل آيت کښې دا ټکی پکار راځی.

## مشق

(۱) سبق خه زوت کړئ او ځان پرې پوهه کړئ.

(۲) لاندې کښې بدل او مبدل منه اوپيژنئ:

بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ، حَتّٰى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ ، مَنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُه ، عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْه.

## څلوراويايم سبق

### مرکب تاکيد او مرکب د جار مجرور نه

چې کله يو ټکې د بل کلکون کوی نو ديته تاکيد وائی چې کوم مخکښې وی نو هغه ته مُؤَکَّد وائې او دويم ته تاکيد او مُؤَکِّد وائی. د دې دواړو ته مرکب تاکيد وائې، دا کله بالکل هغه مخکښې ټکی دوباره راوړی لکه دَکًّا دَکًّا او کله معنی يوه وی او لفظ بدل وی دا خاص ټکې راځی لکه نفس، عين، کلّ، کِلَا، کِلْتَا، اَجْمَع دا د مخکښې دپاره کله تاکيد له راځی، ضميرونو کښې دويم کله اول له تاکيد شی، لکه اِنَّکَ اَنْتَ اوس دا اَنْتَ د اِنَّکَ کښې د کاف تاکيد کوی. فَسَجَدَ الْمَلَائِکَةُ کُلُّهُمْ.

مرکب د جار مجرور نه چې کله حرف جر په چا داخل شی نو د دې معنی هم نيمګړې چې کوم حرف جر وی او کوم ورپسی اسم وی نو د هغه معنی کيږی چې څو پورې بل سره يو ځائې شوې نه وی نو معنی نه پوره کيږی. لکه بِسْمِ اللّٰهِ، په نوم د الله نو خبره نيمګړې ده

دا معنی کښې بل سره تعلّق لری کله هغه څیز وی په کلام کښې او کله نه وی دلته بِسْمِ اللّٰهِ کښې نشته دې نو روسته ورسره راوباسه بِسْمِ اللّٰهِ اَسْتَعِیْنُ په نوم د الله مدد غواړم ، او کله وی لکه اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ دلته عَلَيْهِمْ جار مجرور دې معنی ئې ده په دوئ نو دا نیمګړې ده اَنْعَمْتَ سره اوتړه نو برابر به شی چې انعام کړې دې تا په دوئ نو اوس پوره شوه خبره .

د جار مجرور د ټکو معنی مخکښې تیرې شوې دی .

## مشق

(۱) د دواړو مرکبونو تعریفونه یاد کړئ .

(۲) د دواړو مثالونه د قران کریم نه اوباسئ .

## پنځه اویایم سبق

## د جملې بیان

د مرکب مفید او تام دویم نوم جمله ده او کلام دې . جمله په دوه قسمه ده : (۱) خبریه ، (۲) انشائیه .

## جمله خبریه

جمله خبریه هغه ده چې په هغې د یو کار د کیدلو یا د نه کیدلو خبر ورکولې شی ، لکه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، صفتونه د خدائتوب صرف یو الله

تعالی لره دی . يُؤْمِنُوْنَ ايمان لری دوئ . خَتَمَ اللّٰهُ مهر لګولي دي الله ، لَنْ تَفْعَلُوْا بالکل ئې نشی کولې ، اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِ ، جمله غټه د دوو څيزونه نه جوړيږی مسند او مسند اليه چې کوم پکښې د مشر ، پير مرتبه لری چې د هغه دپاره خبره کيږی د هغه نه څه نفی کولې شی يا ورله ثابتولې شی نو هغه مسند اليه دې او چې کومه خبره وی چې هغه ده له ثابتولې يا نفی کولې شی هغه ته مسند وائې .

## د جملې خبريې قسمونه

جمله خبريه په دوه قسمه ده : (۱) اسميه ، (۲) فعليه .

**اسميه** ديته وائې چې په مقصدې جزءونو د هغې کښې اولنې جزء اسم وی لکه الْحَمْدُ للهِ ، دلته اولنې اسم دې نو دا جمله اسميه شوه دې اولنی جزء ته په جمله اسميه کښې مبتدأ وائې د مسند اليه دويم نوم مبتدا شو يعنی د ده نه خبره شروع کيږی .

د دې علامه دا ده چې کله اول اسم معرفه راشی او هغې پسې بل اسم نکره ، يا جار مجرور يا فعل راشی يا د معرفې پسی ضمير او بيا معرفه راشی يا ضمير ورپسې معرفه راشی نو دا به جمله اسميه وی واللّٰهُ قَديْرٌ ، هُوَ الْاَوَّلُ ، هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ ، اللّٰهُ خَلَقَكُمْ ، هُوَ اللّٰهُ فِی السَّموَاتِ .

مبتدأ په اکثرو ځايونو کښې معرفه وی او خبر نکره وی او کله داسې وی چې مبتدا نکره وی خو څه نا څه تخصيص پکښې وی . يعنی لږوالې پکښې پيدا شی چې څه نه څه فائده اوکړی چې هسې

اووائې چې رَجُلٌ قَائِمٌ نو د دې څه فائده نشته ځکه يو سړې خو خامخواه ولاړ وی . اوس که په رَجُلٌ کښې دا تنوين د غټوالی (تعظيم) دپاره واخلې نو چې يو عزتمند سړې ولاړ دې نو بيا فائده کوی داسې قران کريم کښې ډير وی کِتبٌ اَنْزَلْنه يا نکرې صفت راغلې وی لکه لَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ .

اوس چې د دې معنی کوې نو ګوره چې د دې سر کښې د حرف نفی نه راغلې دې او که نه لکه مَا ، لَا ، لَيْسَ وغيره نو که راغلې وو نو بيا به هغه خبر د مبتدا نه نفی کړې لکه وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ ندې الله ناخبره يعنی غافل ندې ، نو دا غفلت د الله نه نفی شوې دې . او کچرته حرف نفی په خبر راغلې وه نو بيا به د نفی يعنی د نيشوالی معنی د خبر سره وی لکه اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِي يقينًا الله باک نه کوی او که نفی پکښې نه وه نو د خبر شته والې به مبتدا اووائی لکه اللّٰهُ غَفُوْرٌ الله تعالی بخښونکې دې . د جملې اسمې په معنی کښې يوه خاص زمانه نه وی البته هميشوالې د خبر خائې .

کله چې اِنَّ وغيره راشی نو هغه معنی به ورسره کوې او که مينځ کښې کوم حرف د باء ، لام وغيره نه راغلې نو د هغې د هغه ځائې مناسب معنی به کوې .

کله داسې وی چې خبر مخکښې راشی او مبتدا روستو راشی د هغه خپله فائده وی رابشی لکه لِلّٰهِ الْحَمْدُ .

چې د مبتدا نه مخکښې اِنَّ ، مَا ، لَا راشی نو دا هم جمله اسميه وی او د دې ټکو خپله معنی وی لکه اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ .

## مشق

(١) په لاندیني مثالونو کښې مبتدا او خبر معلوم کړئ او د دوئ معني هم په طریقه اوکړئ :

ذَالِکَ الْکِتَابُ لَا رَيْبَ فِيْه ، اُولئِکَ عَلٰى هُدًى ، اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ ، اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ، اللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ، اللّٰهُ لَطِيْفٌ لِّعِبَادِه ، سُورَةٌ اَنْزَلْنٰهَا ، هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ، اللّٰهُ الصَّمَدُ ، لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا الْحُسْنٰى .

(٢) لس جملې اسمیې پخپله د قران کریم نه معلومې کړئ .

## شپږاویایم سبق

## جمله فعلیه

د جملې خبریې دویم قسم هغه جمله فعلیه ده دا هغه ده چې اولنۍ مقصدی جزء د هغې فعل وی . لکه ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا .

د جملې فعلې هم دوه جزءونه دی غټ یو مسند چې هغه فعل وی دویم مسند الیه چې هغې ته په جمله فعلیه کښې که فعل معلوم وو فاعل ورته وائې او که فعل مجهول وو نو نائب فاعل ورته وائی .

د جملې فعلیې د فاعل معلومول ضروری دی د هغې خبره مخکښې د فعل په بیان کښې په اوږدو تیره شوه د دې معنی کولو طریقه هم هلته بیان شوې ده . د فاعل او نائب فاعل نه علاوه د فعل رشته دار نور هم ډیر دی چې مفعول به دې یا له یا فیه چې وجه او ځائې او

وخت خائې کله حال وغيره هم راځي په هغه سره فائده نوره هم زياته شي . د جملې فعليې سره د دې ټولو څيزونو په معنی کښې خيال ساتل پکار دی . کله کله دا څيزونه د اِلَّا نه روستو راشی نو د دې مقصد يو فائده به راشی .

کله د فعل نه مخکښې قَدْ ، سين ، سَوْف ، لَمْ ، لَنْ ، مَا ، لَا راشی دا ټولې جملې فعليې وی د دغه ټکی به ورسره د هغه معنی کيږی .

کله کله د فعل دپاره يو شرط په اِذَا ، اِنْ وغيره سره اووئيلې شی دا د جزاء دپاره شرط او قيد وی نو هغه يا کيږی او يا نه کيږی په دغه شرط سره . بيا که جزاء جمله اسميه او که فعليه وی نو دا شرط د هغې تابع وی .

قران کريم چې کوم ځائې جمله اسميه ذکر کړی نو د هغې معنی د اسمې کول ضروری وی ځکه د جملې اسمې د راوړو خپله فائده وی چې هغه هميشوالې او ثبوت کلکوالې دې . لکه اللّٰهُ غَفُوْرٌ شو او کله چې کوم ځائې قران کريم جمله فعليه ذکر کړی وی نو هغه ځائې به د هغې مناسب معنی کوې ځکه د هغې خپله فائده ده چې تجدّد او حدوث دې تجدّد نوې والی ته وائې يعنی دا کار نوې نوې بيا بيا پيدا کيږی او حدوث چې نوې راپيدا شو . نو نوی پيدا کوی . يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ بخښنه کوی هغه چا ته دا به نه وائې چې بخښنه کونکې دې . دغه شان چې بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ معنی دا ده چې د دې وجې نه چې دروغ به ئې وئېل دا معنی نده چې د دې وجې چې دوئ دروغ ويونکی دی . دا د اسم معنی ده . بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ د دې

وجې نه چې دوئ به عمل کولو ، دا معنی نده چې د دې وجې نه چې دوئ عمل کونکی دی . د دې خیال ساتل پکار دی .

کله جمله فعلیه د مبتدا دپاره خبر راشی نو د هغې به هم دغه شان د فعل معنی کوی اَللّٰهُ یَرْزُقُ الله روزی ورکوی دا به نه وائې چې الله روزی ورکونکې دې ، داسې ډیر راځی خو خیال ساتل پکار دی .

## مشق

(۱) لس جملې فعلي راوباسئ او فعل فاعل او مفعول وغیره پکښې جدا کړئ او مناسب معنې د هغې هم اوکړئ .

(۲) يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ، يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ امَنُوْا ، اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ، جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ، اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ، فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ، اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ، اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا ، وَلَمْ يَجْعَلْ لَّه عِوَجًا ، تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ، خَلَقَ السَّموَاتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ .

## اووه اویایم سبق

## د جملې انشائیی بیان

جمله انشائیه هغه ده چې په هغې کښې د یو کار نوې پیدا کول وی یعنی د هغې مضمون په یو وخت کښې موجود نه وی چې قصه ئې نقل شی . د دې پیژندل آسان دی په ټوله عربئ کښې لس قسمه جملې انشائیی راځی باقی ټولی خبري دی . هغه لس قسمه دا دی :

(١) **اَمر**:- چې د امر صيغه کوم ځائې راشی او چې کومې صيغې دی نو دا انشاء ده لکه اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ .

(٢) **نهی** :- د نهی چې څومره صيغې دی نو هغه انشاء ده لکه لَا تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ شَيْئًا .

(٣) **تمنّا**:- کوم ځائې کښې چې لَوْ او لَيْتَ د ارمان راشی نو دا انشاء ده ، لکه لَيْتَنِیْ كُنْتُ تُرَابًا .

(٤) **رَجاء**:- کوم ځائې کښې چې لَعَلَّ راشی دا انشاء ده لکه لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَالِكَ اَمْرًا .

(٥) **قسم**:- چې کوم ځائې قَسمونه راشی نو دا انشاء ده لکه وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ پديکښې يو قسم دې بل جواب قسم وی يعنی چې کوم مقصد له قسم کيږی .

(٦) **نداء** :- چې کوم ځائې قران کښې آواز الله ته يا قوم يا چا ته کيږی لکه يقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا چې کوم د ياء نه روستو راشی هغې ته منادی وائې او چې کوم مقصد دپاره آواز کيږی هغې ته جوابِ نداء او مقصود د نداء وائی . کله کله دا ياء نه وی ذکر شوی لکه يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ دا به په معنی کښې وی .

(٧) **استفهام** :- چې کوم ځائې همزه د استفهام يا هَل يا اَيْن كَيْف وغيره راشی چې د استفهام معنی ورکوی نو دا انشاء ده ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هذَا .

(۸) **عقود**:- چې كومه معامله كيږی او د كولو د معاملې دپاره كوم ټکی اووئيلې شی لكه نكاح يا سودا په وخت كوم الفاظ وئيلې شی . دا قرآن كريم كښې نشته دې .

(۹) **عرض**:- چې چا ته د يو كار پيشكش كيږی ، لكه اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ .

(۱۰) **تعجب**:- د فعل تعجب چې كوم ټکی وئيلې كيږی هغه انشاء ده ، لكه فَمَا اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ .

ځنې ځايونو كښې امر يا نهی د خبر په معنی وی لكه فَلْيَضْحَكُوْا دا په معنی د خبر دې او كله خبر د انشاء معنی وركوی لكه لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ په معنی د لَا تَعْبُدُوْا نهی باندې دې .

## مشق

(۱) د جملې انشائيې چې كوم قسمونه قران كريم كښې ډير استعمال شوی دی نو د هغې نه په خپل سوچ پنځه پنځه مثالونه اوليكئ .

(۲) د لاندې جملو پيژندګلو اوكړئ او معنی ئې اوكړئ :

لَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا ، فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِه ، اَتَجْعَلُ فِيْهَا ، اُذْكُرُوْا نِعْمَتِیَ الَّتِیْ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ ، فَارْهَبُوْنِ ، لَا تَلْبِسُو الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ ، يَا بَنِیْ اِسْرَائِيْلَ اذْكُرُوْا ، يقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ ، اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ ، كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ ، اَحْسِنُوْا ، وَاتَّقُوْا اللّٰهَ ، رَبِّ اغْفِرْلِیْ ، رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا ، وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ، فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ، لَا تُؤَاخِذْنَا ، وَرَبِّیْ اِنَّه لَحَقٌّ ، فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّه لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ .

## اته اويايم سبق

## قانون د حصر

حصر بندولو ته وائی دیته قصر هم وائی او تخصیص د تخصیص مطلب دا چې یوه خبره داسې په کلکه کول چې کوم ذکر شوې وی هغه پورې بند شی او د نورو نه نفی شی لکه اِيَّاكَ نَعْبُدُ صرف ستا بندګی کوو مونږه . د دې صرف ټکی فائده دا شوه چې دا عبادت بند شو په الله تعالی پورې او نفی شو د غیر الله نه ځکه د دې معنی کیږی چې نَخُصُّکَ بِالْعِبَادَةِ وَلَا نَعْبُدُ غَيْرَكَ صرف ستا بندګی کوو بل چا نه کوو نو حصر کښې دا وی چې یو طرف مثبت وی او بل طرف منفی وی .

## د حصر کولو طریقی

قران کریم کښې به مونږ ده څه نه معلومو چې پدې کلام کښې حصر قصر او تخصیص دې نو د دې غټې څلور طریقی دی :

(۱) **نفی او الّا** . کله چې کوم کلام کښې اول نفی وی بیا اِلَّا راشی نو دا حصر راولی . د دې مطلب دا وی چې کومه خبره د اِلَّا نه مخکښې ده نو هغه د هر چا نه لرې (نفی) شوې ده او صرف دې روستنې له ثابته ده . لکه مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ، لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ، مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ . دلته الوهیت د هر چا نه نفی دې او صرف الله تعالی لره ثابت دې . چې کله د هر څه نه نفی شی نو دیته حصر استغراقی وائی او چې کله د چا مقابله کښې رد کول وی یو څيز او د هغه خیال رد شی او بل

ثابت شی نو دیته حصرِ اضافی وائی لکه مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ چا به وئیل چې نبی علیه السّلام به اِله وی نو دلته الوهیت نفی کړو او رسالت ورله ثابت کړو.

(۲) **انّما** :- دویمه طریقه د حصر هغه اِنَّمَا ده د اِنَّمَا معنی هم د مَا او اِلَّا پشان وې لکه اِنَّمَا اِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ، دلته هم الوهیت صرف الله تعالی لره شو ، ځکه به بخوانو عالمانو معنی کوله چې یقینًا خبره دا ده بله نده . یعنی اله صرف الله دې بل څوک نه . دا هم کله حصرِ استغراقی وی او کله اضافی وی . لکه منافقانو ځان ته اصلاح کونکی وې او د فساد کر نفی ئی کوله . اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ چې مونږ اصلاح کونکی یو فساد کر نه یو . کله کله اِنَّمَا صرف کلکون او تاکید د خبرې له راوړې شی چې یقینی داسې ده حصر له نه وی لکه اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دا نه چې نور حرام نشته دې .

(۳) **تقدیم** ...... د تقدیم مطلب مخکښې کول د داسې څیز چې پکار د هغه راوړل روستو وی لکه مفعول ، جار مجرور ، حال وغیره دا روستو د فعل نه ذکر کول پکار وی ځکه د فعل مثال خو د پیر دې او دا نور ئې مریدان دی . دغه شان خبر په مبتدا مخکښې کول دا حصر او قصر راولی اِیَّاکَ نَعْبُدُ ، دلته اِیَّاکَ مفعول په فعل مخکښې شوې دې نو حصر راولی ، لَه مُلْکُ السَّموَاتِ ، صرف هغه لره بادشاهی ده . دغه شان نور ځایونه هم قرانِ کریم کښې ډیر دی . ډیره خکلې خبره اوشوه .

(٤) **ضمیر فصل**:- چې کله مبتدا او خبر دواړه معرفې وی نو هلته په مینځ کښې اکثر ځایونو کښې ضمیر فصل د جدایئ ضمیر راوړلې

شی دا هم حصر فائده کوی . لکه اُولئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ، نو کامله کامیابۍ صرف په دغه صفتونو واله کښې بنده شوه . اِنَّکَ اَنْتَ الْعَلِیْمُ ، د الله تعالی غونته علم د هیچا نشته دې .

## یو قانون د حصر

د قران کریم یوه قاعده ده چې کله یو کلام ساده ذکر کړی یعنی د دغه مخکښې یو طریقی د حصر نه پکښې نه وی خو دغه خبره بل ځائې کښې د حصر په طریقې سره ذکر وی نو چې کله یوه خبره قران کریم کښې یو ځائې په حصر سره ذکر وی نو هغه نور ساده ځایونه به هم حصر ته راوړوی اګر که ظاهر حصر نه خکاری خو د هغه بل ځائې نه به ورله راولو . لکه اَلْحَمْدُ للهِ ، لَه الْحَمْدُ نو مطلب دا چې د خدائتوب صفتونه صرف د الله تعالی دی نه ده بل چا الْحَمْدُ للهِ عَلی ذَالِکَ .

دویم قانون د حصر دا دې چې یو تړلې کلام وی او د هغې په یو ځائې کښې حصر وی نو هغه ټول کلام به په حصر بنا وی لکه هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَکُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ .... نو مخکښې کَیْفَ تَکفُرُوْنَ آیت او روستو آیت ټولو کښې به حصر وی ځکه هُوَ الَّذِیْ حصر دې . نو ټول کلام کښې به حصر وی .

## د حصر قسمونه

کله چې چا سره خبره کیږی او هغه ستا د خبرې خلاف خیال او نظریه لری او ته هغه روانول غواړې او د هغې په ځائې خپله خبرې

كیخودل غواړې نو دیته قصر قلب وائی . چې ته خبره الټه کول غواړی لکه مشرکانو د غیر په نوم کارونه شروع کول نو بِسْمِ اللّٰهِ کښې پرې رد شو .

او کچرته مخاطب خیال د شرکت لری چې ستا د خبرې سره بل هم شریکوی لکه مشرکانو عبادت د اللّٰه هم کولو او د غیر اللّٰه ئې هم کولو نو قران رد کوی اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِیَّاه دیته قصر اِفراد وائی .

او کچرته مخاطب شکی وی چې څه اوکړو نو د تعین دپاره چې کوم قصر هغه ته قصر تعین وائی چې شکی وی دا مومنان به کامیاب شی او که نه نو اُولئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ .

## مشق

(۱) د قصر تعریف یاد کړئ ؟

(۲) حصر په څو طریقو سره راځی ؟

(۳) حصر استغراقی او اضافی څه ته وائی ؟

(٤) د حصر قسمونه کوم کوم دی .

(٥) د قران کریم د هرې طریقې د حصر پنځه پنځه مثالونه معلوم کړئ او خپل استاذ ته ئې واوروئ ؟

## نهه اویایم سبق

## تاکید او تاسیس

تاکید کلکون ته وائي . کله چې اوریونکی د قران کریم خالی ذهن لری یعنی زړه ئې صفا تختۍ وی او هغه د خبرې نه منکر نوی او نه په هغې کښې شک لری نو هغه ته ساده خبرې کولې شی بې ده څه کلکون نه لکه مشرکان د الله تعالی د خالقیت نه منکر وو او نه ئې پکښې شک وو نو ساده خبره ورته وائی . چې خَالِقُ كُلِّ شَئٍ . او کله چې په کومه خبره کښې شک لری او یا ترې انکار کوی نو بیا هغه ته خبرو کلکه او سخته کولې شی دیته تاکید وائی . تاکید چې د جملې وی لکه اِنَّ او اَنَّ ، مبتدا او خبر دواړه معرفه کیدل او کله اِنَّمَا هم د جملې تاکید کوی دې سره چې په جمله کښې کومه خبره وی نو د هغې کلکون وی . لکه اِنَّا مَعَكُمْ یقینی مونږ تاسو سره یو چې کوم د تاکید څیزونه دی نو د هغې ترجمه کول ورسره ضروری دی . کله چې د مبتدا خبر فعل وی او فعل کښې ضمیر وی چې مبتدا ته راجمع وی نو دا هم تاکید راولی .

کله کله صرف د یو څیز تاکید لکه دَكًّا دَكًّا هغه خبره دوباره شی کله جمله دوباره شی لکه اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ، نو دا دوباره راتلل د کلکون دپاره وی چې که زړه کښې څه خدشه وی نو هغه ختم کړی . کله یو آیت یا جمله په بل ځائی کښې دوباره راوړی نو دا کله تاکید له وی او کله تاسیس لره .

تاسيس د تاسيس مطلب دا دې چې خبره دوباره ذکر شي يا په هغه طرز يا په بدل طرز نو چې پکښې نوى فائده وى نو هغې ته تاسيس وائى . نو چې نوې فائده نوى نو تاکيد شو . او عالمان ذکر کوى چې تاسيس اولى دې د تاکيد نه يعنى چې يو جمله کښې دوه معنې وى يوه دا وى چې دا د مخکښې تاکيد دى او بله دا وى چې پکښې نوى فائده خائې نو دا تاسيس شو او دا اولى معنى به اولى وى .

## مشق

(١) تاکيد څه ته وائى ؟

(٢) تاکيد په څه سره کيږى ؟ او کله به کولې شى ؟

(٣) د تاسيس څه معنى ده ؟

(٤) يو څو مثالونه د ساده کلام او د تاکيد والا کلام ذکر کړئ ؟

## اتيايم سبق

## التفات

د نظر اړولو ته التفات وائى . په خبرو کښې چې خبره په يو انداز شروع وى او انداز بدل کړى د يو طريقې نه بلې ته بدله شى لکه اول خبره شروع د غائب په طريقه بيا خبره خطاب يا تکلّم ته بدله شى ديته التفات وائى . دا په کلام کښې خکلا پيدا کوى . لکه مثال

په سورة فاتحه کښې الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعلَمِيْنَ دا خبره شروع د الله صفتونه بيانوی خو ظاهر اسم ئې ذکر کړې نو غائب باندې خبره ده ځکه نوم خلق هغه چا ته ذکر کوی چې ورته خکاری نه نو ورپسی اِيَّاکَ نَعْبُدُ سره الله تعالی سره خبرې شورع کړی نو خبره خطاب ته بدله شوه . دغه شان سورة الکوثر کښې اِنَّا اَعْطَيْنکَ دلته اِنَّا او اَعْطَيْنَا دواړه د متکلم انداز دې او فَصَلِّ لِرَبِّکَ ئې نو ظاهر کړو فَصَلِّ لَنَا ئې او نه وې نو خبره غائب ته بدله شوه . داسې قران کريم کښې ډير دی . پدې کښې ډيرې فائدې دی .

عامه فائده چې کلام کښې حسن راشی او بل سړې چې په يو طريقه خبره روانه وی نو ستړې کيږی لکه په خوراک سړې ستړې شی چې بدل شی نو ستړې والې ختم شی او بنده ورته تازه شی او اوريدونکی ته د سوچ دعوت شی . په خاصو ځايونو کښې خاصې نکتې وې چې هغه په درسونو کښې شوق راځی لکه فاتحه کښې چې کله د الله تعالی صفتونه موحّد بيان کړل نو زړه کښې شوق راغې چې خبره ورسره کوم نو خطاب ئې ورسره شروع کړو . داسې په قران کښې ډير دی او هر ځائې خپله نکته وی .

## مشق

(۱) د التفات مطلب ياد کړئ التفات څه ته وائی .

(۲) په التفات کولو کښې څه فائده ده ؟

(۳) د قران کريم نه په خپل سوچ يو دوه مثالونه پيدا کړئ ؟

## يواتيايم سبق

### اسلوب الحكيم

اُسلوب طريقې او طرز ته وائی او حکیم هغه ذات ته او کس ته وائي چې د هر څيز او خبرې مناسب ځائې پيژنی نو حکيمانه طرز او انداز ته اسلوب الحكيم وائی . قران کریم کښې داسې انداز دې ځکه چې قران د حکیم ذات حکیم کتاب دې کله به خبره په يو انداز روانه وی فورًا طرز بدل کړی ځکه قران کریم دیته نه ګوری چې اودس پسې مونځ او مونځ پسې دعاء داسې نه کوی بلکه ګوری اوس خلقو ته د کومې خبرې ضرورت دې او د دوئ د کومې خبرې ضرورت دې او د دوئ فائده په څه کښې ده . لکه مسائل تپوس کونکې د يو خبرې تپوس اوکړی او جواب ورته د بلې ملاؤ شی نو قران دا نه وائی چې د سائل سوال د څه دې او جواب ورله د هغې پشان پکار دی بلکه قران کریم وائی چې د دې تپوس کونکی فائده په څه کښې ده لکه يَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ قُلْ مَا اَنْفَقْتُمْ .... دلته سوال کوی چې څه خرچ کړو او جواب کښې ورته د خرچ ځائې خائې نو دلته د سائل مفيد څيز خائې . چې فائده د سائل پکښې ده . نو مخاطب د يو څه انتظار کوی او خبره ورته د هغه سوچ نه بدله اوشی پدې طرز کښې د مخاطب فائده ده .

د پيغمبرانو سره د قومونو په سخته لهجه خبرې کول او د انبياء عليهم السّلام د تسلئ جوابونه دا هم اکثر د دغې طرز سره تعلق لری .

دا قران کښې د زيات بصيرت سره تعلق لرى . د تعلق او شغف د قران نه به ږځپله معلومه شى . الله دِ مونږ په قران صحيح طريقى سره پوهه کړى .

## دوه اتيايم سبق

### حقيقت ، مجاز ، کنايه

حقيقت ديته وائې چې کوم ټکى د کومې معنې دپاره مقرر شوې وى او هم په هغې کښې د هغې استعمال اوشى لکه قتل د وژلو دپاره مقرر شوې دې او فَاقْتُلُوْهُمْ کښې هم د دغې دپاره استعمال شوې دې نو دا حقيقت دې . دغه شان شريعت کوم ټکې د کومې معنى دپاره مقرر کړې دې او هم په هغې کښې د هغې استعمال اوشى . لکه صَلوة د مونځ دپاره شريعت مقرر کړې دې او هم په هغې کښې د هغې استعمال شوې دې . اَقِيْمُو الصَّلوةَ .

مجاز ديته وائې چې کوم ټکې د کومې معنې دپاره مقرر شوې دى او هغه معنى پرېخودلې شى او د هغې مناسب بله معنى کښې هغه لفظ استعمال شى هغه بله معنى د هغه خپلې معنې سره څه نا څه مناسبت لرى کله هغه مناسبت د تشبيه په طريقه وى لکه خلق کم عقل ته خر او بهادر ته زمرې وائى نو دا مجاز دې او کله داسې نه وى خو د دواړو معنى څه بل مناسبت وى لکه آسمان رااوريدلو نو مراد ترې باران وى . نور ډير مناسبتونه وى .

كنايه پټوالی ته وائي لفظ خپله معنی کښې استعال شوې وی خو دغه معنی مراد نه وی پدې کښې پټې بلې معنې ته اشاره وی یعنی سمي د بوسو لاندې اوبه بوتلل وی پدیکښې ډیرې فائدې وی . لکه كَانَا يَأْكُلنِ الطَّعَامَ ، دواړه به ډوډئ خوړله اوس دلته ظاهرې معنی کښې پټه اشاره ده د بیت الخلاء استعمال او قضاء حاجت ته . خو الله تعالی کریم ذات دې نو اشارې کوی . داسې قران کریم کښې ډیر راغلې دی .

پدې باندې بیا عالمانو کتابونه لیکلی دی . خو د دې ټکو په مطلب ځان پوهه کول ضروری دی .

## درې اتیایم سبق

## زیادت او حذف په قران کښې

په قران کښې زیات ټکی شته او که نه ؟ دا مستقله مسئله ده د شاه انور شاه کشمیری رحمه الله د مشکلات القران په مقدمه کښې مولانا بنوری رحمه الله تعالی پدې ډیر بحث کړې دې او دا وائی چې قران کښې زیات ټکی نشته دې .

څما محترم او حوږ استاذ شیخ الاسلام علامه ولیّ الله کابلګرامی رحمه الله تعالی به فرمائیل چې تفسیرونه دا اولیکی چې دا ټکي زیات دي نو د دې مطلب دا نه وی چې د دې څه فائده نشته دې خو د دې مطلب دا وی چې که دا ټکي نه وی او لرې کړې شی نو په معنی کښې څه نقصان نه راځی . البته چې اوس دې ځائې ذکر

شوې دې شی نو فائده ئې شته دې . کله کلکون راولی کله مبالغه راولی . نو داسې زیاتوالې په قران کښې چې څه فائده پکښې نه وی نو دا قران کښې نشته دې . وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ کښې تفسیرونه وائی چې باء زائده ده یعنی که نه وی نو نقصان نشته البته چې شته نو معنی اوکړه چې ندې الله تعالی معمولی هم ناخبره .

حذف او تقدیر دیته وائې چې یو ټکې قرآن کښې نوی ذکر شوې او په معنی کښې مراد وی دا نده چې دا په قران کریم کښې کمې دې بلکه هغه انتهاء ئې خکاره کوی نو په لږه توجه سره هغه معلومیږی نو قران کریم د اوریدونکی د ذهن په اعتماد هغه ذکر نه کړی او بل دا چې عموم پیدا کړی نورې هم په نه ذکر کولو کښې ډیرې فائدې وی نو دیته حذف او تقدیر وائی .

دا دواړه په قران کریم کښې لوئ باب دې عالمانو پدې هم کتابونه لیکلی دی چې کوم ټکی حذف وی او کم زائد وی .

## څلوراتیایم سبق

## د فعلونو صلې

عربي ژبه سم دریاب دې او بیا د قران کریم به څه وائی د علّام الغیوب کتاب دې . یو فعل به وی او کله یو شان معنی ورکوی او کله بل شان د فعل نه روستو حروف جارّه راځی کله باء کله اِلی کله علی کله مِنْ دې سره لازمی فعل متعدّی شی یعنی اوس ئې هغه مفعول شی دا په عربئ ژبه کښې لوئ باب دې او د صلې سره معنی بدلیږی

لکه عربئ کښې قَالَ شو نو قَالَ لَه ، قَالَ عَلَيْه ، قَالَ فِيْه ، قَالَ بِه ، قَالَ مِنْه د هر يو جدا جدا معنى ده . دې ورپسې حرف ته کله صله وائې داسې وائې چې د جَآءَ په صله کښې باء راغلې ه ، نو د دې صلې سره معنى بدليږى ځوک چې د دې صلې نه خبر نه وى نو هغه د حرف هغه معنى کوى چې کومه ئې راغلې وى حالانکه هر ځائې هغه معنى نه وى لکه جَاءَ بِه ځنې د باء معنى دا زده کړې ده چې په دې نو د جَاءَ بِه معنى کوى چې راغې پدې اوس دلته باء جَاءَ متعدى کړو نو جَآءَ بِه رائ وړو دا . دغه شان ضَحِکَ مِنْه ظاهره معنى ځنې دا کوى چې وې خاندل د ده نه دا غلطه ده بلکه مطلب دا چې وې خاندل پده پورې . غرض دا دې چې صلې سره معنى ډيره خکلې کيږى خو ځان پرې پوه کول ډير ضرورى دى . د ماهرو استاذانو په نګرانئ کښې ترجمې کولو سره دا زده کيدې شى .

## پنځه اتيايم سبق

## مُرادِف او مُشتَرَک

قران مجيد کښې کله داسې وى چې ټکى ګنړ وى او معنې ئې يوه وى يعنى يوه معنى په مختلفو ټکو خکاره کړې شى ديته تَرادُف وائې او لفظ مُرادِف وى ديته مرادِفات او مترادِف الفاظ وائى . لکه جَآءَ ، اَتى ، قَعَدَ ، جَلَسَ ، دا هم عالمانو خوارئ کړى دى چې پدې کښې هم فرقونه وئيلى دى خو مونږ ته ظاهر کښې يو خکارى دا د قران کمال دې چې يوه خبره په مختلفو ټکو ذکر کړى چې خلق د اوريدو نه ستړى نشى .

اشتراک ، قران کښې داسې هم وی چې یو ټکې وی او د هغه معنې ګنړې وی یو ځائې کښې یوه معنی ورکوی بل ځائې بله معنی ورکوی دیته اشتراک وائې . او هغې لفظ ته مشترک وائی . دا هم په قران کریم کښې اهم باب دې دا نه چې هر سور ګیرې شاګل وی . د دې وجې نه ځنې خلق هغه ګمراه شی لکه کافرو ته هم وائی أُولئِکَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ او نبی علیه السّلام ته هم وائی چې وَوَجَدَکَ ضَآلًّا فَهَدی نو دا چې یو شان منی نو خطا شی او بې لارې شی . نو پدې کښې فرق کول ضروری خبره ده مشترک الفاظ قران کښې ډیر دی ، او د هر ځائی سره ئې خپله معنی وی .

## شپږ اتیایم سبق

### د وقفونو بیان

قران کریم کله خبره د مخکښې سره تړی نو خبره تړلې روانه وی نو دا کله په حرفونو سره اوتړی لکه واو ، فاء ، ثُمَّ وغیره شو دیته وَصَلْ وائی او کله دا نه وی خو هغه ځائې د تفسیر عالمانو څه نخه کړی وی چې دې ځائی د مخکښې سره تړل پکار دی کله لَا ، کله صَل ، صلې وغیره اوکړی چې پته اولږی چې دا د مخکښې سره تړلې خبره ده . او کله د مخکښې نه خبره جدا کول پکار وی چې هغه ځائې اودریږی نو خبره پوره شی دیته فَصل وائې یعنی د مخکښې نه جدا کول وائې او اودریدلو ته وقف وائی دا د تفسیر او وضاحت د معنې سره ډیر لوئې تعلق لری . قران کریم کښې چې کوم د وقف علامات دی دا اصل کښې د تفسیر او معنی سره تعلق لری کله خبره د مخکښې

مکمله جدا کړی کله پکښې دواړه جائز وی تړل او جدا کول نو معنی هم مختلفې راځی لکه قِ صلې چې ليکلی وی نو تړل او جدا کول دواړه جائز وی خو تړل اولی وی نو د جدائۍ صورت کښې يوه معنی وی او د تړلو صورت کښې بله معنی وی .

دغه شان قران کريم کښې کله جدا کول ضروری اودريدل ضروری نو خائی چې دا مخکښې سره تړلو کښې معنی غلطيږی لکه وقف لازم چې کوم ځائې کښې وی روستو دواړه سره لږی . لکه فَاَصْبَحَ مِنَ النّدِمِيْنَ مِنْ اَجْلِ ذَالِكَ ، كَتَبْنَا عَلَى بِنِیْ اِسْرَائِيْلَ ، نو دا مِنْ اَجْلِ ذَالِكَ د مخکښې او روستو دواړو سره لږی .

عرض دا چې علم د وقفونو دا د تفسير سره لوئی تعلق لری چې په هغې سره مقصد د آيت معلوميږی او ځان پرې پوهه کولې شی .

## اووه اتيايم سبق

## اُذْكُرُوْاللّهَ او سُبْحَانَ اللهِ

عام طور ذکر خلق ديته وائی چې په تسبيحو يعنی د تسفو په دانو باندې د الله ياد اوکړې شی نو بيا د هغې دپاره مجلس تياروی او په زوره زوره باندې ذکر کوی او اُذْكُرُوْ اللّٰهَ دا معنی کوی او دغه شان د فَاذْكُرُوْنِىْ اَذْكُرْكُمْ او دغه شان د حديثونو هم دا معنې کوی . خو چې کله قران اوکتلې شی نو ذکر معنی ده په سختو تکليفونو او مشکلاتو کښې صرف الله تعالی ته رامدد شه وئيلو ته قران ذکر وائی لکه وائې :

اُذْكُرُوْ اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا وَّسَبِّحُوْه بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا .

دلته د ذكر سره تسبيح راوړه چې الله د شريكانو او حصه دارونه پاک اوګنړه دغه شان فرمائى :

اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَه اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ .

دلته د ذكر سره د وحدة لفظ راوړې دې . نو الله ته په حاجاتو كښې رامدد شه وئيل او صرف هغه رامدد كول دا ذكر دې . د دې ذكر دپاره انبياء كرام راغلى وو او د دې د عوت ئې وركولو .

## سبحان الله

تسبيح پاكوالى ته وائي . نو د هر چا پاكوالي د هغه د شان مطابق وى د هر څيز مناسب د هغه صفائى وو د الله تعالى د شان مطابق پاكى دا ده چې الله تعالى د هر عيب او نقصان نه پاک اوګنړلې شى او دغه شان د شريكانو حصه دارو وزيرانو سفارشيانو نه الله تعالى پاک اوګنړلې شى . د قران تسبيح دا ده . او حمد ئې دا دې چې الله تعالى په ټولو كمالاتو باندې متّصف ګنړل يعنى صفات د خدائتوب صرف الله تعالى له منل حمد دې نو ګويا تسبيح لَا اِله دې او حمد اِلَّا الله دې نو تسبيح او حمد چې يو ځائى شى نو لَا اِله اِلَّا الله شو .

## اته اتيايم سبق

محترمو لوستونكو تير كتاب د لفظى ترجمې دپاره مدد كونكې دې صرف يو خدمت دې الله دې قبول كړى او يو ناقص كوشش دې

کیدیشی که خواری اوکړې شی نو د الله تعالی په کتاب کښې به څه مدد ملاؤ شی .

خو پدې باب کښې بهترین مدد کونکې هغه ماهر استاذ یا د ماهرو استاذانو سره پاتې ماهر شاګرد دې نو د دې کتاب سره سره د ماهر استاذ شاګردی ډیر ضروری ده .

او ورسره که څوک چا ته ترجمه وی نو هغه له مطالعه کول ډیر زیات ضروری دی بغیر د مطالعی نه د چاته درس او ترجمه نه کوی د ماهرو خلقو کتابونه دِ ګوری . کچرته درس کونکې په عربئ کښې ماهر وی نو د تسهیل او د خازن ترجمه د استاذانو د وینا مطابق ډیر مفید دی او کچرته په عربئ نه پوهیږی نو اردو کښې د شیخ الهند ترجمه دغه شان د شاه عبد القادر رحمه الله تعالی او د علامه محمد حسین نیلوی رحمه الله تعالی ترجمه او په پښتو کښې افضل التراجم د شیخ القران شاه پور ، فتح الرّحمن د شیخ عبد الجبار صاحب او رضیة التراجم د امیر محترم او د قائد محترم په باب د لفظی ترجمه کښې مفید دې .

انتهائې خواری د الله تعالی په کتاب کښې پکار ده بیا هم چې قران ملاؤ شی نو دا خواری هیڅ هم نده .

آخر کښې دا دعاء کوم چې الله تعالی څما او څما د داجی او مور بې بې ، او رونړو خویندو ، او د اهلیې او نورو رشته دارو ټول ګناهونه معاف کړی الله دِ ټول مومنان معاف کړی الله دِ مسلمانان متّفق او متحد کړی الله تعالی څما د جیل ملګری ټول رها کړی کومو

ملګرو چې ځما خدمت کړې دې د جیل په سختو زندګۍ او عالمانو چې ځما حوصله افزائی کړی ده پدې لیک کښې الله دِ ټول رها کړی د خپل دین داعیان او خادمان دِ الله اوګرځوی . کوم ملګری علماء استاذان همزولی او کشران او ځما رونړه خویندې چې ما پسې ګرځی او منډی وهی او محنتونه او دعاء ګانی کوی الله تعالی د هغه مرسته او مدد اوکړی او الله تعالی د زړه حاجتونه پوره کړې او د دې کتاب هر قسم خدمت کونکی دِ الله په دنیا او آخرت کامیاب کړی او د زړه مرادونه دِ الله تعالی پوره کړی . او الله تعالی د جواهر القران د خپلی رضا او محبت مرکز اوګرځوی او الله دِ د هغې خادمان طلباء علماء عوام په عالَم اوځلوی الله دِ ځمونږ نه رضا شی او دا لیک دِ د خپلی رضا سبب اوګرځوی او الله دِ پری مسلمانانو رونړو له فائده ورکړی . آمین یا ربّ العلمین .

سبحنک اللّٰهُمَّ وبحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب الیک .

**تمّت بالخیر**

مجتبی عامر بن عبد المتین ، حالًا اسیر یرجو الخلاص